دافغانستان اسلامی جمهوریت
دلوړو زده کړو وزارت
دننګرهار پوهنتون
دحقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# د افغانستان معاصر تاریخ

ترتیب کوونکی: پوهیالي استاد محمد جمال ( شینواری )

د محصل نوم :

## عصمت سلیم فوټو کاپي

د اړیکو شمیرې: 0784040014 / 0777002052

آدرس: د کابل – جلال آباد لویه لار، د ننګرهار پوهنتون محصلینو دروازې ته مخامخ

بسم الله الرحمن الرحيم

## مقدمه

په (16) میلادي پیړۍ کې د ماورالنهر د ازبکې د ایران د صفوي او هندوستان د بابري (مغلي) دولتونو په لاس د افغانستان د تجزیې او د افغانستان په مشرقي جبهه کې د بابري دولت په مقابل کې د ازادۍ لپاره د خلکو لخوا د سیاسي اوږدې مبارزې څخه وروسته نوبت په جنوب غرب کې د ازادۍ غوښتونکو تحریکونو ته ورسید بلاخره دې تحریکونو دیو انقلاب شکل غوره کړ چې د هغې په نتیجه کې د صفوي دولت نفوذ له منځه لاړه. په قندهار کې د غلجیانو (هوتکیانو) او په هرات کې د ابدالیانو مستقیل دولتونه منځته راغلل او هم ایران بلاخره د قندهار د غلجیایې دولت لخوا ونیول شو، اما د دې سیاسي انقلاب عمر یعنې په (1709) میلادي کال کې د میرویس خان د قیام څخه تر (1738) میلادي کال کې د نادر افشار د حملې پورې، نظر دیو ملت تاریخي عمر ته ډیر لنډ او عبارت دی (30) کالونو څخه سره له دې چې دي (30) کلنی دوری افغانستان په فرهنګ، اقتصاد، او تمدن کې کوم بدلون منځ ته رانه وړ آما د هغوي فتحو او ماتو له کبله چې دي دوری ولید، دادوره په افغانستان کې د لوی سیاسي بدلون مقدمه ثابته شوه چې هغه عبارت وه په (18) میلادي پیړۍ کې د احمدشاه بابا په واسطه افغانستان د معاصر افغانستان د ایجاد او تشکیل څخه.

احمد خان د ابدالیانو د قوم پورې ارتباط لرې په یقیني انداز کې په (1723) میلادي کال کې د هرات په ښار کې پیدا شوی، پلاریې زمان خان او نیکه یې دولت خان او مور یې زرغونه بي بي نومیده چې د الکوزیود قوم پورې مربوط وه دولت خان چې په قندهار کې د خپل قوم د مشرۍ یا ریاست دنده په غاړه درلوده د ګورګین لخوا شهید شو او کورنۍ یې د قندهار څخه فراري شوه چې وروسته له ډیرې سرګردانی اول په فراه او بیا په هرات کې میشته شو.

چې بالاخره زمان خان په هرات کې د خلکو حکمران شو اما د احمد خان د پیدا ایښت څخه لږه موده وړاندې وفات شو. باید وویل شي دلته باید ذکر کړو چې د احمد خان د پیدا ایښت دنیټې او ځای په هکله د تاریخ پوهانو ترمنځ اختلاف نظر موجود دی، ځني وایې چې احمد خان په (1722)م کال پیدا شوي او بعضي وایې چې د احمد خان د پیدا ایښت ځای ملتان دی خو صحیح خبره داده چې نوموړی د هرات په ښار کې پیدا شوي.

د زمان خان د مړینې څخه وروسته د هغه مشر زوی ذولفقار خان د هرات حاکم تعین شو احمد خان او موریې زرغونه بي بي د ذولفقار خان سره اوسیده په (1735) میلادي کال کې نادر افشار په هرات حمله وکړه او هرات یې ونیوه ذولفقار خان د خپلې کورنۍ سره قندهار

ته راغی چې هلته دشاه حسین هوتک لخوا بندیان شول په هرات کې دابدلیانو زیاتره مشران دنادر افشار لخوا ووژل شول،نادر افشار په (1737) میلادي کال کې په قندهار حمله وکړه او قندهار یې ونیوه په قندهار کې دهوتکیانو زیاتره مشران ووژل او زوړ ښاریې مکمل وران کړ اود نوموړی ښارجنوب خواته یې دنادر اباد په نوم یو قلعه جوړ کړه.

په(1738) میلادي کال کې ذولفقار خان او احمد خان یې دبند څخه خلاص او مازندارن ته تبعید کړه او هلته یې ذولفقار خان دزهر و په واسطه وواژه،دا چې نادر افشار دافغانانو دشجاعت او جنګی مهارت په رابطه پوره معلومات درلوده نو ددی منطقی په رابطه یې خپله پالیسی بدله کړ. او یو(41000) یوځلویښت زره کسیز فوځ یې چې دهزاره، ازبک، تاجک او پښتونو څخه جوړه شوی وه،دعبدالغنی خان الکوزی او نور محمد خان په مشری تشکیل کړه نور محمد خان ته یې دمیرافغان لقب ورکړ او دهمدی فوځ په مرسته یې دغزنی او کابل په لور حرکت وکړ دغزنی او کابل دنیولو څخه وروسته یې په همدی کال بدخشان، بلخ، میمنه، او د امو د دریاب پوری سیمی ونیولی.

په (1739) میلادي کل کې په پیښور، پنجاب، سند او ډهلی هجوم یوړ اویدی کامیابه دهجوم کی یې ( $7\frac{1}{2}$ ) میلونه پونډه طلا،جواهرات، نقدي پیسی د کوه نور الماس په شمول لاسته راوړو او کله چې په (1740 ) میلادي کی کال کې فاتحانه قندهار ته راستون شو، احمد خان یې د مازندران څخه قندهار ته راوغوښت اوپه فوځ کې شامل کړ داچې احمدخان ډیر زیرک بااحساسه او د ښو اخلاقو خاوند وه ډیر زریې ځان نادر افشارته نږدی کړ نوموړی د نادر افشار د څنګ څخه دیو نظامی مدرسی په حیث استفاده وکړه نظامی تکتیکونه یې زده کړل او ددی ترڅنګ یې د جغرافیوی موقعیتونو په ارتباط په دقیق ډول مطالعه وکړه او هم یې وکولای شول چې دنادر افشار داعتبار وړ وګرځی.

آما کله چې نادر افشار له یوی خواد عثمانی ترکیی سره یو ځل بیا په جنګونو کې ونښت اودبلی خوا په داخل کې دخلکو دبغاوتونو سره مخ شو نودابغاوتونه یې په ډیر شدت او وینی تویولو خاموشه کړ، پدی هکله یې د ډیر افراط څخه کار واخست ډیر بیګناه خلک یې ووژل دکرمان خلک یې قتل عام کړل په مشهد کې د مړو له سرونو څخه منارونه جوړ کړل، دي کارونو دده په رابطه په خلکو کی نفرت پیدا کړ او په خپله په ده باندی هم تاثیر وکړ او عصاب یې دعادی حالت څخه خارج شول حتی تردی پوری چې خپل زوی او ولیعهد یې په یو معمولی اشتبا ړوند کړ چې رضا قلی نومیده وروسته کله چې پښیمانه شو دخپل اضطراب دتسکین لپاره یې ټول هغه کسان چې دهغه دځوی د ړوندولو په ورځ موجود و او د هغه لپاره یې عفه نه وه غوښتی په قتل ورسول، ددی څخه وورسته نادر افشارتر هغه

چې وژل کېده دعصبي ناقراری په حالت کې قرار درلود او وروسته یې غوښتل چې دخپل فوځ ټول ایراني افسران او اشخاص ووژني همغه و چې دفوځ په داخل کې دهغه په ضد یو نظامي سازش جوړ شو چې دهغه مشري محمد خان قاجار، موسی خان افشار، محمد قلی خان، خواجه بیک او صالح خان په غاړه درلوده او (70) نفره نور داوطلب هم پدې پاڅون کې شامل و د نادر افشار ددوی لخوا دیکشنبې په شپه دجماد الاخر په (۱۱) نیټه (۱۱۶۰) کال هـ ق ووژل شو.

که څه هم نادر افشار ډیر ظالم سړی وه اما ددی باوجود داحمد خان غوندی ستر شخصیت دهغه د نیکو یاد ګارونو څخه دی. دنادر افشار دمرګ څخه وروسته فوراً احمد خان او میرافغان خان دافغاني فوځونو سره یوځای حرم سرای ته داخل شول اود نادر افشار کورنی یې کودتاچیانو دتجاوز او لاس غزوني څخه خلاصه کړه چې ددی خدمت په بدل کې دنوموړی کورنۍ لخوا دکوه نور مشهور الماس احمد خان ته ورکړل شو، چې د افغاني لودیانو څخه بابریانو ته او د بابریانو څخه وروسته په هغه وخت کې نادر افشار ته په لاس ورغلی و، چې په هند یې هجوم وکړ.

وروسته احمدخان او نورمحمد خان (میرافغان) فوراً د هرات له لاری قندهار ته ستانه شول او بالافاصله یې د شیرسرخ په زیارت کې چې دنادر اباد د قلعې ترخنګ واقع ده (1747) میلادي کال یو ملی جرګه جوړه شوه چې ددی جرګې مشهور مشران عبارت و له (میرافغان خان غلجایې، محبت خان پوپلیزایې، موسی خان اسحق زاي، نصرالله خان نورزای، حاجی جبارخان بارکزای، میرنصیرخان، احمد خان ابدالی) او داسی نور ؤ. دی جرګې متواتری (8) جلسې وکړې خو ډیر مهیمه او پر شوره یې اتمه جلسه وه، اول ځل یې نور محمد خان غلجایې دپادشاهي لپاره پیشنهاد کړ ځکه چې نوموړی ډیر تجربه کاراوهم یې دقومي اثراورسوخ خاوندو ماد ذشت مزاج خاوند وه نو ځکه انتخاب نشو. دوهم ځل لپاره حاجي جبار خان بارکزی پیشنهاد کړ خو هغه هم دځینو ملحظاتو په بنا انتخاب نشو دجرګې ټول کډون کوونکې داکوشش کاوه داسی یو سړی پیداکړی ترڅو دافغانانو دمزاج سره برابر وی او هم خپل ملت ته وفاداروي ترڅو په اینده کې په خپل قوم ظلم ونکړی او هم باقدرت اوهوښیار شخص وي، څرنګه چې ددوي ترمنځ په یوشخص باندی اتفاق نه راته نو دوي دفیصلي لپاره یو منځګړی وټاکه چې دامنځګري د شیر سرخ د زیارت ملنګ پیرصابر شاه نومیده نوموړي دمجلس څخه پاسیده اوډېټی څخه یو دغمنو وړي وشکوه او د احمدخان په پټکی کی وټومبه پدي توګه په اتفاق سره په (1747) میلادي کال کې احمد خان د(25) کلونو په عمر داحمدشاه په نوم دپادشاه په حیث انتخاب شو احمد شاه ډیر د قدر وړ خدمتونه وکړل، چې وروسته د بابا په نوم یا د شو.

## دګاونډیو هیوادونو سیاسي وضع ته یو کتنه

د انتخاب څخه وروسته احمدشاه بابا ثابته کړه چې دملک د داخلي وضعي او هم د ګاونډیو ممالکو د سیاسي او نظامي وضعي څخه پوره اګاهي لري او کولای شي چې ددی وضع څخه دافغانستان په نفع استفاده وکړي.

دملک داخلي شرایط او هم د ګاونډیو هیوادونو وضع په افغانستان کې یو دمستقل دولت دجوړیدو لپاره مساعده وه. ایران د نادرافشار د مرګ څخه وروسته د داخلي ګډوډی سره مخامخ و او ددی توان یې نه درلود چې نور په ګاونډی ممالکو تجاوز وکړي دبخارا او ماورالنهرجیندی (ازبکې) دولت هم د انحتاط سره مخامخ و، اشراف او خانان په مختلفو برخو کې حتی په خپله دبخارا په ښارکې یعنی پایتخت کې مستقل شوی و.

د خورازم حالت د ماورالنهر څخه هم بد تر و، دا اقتدار په سر د اشرافو اود ربار یانو ترمنځ دومداره کشمکش موجود و او داحمدشاه دظهور څخه مخکې د(40) کالونو څخه په لږ موده کې ( 10 ) لس پادشاهان په خورازم کې لری شوي اویا وژل شوی و نو ځکه په بل یې دولت دحملی توان درلود.

د هندوستان په جنوب کې د او رنګزیب دسلطنت په دوره کې د مرهټه و حکومت دسیواجی په مشری تاسیس شوی و چې د اورنګزیب دمرګ څخه وروسته قوی شوی او (30) کالونو په موده کې تقریباً د هند ټوله جنوبی برخه نیولی وه، نو ځکه د هند مغلی دولت نور ددی توان نه درلود چې دپخوا په شان په افغانستان فشار راوړي،خاصتاً چې د هند په شمالی برخه کې هم یوه نوی مخالفه قوه د (سکهه) په نوم منځته راغلی وه لهذا محمدشاه ګورګاني صرف په نوم دهند پاچاه وه د هغی لوی والیانو په اوده. بنګال،حیدراباد دکن. کرناټک او داسی نور سیمو کې مستقل ؤ او مرکز ته یې یواځې خراج ورکاوه، ددی وضع په منځ کې په هند کې یو بله خطرناکه او پټه قوه وجود درلوده چې دبحر داختاپوتی (اته پښی لرونکې ځناور غوندی) د بحر له هغی طرف ساحل څخه غوپه وهلی او د هند په ساحل کې سرویستی و دا نا اشنا قوه چې په اسلحه، علم، فن اوچت تخنیک،حرص او دښمنی مجهزه وه په تدریجی شکل آما عمیقاً د هند د تناور جسم په عروقو او شریانو کې تغذیه کېده په داسی حال کې چې هندیانو صرف هغوي دسوداګرو په توګه پیژندل او افغانانو هغوي ته دپساری او دوکاندار نوم ورکاوه دا هغه غربی استعمار ګران و چې دهند دټول ملی قوتونو تجزیه تقسیم او نفاق یې سره د هغوي د ټولو ثروتونو غوښتل. همدارنګه په هند کې یو بل قوی وجود درلود چې عبارت و د افغانانو دسیاسي اونظامی نفوذ څخه دهند په د ربار او ولایاتو کې د ډهلی په دربار کې دنجیب الدوله افغان (نجیب الله خان

یوسفزی ، په شان مقتدر افسران او د کترا ، فرخ اباد او ملتان په ولایاتو کې د سعید الله خان روهیله، احمد خان بنگش او زاهد الله خان ابدالی په مشری د روهیله، بنگش او ابدالی حکمرانانو سلسلی د زیات قواو سره قرار درلود .

دغه ټولو حالاتو احمد شاه بابا د هند له طرفه مطمین کړ او په افغانستان کې دیو سرتاسری دولت دتحکیم لپاره یې زمینه برابر وله، همغه وه چې احمد شاه بابا په لږه موده کې په اسانی سره وکولای شول چې دجیحون څخه د عمان ترخلیج او د خراسان او سیستان د ولایاتونو څخه د سند تر دریابه پوری افغانستان ته سیاسي وحدت ورکړي.

## داحمد شاه ابدالی جنگی سفرونه

کله چې احمد خان ابدالی پادشاه شو نود فوځ دتنظیم او برابر ولو لپاره دمالی مشکلاتو سره مخ و په همدی وخت کې د شرقي افغانستان، پنجاب او ملتان د څو کالونو مالیات چې (1360000) دیارلس لکه شپیته زره معادل طلا، نقد او جنس پکې شامل و د نادر افشار د ربارته د وړلو په اراده د بولان د دری له لاری قندهار ته داخل شوه چې ټول احمدشاه ابدالی ته وراندی شول، کله چې احمدشاه ابدالی د پایتخت د نظم او نسق څخه فارغ شو بالافاصله یعنی د خپل پاچاهي په دریمه میاشت کی یې د افغانستان د ټولی طبیعی او تاریخی خاوری یوالې لپاره په سوقیاتو شروع وکړه.

## لومړی جنگی سفر

په ( 1747) میلادي کال سپه سالار سردار جهان خان پوپلزای یې د غزنی، کابل، جلال آباد او پیښور د لاری د سند د دریاب تر غاړی پوری ورسید او احمد شاه بابا د هغه په تعقیب په حرکت کې وه، په دی وخت کې عبدالصمد خان چې د اشنغر د خانانو څخه ؤ هم د احمدشاه ابدالی په فوځ کې شامل شو او ناصر خان د نادر افشار د پیښور او کابل حکمران یې دسند دریاب ترهغی غاړی پوری په شا کړ او داحمد شاه قواوی تر اټکه پوری ورسیدی.

## دوهم جنگی سفر

په ( 1748 )کال کې احمد شاه بابا د دیرش زره (30000) فوځ سره دپیښور د لاری اټک اود جهلم دریاب څخه تیر شو د پنجاب حکمران شهنواز خان مقاومت ونکړ او د هند پاچاه محمد شاه گورگانی څخه یې دکمک غوښتنه وکړه لاهور د احمد شاه بابا په لاس پریوته د هند پاچاه (100000) سل زره فوځ د ولیهد شهزاده احمدشاه او صدراعظم قمرالدین خان په

مشری داحمد شاه ابدالی دمقابلی لپاره واستوه، دي لښکر خپل اضافه بار او سامان او هم ورسره د کورنۍ غړي په (سرهند) کې پرېښودل او خپله دستلیج د ساحل د (ماچي واره) په سیمه کې دافغانی فوځونو په انتظار کېناستل، آما احمد شاه ابدالی د دوي د توقع برخلاف د خپل د (30000) دیرش زره فوځ سره د معمول لاره پرېښوده او په یو جناحی حرکت سره د (لودهیانی) د دریاب څخه تیر او د سر هند قلعه یې د دښمن د ټول مال او متاع سره ونیوه کله چې هندی فوځونه خبر شول بیرته وګرځیدل او افغانی فوځونو د هغوي مخه ونیوله جنګ شروع شو.

دي جنګ (14) څوارلس ورځې دوام وکړ دجنګ په اتمه ورځ دهند وزیر مملکت قمرالدین خان مړ شو بالاخره دواړه خواوی صلحی ته حاضرې شوې د لاهور حکومت د قمرالدین خان وارث میرمنو معین الملک ته وسپارل شو د سند دریاب د دواړو خواوو ترمنځ سرحد وټاکل شو.

احمدشاه ابدالی دپیښور دلاری قندهار ته ستون شو په همدی وخت کې هند پاچاه محمد شاه مړ شو او د هغه په ځای دهغه زوی احمدشاه ګورګانی پاچاه شو.

## دریم جنګی سفر

د (1748) میلادي کال په اخر کې احمد شاه بابا بیا دکابل او پیښور د لاری لاهورته ورسیده دمیرمنو معین الملک سره یې دیو وړوکي جنګ څخه وروسته صلحه وکړه او د سیالکوت، ګجرات او رنګ اباد او امر اتسر دمالیاتو راټولول یې دنوموړی په ذمه کړه ترڅو هر کال مالیات راټول او داحمد شا دربار ته یې ورسوی.

کله چې بیرته قندهار ته ستون شو لقمان خان دهغه ملګرو داحمدشاه په خلاف دسیسه جوړه کړی وه چې په نتیجه کی لقمان خان ونیول شو چې باالاخره دبندپه حالت کی مړشو یو کال وروسته دهغه نورملګري لکه حاجی خان بلوچ، کدوخان او محبت خان پوپلزای ونیول شول او وروسته ووژل شو.

## څلورم جنګی سفر

د خراسان په ولایت کې د نادر افشار د مرګ څخه وروسته دهغه وراره علی قلی چې دسیستان حاکم وه دعادل شاه په نوم په مشهد کې د پاچاهی اعلان کړه علی قلی پرته دشهرخ څخه (15) تنه دخپل کاکا د اولادی او کورنۍ څخه په قتل ورسول. اما ابراهیم علی قلی ورور د هغه پر ضد قیام وکړ هغه یې ړوند کړ او خپله یې پادشاهی اعلان کړه مګر خلکو پاځون وکړ دواړه ورنه یې اعدام کړه او شاهرخ یې پادشاه کړ.

په دې کشمکش کې د سید محمد په نوم یو بانفوذه روحاني پاڅون وکړ، شهرخ یې بندی او ړوند کړ او خپل ځان یې د سلیمان شاه په نوم دپادشاه په حیث اعلان کړ اما سرداریوسف علی خان اوسردارذال خان د سیدمحمد په ضد پاڅون وکړ هغه یې ګرفتار او اعدام کړ اوړوند شهرخ یې صرف په نوم دپادشاپه حیث اعلان کړ او په واقیعت کې دولتي امور د دربار دمشرانو او سردارانو په لاس کې وه چې په مجموع ( 16 ) تنه وه او د قدرت په سر په خپل منځ کې په سیالی بوخت وه.

د همدي حالاتو په نظر کی نیولوسره احمدشاه بابا هرات ته سفر وکړ او هغه ښار یې د څلور میاشتی محاصری څخه وروسته ونیوه او دامیرخان عرب په ځای یې درویش علی خان هزاره دهرات والی مقرر کړه. او وروسته یې دمشهد دخواته حرکت وکړ او په تربت او شیخ جام کې د میرعلم خان د فوځونو ته چې دشهرخ نایب وه شکست ورکړ میر علم خان فرار وکړ او شهرخ چې دده لخوا بندی و دخپل ځوی نصرالله مرزا په مرسته خلاص شو. د مشهد د ښار وروسته دیوی لنډی محاصری.څخه داحمد شاه بابا لاس ته ورغی او شهرخ مرزا یې د هغه حکمران تعین کړ او نور محمد خان افغان یې د هغه د نایب په حیث وټاکه او خپله یې د نیشاپور په لور حرکت وکړ د نیشاپور حاکم عباس قلی مقاومت وکړ، آماکله چې ځان داحمد شاه بابا په وړاندی ضعیف ولید دخپل تره جعفرخان بیا ت په مشوره یې ظاهراً دصلحی لپاره وړاندیز وکړ. اما د صلحی معاهده یې تر هغه وځنډوله ترڅو ژمی راورسید داحمد شاه بابا فوځونه د سختی واوری وریدنی او سړو څخه مشکلاتو سره مخامخ شول او دیخ له امله داحمد شاه بابا د فوځونو څخه یو زیات شمیر کسان مړه شول. نو ځکه احمد شاه بابامجبور شو چې د هرات له لاری قندهار راستون شی.

## پنځم جنګی سفر

په ( 1749 ) میلادي کال له دی امله چې نادرافشار له خوا د میرعبدالله خان مشر ځوی میر محبت خان د بلچو حاکم تعین شوي و مګر خلکو نه غوښتل چې هغه د بلوچو حاکم پاتی شی او پدی رابطه یې احمدشاه بابا ته خپل وړاندیزونه کړی و. احمدشاه بابا د خراسان د سفر څخه وروسته راساً قندهار د لاری قلات ته راون شو، پدی وخت کې میر نصیر خان په حیدرآباد کې او مور یې بی بی مریمه په قندهار کې وه چې داحمد شاه بابا څخه یې دکمک غوښتنه کوله، همدا وخت دی چې میر محبت خان خپله خورمیر بي بي ګوهره د محمد حیات اخوند په وسیله احمدشاه لپاره راوستوله ترڅو په نکاح کې واخلی وروسته د څه مودی څخه احمد شاه بابا د قلات او بلوچو ټول مشران او خانان راجلب کړل

په دی وخت کې میر نصیر خان او د هغه مور په قندهار کې وه چې نتیجه کې میر محبت خان بندی او میر نصیر خان په (1750) میلادي کی دقلات د حاکم په حیث تعین شو.

## شپږم جنګی سفر

د (1750) میلادي کال په پسرلی کې بیا دنیشاپور په لوری حرکت وکړ او هلته یې خپل مشهور توپ چې دولس سیره مرمی خوړله د چودنوڅخه جوړ کړ د نیشاپور قلعه په توپونو وویشتله اوعباس قولی یې دجنګ په میدان کې ګرفتار کړ اما هغه یې عفوه کړ او دنیشاپور حکمرانی یې بیرته ورکړه کله چې هرات ته وګرځید خبر ورته ورسید چې میر علم خان خزیمه بیا په مشهد حمله کړي احمدشاه بابا بیرته مشهدته وګرځیداو میرعلم خان ته یې شکست ورکړ اود شهرخ حکمرانی بیرته برحاله کړ او هم ورباندی ومنله چې سکه به دده په نوم وهل کېږی او هم خطبه دد ه په نوم ویل کېږی علاوه پردی یو څه سیمی لکه تربت،شیخ جام، باخرز، خواف او ترشیز یې احمدشاه بابا ته تسلیم کړ او شهرخ په خپل مهرکې دابیت ولیکه.

یافت از الطاف احمد پادشاه　　　　شهرخ برتخت شاهی تکیه ګاه

او کله چې هرات ته بیرته وګرځید وزیر شاولی خان یې دشمالی سیمو دنیولو لپاره توضیف کړ هغه مروه، میمنه،اندخو، شبرغان، بدخشان او د بامیان ولایتونه د هغوي د محلی حاکمانو څخه ونیول او د مرکز پوري پوری وتړل.

## اووم جنګی سفر

په (1751) میلادي کال کې احمدشاه بابا متوجی شو چې مرمنو د پنجاب والی د هغی مالیاتو په ورکړه کې چې تعهد کړی و د ځنډ څخه کار اخلی نود هارون خان په نوم د یو نماینده په استولو سره،هغه یې خپل وعدی پوره کولو ته وهڅوو، میرمنو دځینی مشکلاتو موجودیت دمالیاتو دپوره نه ورکړی سبب وښود احمد شاه بابا د سکهجیون په استولو سره د مالیاتو په پوره ورکړی بیا ټینګار وکړ اما داخل هم میرمنو دمالیاتو صرف یوه اندازه واستوله او د مالیاتو د پوره ورکړي څخه ډډه وکړه.

احمدشاه (1751 ) میلادي کال په اواخرو کې د پنجاب لوري ته لښکر کشی وکړه کله چې پیښور ته ورسید نو دکشمیر دالحاق لپاره یې د خواجه عبدالله کوچک په مشر یو لښکر د اټک او حسن ابدال د لاری سوق کړ. کله چې خواجه عبدالله کوچک کشمیر دبابری حکمرانانو څخه تصفیه کړ نو هغه احمدشاه لخوا د کشمیر حاکم او سکهجیحون یې ورته

مستوفی مقرر کړ احمد شاه بابا د پېښور څخه دلاهور طرف ته حرکت وکړ د پنجاب دسپه سالار ګوړامل فوځونو ته يې شکست ورکړ او هغه ووژل شو د ګوړامل د وژل کېدو څخه وروسته ميرمنو تسليم شو او دپنجاب په حکومت دپاتي کېدو لپاره دوه ميلونه روپې ورکړې او هم يې ليکلی تعهد وکړ چې پنجاب او ملتان ولايتونه به د افغانستان د خاوری جز وی احمدشاه بابا دا معاهده د خپل نماينده قلندر خان په لاس د ډهلی دربار ته وليږه. د هند بادشاه احمد شاه ګورګانی هم په هغه معاهده امضاء وکړه، په دی توګه دکشمير، ملتان پنجاب او سند ولايتونه دافغانستان په قلمرو کې شامل شول، وروسته احمد شاه بابا بنو دلاری اول کابل ته او بيا قندهار ته ستون شو.

## اتم جنګی سفر

په (1753) ميلادي کال د پنجاب والی ميرمنو معين الملک مړ شو احمد شاه بابا د قندهار څخه د يو فرمان په واسطه دپنجاب حکمرانی دميرمنو نابالغه ځوی ميرمومين (محمد امين) ته ورکړ څرنګه چې نوموړی صغير ود حکومت چاری دده په نيابت د ده مور مغلانی بيګم پر مخ بيولی خو دڅه مودی وروسته دميرمومين دمور او افغانی محلی مشرانو او نوابانو ترمنځ اختلاف او کشمکش پيداشو او په همدی دوران کې ميرمومين هم مړ شو او مغلانی بيګم ځو ځلی ددوی په واسطه بندی اوبيرته خوشی شوه.

له بلی خوا پدی وخت کې د ډهلی دربار دهند دصدراعظم عمادالملک غازی الدين خان دلاس اله وه چې يو قدرت طلب او ماجراجوی شخص وه، دی شخص ته کله چې مناسبه موقع په لاس ورغله نو په ( 1753 ) ميلادي کال دهند بادشا احمد شاه ګورګانی خلع کړ او دهغه پرځای يې عالمګير ثانی پرتخت کېښناوه، غازی الدين د ( 1756 ) م کال په مارچ کې په پنجاب حمله وکړه دمغلانی بيګم يې بندی کړه او دپنجاب حکمرانی يې ادينه بيک ته دکال ( 3) ميلونه دماليات په بدل کې ورکړ.

په دی وخت کې دکشمير مستوفی سکهجيحون هم بغاوت وکړ او د کشمير حاکم خواجه عبدالله کوچک يې وواژه او دهغی ځای حکمرانی د ډهلی په نوم په خپل لاس کی واخيسته احمدشاه بابا په (1756 ) ميلادي کې د بلوچستان او سند دلاری پنجاب ته ورسيده او لاهور ته داخل شو په داسی حال کې چې ادينه بيک دمخکې نه فرار کړی و احمدشاه بابا د نورالدين خان په مشری يو لښکر کشمير ته وليږه هغه کشمير ونيوه او سکهجيحون يې بندی کړ وروسته احمدشاه باباد هند پايتخت ډهلی په لور حرکت وکړه دهند پا چا عالمګير ثانی يو لښکر دسهار نپور دوالی نجيب الدوله يو سفزايې په مشری داحمد شاه باباد مقابلی لپاره واستوه امانجيب الدوله د خپل لښکر سره دکرنال په سيمه

کې داحمدشاه بابا سره یو ځای شو احمد شاه بابا پرته دکوم مقاومت څخه ډهلی ته ورانډي شو.

دپایتخت په دیرش میلی کې دغازی الدین او په پنځلس ملی کې پخپله د عالمګیر ثانی لخوا استقبال شو عالمګیر ثانی یې بیرته د ډهلی پر تخت کېناوه عالمګیر ثانی خپله وریره شهزاده تیمور ته په نکاح ورکړه. او صاحبه محل د محمد شاه بابری ښځی خپله ځان احمد شاه باباته په نکاح ورکړ. په همدی وخت کې دهند وزارت کارونه نظام الدوله د قمر الدین خان ځوی ته وسپارلی او نجیب الوده یو سفزائی دهند سپه سالار وټاکه او وروسته له هغی چې دپنجاب کشمیر او ملتان کارونه یې سمبال کړل په (1757) میلادي کال کې بیرته قندهار ته ستون شو او شهزاده تیمور اوسردار جهان خان دلاهور په حکومت پریښود.

## نهم جنګی سفر

کله چې احمد شا په (1757) میلادي کال کې بیرته افغانستان ته ستون شو په هند او پنجاب کې نوی مشکلات رامنځته شو، غاز الدین دهند معزول وزیر د اقتدار د تر لاسه کولو لپاره مرهټه قواو سره همکار شو او دواړه د ډهلی او هند ضعیف دولت دحملی لاندی ونیوه. همدارنګه سکهان په امر تسر کې سره راټول او د افغانې قواوو سره یې په جنګونو پیل وکړ غاز الدین هم دسکه قواوی په پنجاب کې دافغانې دولت پر ضد تحریکولی ادینه بیک دغاز الدین پخوانی مامور دسکهانو په مرسته په جلندر کې ډیر افغانان ووژل.

څرنګه چې سکهانو او ادینه بیک داحمد شاه بابا د مقابلی حملی څخه ویریدل نو د مرهټه قواوته یې په پنجاب د حملی دعوت ورکړ په داسی حال کې چې دمرهټیانو دریم مذهبی مشر بالاجې باجی پخپله هم غوښتل چې پنجاب اشغال کړی همغه وه چې دمرهټیانو (200000) دوه سوه زر فوځ دبالاجې باجی د ورور رګونات راؤ په مشری په هند حمله وکړه په هند کې پرتو افغانی قواوو ته یې ماتی ورکړه او عبدالصمد خان مومند زایې ونیوه. او وروسته یې پر ډهلی حمله وکړه ډهلی هم ددوی په لاس ورغی رګونات راؤ د هند د سپه سالار نجیب الدوله دنیولو لپاره کوم چې ډهلی څخه وتلی وه دغازی الدین په مشری یو ه قوه واستوله اما نجیب الدوله د روهلکند د افغانې مشرانو په مرسته په دفاع لاس پوری کړ او تر ډیری مودی پوری سکرتال په سیمه کې په میړانه مقابله وکړه.

دمرهټیانو یو بله قوه دسندیادتا په مشری دادینه بیک او سکهانو په مرسته په پنجاب حمله وکړه شهزاده تیمور او سردار جهان خان چې دهغوي دمقابلی توان نه درلود داټک پوری عقب نیشنی وکړه سندیا دپنجاب دنیولو وروسته د هند داسلامی حکومتونو

سهارنپور، اوده او روهلکند دنیولو لپاره بیرته وګرځید، غازی الدین او دمرهټیانو نوری قواوی چه تراوسه پوری دنجیب الدوله افغان سره په جنګ مصرف و د سندیا په رسیدلوسره نور هم زړه ور شو او حملی یې تیزی کړلی. اما شجاع الدوله د(اوده) حکمران د نجیب الدوله او روهیله قواوو مرستی ته راورسیدي او جنګ ته یې ادامه ورکړه.

په دی وخت کې رګونات راو دمرهټه قواو عمومی قوماندان چې دخپلو فتحو څخه مطمین و د(هولکر) په مشری اتیارزره لښکر دجمنا سند په چپ ساحل د(مکندره) په سیمه کې پریښودل او خپله د مرهټیانو مذهبی مشر ته ددی فتحو دخبر رسولو لپاره (دکهن) ته لاړ.

له بلی خوادهمدی وخت څخه په استفاده دبلوچستان والی میر نصیر خان خپل استقلال اعلان کړ احمدشاه بابا هندوستان ته دتګ څخه مخکې د داخلی جبهی استحکام ته متوجه شو او وزیر شاه ولی خان یې د یو لښکر په مشری د بلوچستان د نیولو لپاره واستوه خوهغه دمستون په سیمه کې دمیر نصیر خان دقواوو څخه ماتی وخوړه نو ځکه احمد شاه بابا شخصاً دیو لښکر سره دجنوب په لور حرکت وکړه اوپه ډیر سرعت سره یې مستون کې د میر نصیر خان په قرارګاه حمله وکړه میرنصیرخان ماتی وخوړه او ترقلاته پوری په شا ولاړو او هلته یې قلعه بندی اختیار کړه.

احمد شاه بابا قلات محاصره کړه د دولس ورځی محاصری څخه وروسته میرنصیر خان د محمد حیات خان اخوند او وزیر شاه ولی خان په واسطه احمد شاه بابا ته عذر وړاندی کړ چې ددی عذر په نتیجه کې هغه عفوه کړ احمد شاه بابا قندهار ته ستون شو ترڅودسکهانو او مرهټیانو دمقابلی لپاره نوی قوه تیاره کړی

## لسم جنګی سفر

دپانی پت فتح :احمد شاه بابا په (1758) میلادي کال کی دمیر نصیر خان او میر عبدالکریم خان دقلات او بلوچو مشرانو په شمول (30) زره فوځ ترتیب او دبولان د دری له لاری د سند د دریاب غاړی ته ورسیده (سابا) دمرهټیانو دپنجاب حکمران چې دادینه بیک دمرګ څخه وروسته دپنجاب واک په لاس ورغلی ؤ همدا چه داحمد شاه بابا دحرکت څخه خبر شو پنجاب یې تخلیه کړ احمد شاه باباپنجاب ته داخل شو په داسی حال کې چې سکهانو چوپتیا اختیار کړه او هیڅ عکس العمل یې ونه ښود او بیا دجناب د دریاب څخه د قطب دری په سیمه کې تیر اود سهارنپورطرف ته یې حرکت وکړ سندیا او غازي الدین چې داحمد شاه بابا له حرکت څخه خبر شو دشجاع الدوله او نجیب الدوله سره دصلحی دلاری وړاندی شول. او د ډهلی طرف ته حرکت وکړ سندیا په لار کې داحمد شاه بابا

دمخنیوی لپاره پاتی او غازی الدین په ډهلی کې عالمګیر ثانی او دهغه وزیر نظام الدوله ووژل او (مهی السنه) د اورنګزیب لمسی یې رسماً پادشاه او خپل ځان یې د وزیر په حیث اعلان کړ.

په سهار نپور کې نجیب الدوله او دهندی روهیله افغانانو مشران لکه سعد الله خان حافظ رحمت الله خان او دهغه ځوی عنایت الله خان اوقطب خان دلس زره جنګیالو سره د احمد شاه بابا په فوځ کې شامل شول، په داسی حال کې چې نواب شجاع الدوله د تازه دمی قوی د تیارولو لپاره (اوده) ته تللی و. احمد شاه بابا د (40000)څلویښت زره فوځ سره د ډهلی په لور حرکت وکړ په لاره کې یې دسند یا قواو ماتی ورکړه او هغه دخپل اکثره افرادو سره دجنګ په میدان کې ووژل شو کله چې ددی شکست خبر ډهلی ته ورسید غازی الدین او په دهلی کې دمرهټیانو قومندان (جنګوراو) تیښته وکړه همدارنګه احمد شاه بابا په مکندره د هولګر دقواوو ذپلو لپاره (15000 ) پنځلس زره لښکر دشاه پسند خا ن اسحق زی په مشری ولیږه هغوي دشپی لخوا دجمنا دسند څخه تیر او په ناساپی توګه یې د هولګر په قواوو حمله وکړه هولګر کوشش وکړ چه مقاومت وکړی اما شکست یې وخوړ خپله یې د څو سوه کسانو سره تیښته وکړه او نور فوځ یې تباه شو.

احمدشاه بابا ډهلی ته داخل شو وروسته یې یعقوب علی خان افغان او نواب محسن الملک د(2000) دوه زره فوځ سره دډهلی د حفاظت لپاره پریښود او خپله دجمنا د دریاب څخه تیراو ددهلی په (72 ) میلی کې د(انوب شهر ) په سیمه کې قرار ګاه ونیوله او د مرهټیانو دعکس العمل په انتظار کېناست. په همدی وخت کې دفرخ اباد څخه احمد خان بنګش او د(اوده) څخه نواب شجاع الدوله دلس زره عسکرو سره داحمدشاه په فوځ کې شامل شو همدرانګه لس زره نور کومکې جنګیالی دعطا محمد خان او کریمداد خان په مشری دقندهار څخه راورسیدی پدی وخت کې داحمدشاه بابا دقواوو تعداد (60) زرو ته ورسیده.

کله چې دمرهټیانو مذهبی مشر بالاجی باجی د خپل د قواوو د شکست څخه خبر شو د مرهټه ټولو مشرانو ته یې امر ورکړ چې خپل تازه دمه قواوی دی راجمع کړی دڅلور میاشتو په موده کې دمرهټیانو یو لوی فوځ تیار شو او دشمال په لوری یې حرکت وکړ بالاجی باجی ددی قوی قومندانی خپل ورور (سداشیو بهاو ) ته ورکړ او خپل ځوی (وسیواس راو) یې د هند پرتخت دکېناستلو لپاره ورسره کړ دمرهټیانو د قواوو تعداد (200000) دوه سوه زرو ته رسیده چې پدی کې دابراهیم خان ګاردی په مشری څو زره ددکهن اوسیدونکې مسلمانان هم شامل و، همدرانګه دونیم زره جنګی او باروړونکې فیلان (200000) دوه سوه زره غواګانی او څو زره اوښان هم لدی قوی سره ؤ.

کله چې دمرهټیانو قواوې ډهلی ته نژدی شوی نو څرنګه چې داحمدشاه بابا قواوې یې لری ولیدی پر ډهلی حمله وکړه او اشغال یې کړ اوهم یې دافغانی قواوو نور مراکز چې د جمنا د ساحل بنی طرف ته پرتي وي، ونیولي پداسی حال کې چه دجمنا ددریاب د اوبو زیاتوالی او سیلابې کېدل داحمد شاه بابا د قواوو مخه نیولی وه اما وروسته احمد شاه بابا فیصله وکړه چې هرڅنګه وی ددریاب څخه باید عبور وکړی نو احمدشاه بابا شخصاً د ټولو نه وړاندی اوبو ته داخل شو پداسی حال کې چې دمرهټیانو ساحلی ساتونکې په مسلسله توګه غشی ورول پدی ځای کې دافغانی قواوو یو تعداد کسان په اوبو کې ډوب شول او بعضی کسان دغشو له امله ووژل شول، په هر حال داحمدشاه بابا قواوې ډهلی ته نژدی د (باکپت) په سیمه کې دجمنا دسیند څخه تیر شول او دمرهټیانو دقواوو په تعقیب یې د ګنجپوره په لوری حرکت وکړ.

اما مرهټیانو دګنجپوره په ځای دپانی پت دمیدان په شمالی برخه کې سنګر ونیوه داحمدشابابا دقواو پیشدار (وړاندی تلونکې وقوه) دشاپسند خان ددښمن د قواوو (25000)پنځویشت زریزه پیشقراول ته ماتی ورکړه او دهغی په تعقیب احمدشاه بابا پانی پت ته داخل شو او دمرهټیانو په مقابل کې یې سنګر ونیوه دری میاشتی ددې دواړه قواو ترمنځ فرعی جنګونه ادامه پیدا کړه پدی وخت کې احمد شاه باباخپل جنګې مهارت وښود هغه چې په یوپردی ملك کښی د خپل دري برابره قوي سره جنګیده ویې کولای شول چې د دښمن ارتباطی لاري په داخل یودایره (30) میلی په قطر دهرطرف څخه قطع کړی او هم ټول هغه خوراکې مواد او کمکې شیان چې ددښمن قواو ته رسیده ضبط کړ، همغه وچې په تدریج سره په دښمن کی د خوراکې موادو قحط پیدا شو نو ځکه مرهټه یو قاطع او عمومی جنګ ته مجبور شول.

دا جنګ په (1761) میلادي کال دجولای (16) نیټه دپانی پت په میدان کې ترسره شو لومړی دمرهټه قواوو په پیشرفت شروع وکړه دلښکر په مینځنی برخه کې ویسواس راو د دښمن دقواوو فرمان په لاس کې درلوده او دهغه په مخکې څلویښت زره مرهټه او ګاردی سپرو او (2400) جنګی فیلانوپه هجوم لاس پوری کړی وو. افغانی قواوو په مسلسلو حملو سره وکولای شول د دښمن د لښکر منځنی برخه د فشار لاندی ونیسی او ویسواس راو لـه مینځه یوسی د مرهټیانو دمذهبی مشر د ځوي وژل کېدل د دښمن د لښکرو میمنه (مرکزی برخه) متزلزله او عقب نیشنی ته مجبوره کړه پدی د وران کې دافغانی قواوو توپخانی د دښمن جنګی فیلان داور لاندی نیولی وو او د دښمن فیلان دمیدان څخه ګرځیدل او خپل عساکر یې دپښو لاندی کول همدا وخت دی چه افعانی قواوو په دسته جمعی توګه د دښمن په صفونو حمله وکړه د مرهټیانو اکثره سرداران وتښتیدل او عسکرو کې شکست ګډ شو.

او په فرار یې لاس پورې کړ چه تر ( 40 ) میله پورې د افغاني قواوو له خوا تعقیب شول دمرهتیانو دقواوو تلفات پدې جنګ کې ډیر زیات و دوژل شو څخه علاوه (22000 ) دوه ویشت زره اسیران (500) پنځه سوه فیلان (50000) پنځوس زره اسونه (200000) دوه سوه زره غواګانی او څوزره اوښان دجنګ په میدان کې پریښودل او دافعانی قواوو څخه دلس څخه ترپنځلس زرو پورې کسان وژل شوی وو.

پدې توګه دپانی پت تاریخی جنګ پای ته ورسید احمدشاه بابا داسیرانو له جملې څخه هغه چه مسلمانان وو دابراهیم خان ګار دی په شمول اعدام کړل.او نور یې ازاد کړل او بیرته ډهلی ته وګرځید او هلته یې دعالمګیر ثانی ځوی علی ګوهر (شاه عالم) دهند پادشاه په حیث وټاکه او څرنګه چې هغه په بنګال وو دهغه ځوی مرزا جوان بخت یې دهغه په غیاب کې دنائب السطنه په حیث وټاک او نواب شجاع الدوله یې دهند درستم په لقب دصدراعظم او نجیب الدوله افعانی یې دهند سپه سالار په حیث وټاکه.

دپنجاپ حکومت یې زین خان ته ورکړ او (1761 ) میلادي کال دپیښور د او کابل د لارې قندهار ته ستون شو او په قندهار کې شهزاده تیمور دهرات دحاکم په حیث تعین کړ.

## یولسم جنګی سفر

په (1762) میلادي کال کې دپنجاب سکهانو د(جیساسنګ) په مشر بغاوت وکړ او لاهوریې ونیوه دا هغه وخت دی چه احمدشاه بابا تازه دپانی پت دفتحی څخه راستون شوی و او زین خان مومند یې دلاهور حکمران په حیث ټاکلی و پدی وخت کې دکشمیر سکهانو هم دسکهجیون په مشری بغاوت وکړ احمدشاه بابا دسکهانو دتنبه کولو لپاره لاهور ته سفر وکړ او په د سرهند (کوپ) او (جندالـه ) کیپه بیلو بیلو جنګونو کې دسکهانو (200000) دوه سوه زره فـوځ تـه یې مـاتی ورکـړه او (20000) شل زره سکهان یې ووژل،همدرانګـه نورالدین خان با مزایې په مشر ي یې داحمد شاه بابا له خوا لیږل شوی لښکر سکهجیون ته ماتی ورکړه او هغه یې اسیر کړ او په ( 1763) میلادي کال احمد شاه بابا بیرته قندهار ته ستون شو څرنګه چې پدی سفر کې ډیره ګرمی وه نو احمد شاه بابا یو څه مریضی پیداشوه.

## دولسم جنګی سفر

په ( 1767) میلادي کال دپنجاپ سکهانو بیا بغاوت وکړ اوپه سرهند او پنجاپ کې پر افغانی قواوو ډیری شدیدی حملی وکړی احمدشاه بابا په همدغه کال بیا پنجاب ته سفر وکړ او ویې کولای شول چه دسکهانو قواوو ته ماتی ورکړی او هغوي یې غرونو ته په فرار

مجبور کړه. ددی لپاره چې سکهان همیشه دفساد اوبغاوت لاره نیولې وه نو د دوی دخاموشه کولو لپاره یې دوزیر شاه ولی خان په سفارش دسرهند اوپټیاله حکمرانی یو سکه ته چې امیرسنگه نومیده ورکړ او خپله بیرته قندهار ته وګرځید.

## دیارلسم جنګی سفر

د (1767) میلادي کال په اواخرو کې وزیر شاه ولی خان د (60) زره فوځ سره بدخشان او بلخ دخلکو داراملو لپاره توظیف شو ځرنګه چې دشمال دشورشیانو شاته د بخارا دپادشاه لاس و، نو ځکه احمد شاه باباپخپله دهرات له لاری حرکت وکړ میمنه، بلخ، اندخوی اوشبرغان یې تصفیه کړ، په همدی وخت کې دبخارا پادشاه خپلی لښکر دامو ددریاب شمال لوری ته اماده کړی وی اما احمد شاه بابا داسلامی مصلحت په بنا دجګړی ځخه خود داری وکړه او ویې نه غوښتل چې دمسلمانانو وینه تویه شی نوځکه دبخار پادشاه عبدالعزیز (شاه مرادبی) سره یې صلحه وکړه او دامو دریاب یې ددواړو خواوو ترمنځ سرحد وپیژند همدا وخت دی چې وزیر شاه ولی خان دحضرت رسول الله (ص) خرقه مبارکه دبدخشان دفیض اباد نه قندهار ته منتقل کړه چې تراوسه پوری په یو مخصوص عمارت کې په همغه ځای کې موجود دی.

## څوارلسم جنګی سفر

احمد شاه بابا (1769) میلادي کال کې خبرواخست چې په خراسان کې اختشاش رامنځته شوی نصر الله میرزا او نادر میرزا دړوند شهرخ ځامن داقتدار دحصول لپاره یو له بل سره په مجادله بوخت دی مقتدر خان او دحکومت عالی رتبه مامورین هم ددی منازعی ځخه استفاده کوی.

احمد شاه بابا ددی خبرپه اخیستو سره دمشهد په لوری حرکت وکړ، نصرا الله میرزا چې مخکې دایران دپادشاه کریم خان زند سره ارتباط نیولی وو دمشهد په ښار کې مقابلی ته راپاسید.

د (طبس) او (تون) حاکم علمیردان هم پداسی حال کې چه نادر میرزا یې په لاس کې و سرکشی وکړه. احمدشاه بابا دمشهدښار محاصره کړ اوسپه سالار سردار جهان خان اود بلوچستان والی میر نصیر خان یې دعلیمردان دسرکوبولو لپار ه واستوه، نصر الله میرزا چې داحمدشاه بابا قدرت په خپلو سترګو ولید تسلیم شو. شهرخ خپله لور (ګوهرشاد) شهزاده تیمور ته په نکاح ورکړه همدارنګه میر نصیر خان او سردارجهان خان علمیردان ته

ماتی ورکړه او ددی خدمت په بدل کې احمد شاه بابا دډیره جاتو یوه برخه هم دنصیر خان په حکمرانی ورګډه او کوم غنایم یې چې یې تر لاسه کړی و او هغه وروبښل او په (1770) میلادي کال کې بیرته قندهار ته ستون شو داد احمد شاه بابا وروستی سفر وو.

## داحمدشاه بابا مړینه

احمد شاه بابا دزیاتو جنګی سفرونو په وجه دخپل عمر په اخر کې ډیر ستړی او یو څه مریضی هم ورته پیدا شوی بناً استراحت ته یې ضرورت درلود همغه وو چې نوموړی دقندهاردمعروف سیمی د (کوه توبه) په غرنی سیمه کې چې ښه اب وهوایې درلوده داستراحت په منظور سفر وکړ خو هلته یې مریضی زیاته شوه او ورځ په ورځ زیاتیده مریضی یې څلور میاشتی دوام وکړاو بلاخره دجمعی په شپه درجب په میاشت کې د (۱۱۸۷) هـ ق مطابق دجون دکال (1773) میلادي کې خپل روح حق تعالی ته تسلیم کړ او دنوموړی جنازه وزیر شاه ولی خان قندهارته منتقل کړه او هغه ځای کې یې دفن کړ چې خپله یې انتخاب کړی و.

دمړینی په وخت احمدشاه بابا (51) عمر درلود. نوموړی (26) کاله پادشاهی وکړه، احمد شاه بابا متشرع اود حنفی مذهب پیرو و. په سیاست کې یې ددوستی او نرمی په اصل عقیده درلود دخپلی پادشاهی په زمانه کې سره لدی چه نوموړی دمطلقه صلاحیت خاوند وو او زیات فوځی عظمت یې درلوده خوبیاهم کله چې چا بغاوت وکړ بخشش به یې ورته کاوه. اما م الهند شاه ولی الله دهلوی (رح) ددی سترشخصیت په رابطه داسی لیکلی (احمدشاه بابا چې کوم عمل ترسره کاوه ددنیا لپاره نه و بلکی معنوي صبغه یې درلوده داچې دهغه سره دامپراطوری خیالات موجود و مګر بیاهم نه یې غوښتل چې دمسلمانانو وینه تویه شی)

## داحمدشاه بابا دوری ته یو لنډه کتنه

کله چې داحمد شاه بابا پادشاه شو په اول قدم کې کوښښ وکړ چه دقومونو ترمنځ پخوانی دښمنی ختمه کړی اوپدی برخه کې یې کامیابی په برخه شوه نوموړی وکولای شول چې ټول هیواد په سیاسي او اقتصادی لحاظ سره متحد کړی ترڅو ددی اتحاد په نتیجه کې خپل اقتدار لاپسی قوی کړی اداری، مالی، اونظامی تشکېلات یې جوړ کړ کله چې پدی کامیاب شو چه داخلی اختلافات ختم کړی یو ملی دایمی جرګه یې جوړه کړه چه دهیواد په مهیمو مسلو کې به یې دجرګي څخه مشوره اخیسته او هم یې دامفکوره عام کړه چې افغانستان دټولو شریک کور دی اوپدی شریک کور کې ټه اوتاوان سره شریک دی علاو

لدی احمد شاه بابا دمذهبی ګروپونو، وطن پرسته ډلو او نورملی افتخاراتو څخه دملک دوحدت په برخه کې پوره ګټه واخیسته او هم یې دبیلابیلو قبیلو سره دخپلوی رشتی جوړ کړی دهغه استعداد له مخی چه الله پاک ج احمد شاه بابا ته ورکړی و ویې کولای شو چه دا ویده قوم راوینښ کړی اود یو هدف په لور یې وهڅوی دهمدی تحریک په نتیجه کې وو چه افغانستان خپل طبیعی او حقیقی سرحداتو ورسید سره لدی چې احمد شاه بابا دمطلقه صلاحیت لرونکې وو خوددی باوجود دهغه داقتدار دوره معتدله دوره وه چه داکار دهغه دعمل دازادی څخه ښه معلومیدای شی نوموړی یو (9) کسیزه شورا درلوده چې دهغه تصامیم دملک په مهیمو کارونو کې دتطبیق وړ ؤ.

که څه هم داحمد شاه بابا سلطنت میراثی شکل درلوده، خو بیاهم هغه دخپل کورنی غړی په دولتی اموراتو کې دمداخلی څخه لری ساتل یواځی خپل ولیعهد شهزاده تیمور یې دسردار جهان خان تر لارښوني لاندې دمملکت په شرقي او غربی برخو کې په سیاسي او نظامی امور کې دتمرین لاندی ساته، دسیاسي او دولتی اموراتو څخه دده کورنۍ دغړو لریوالی تردی اندازی و چې تاریخ اوعام خلك داحمد شاه بابا نور زامن په پوره توګه نه پیژنی پداسی حال کې چې احمد شاه بابا اته زامن درلوده (شهزاده تیمور، شهزاده سلیمان، شهزاده شهاب، شهزاده سنجر، شهزاده یزدان بخش، شهزاده سکندر، شهزاده داراب او شهزاده پرویز).

احمد شاه بابا دملک داقتصادی پیاوړتیا لپاره طلا او نقره کې سکه ضرب کړه ترڅو پدی طریقه دخلکو څخه مالیات راټول او دولتی خزانه کې یې واچوی، دولتی خزانه عبارت وه له غنیمتی اموالو، جنګی غراماتو، خارجی تحایفو او داسی نورو څخه پدی طریقه داحمد شاه بابا په خزانه کې په زیات مقدار سره طلا او جواهرات راټول شوی وو. خو احمد شاه بابا دمړینی څخه وروسته دکورنۍ داختلاف په وجه نوموړی ذخایر دملک په درد دوانشو.

احمد شاه بابا دمنظم فوځ ترڅنګ څه قبایلی نظامی تشکیلات هم درلودل احمد شاه بابا دهمدی منظم فوځ او عسکری مهارت څخه په استفادی وکولای شو چې هغه سیمی بیر ته خپلی کړی کوم چې د افغانانو دلاسه وتلی وی ددی ټولو کامیابیو باوجود احمد شاه بابا پدی بریالی نشو چه یو داسی جامع سیستماتیک فیوډالی نظام جوړ کړی چې دی ته وفادار وی.

احمد شاه بابا دخپل عمر (25) کاله په استثنا دهغه کالونو چې په جنګونو او لښکر کشیو کې تیر کړ، دملک دسیاسي او اداری امور په تنظیم کې په مصرف ورساوه نو ځکه

ولی ونشو کولای چې داسی بهتر اقتصادی نظام جوړ کړی چې د قبایلی او سمیز و مشرانو دنفوذ څخه ازاد او مستقل وی.

داحمد شاه بابا دولتی رسمی نشان دوه توری، دغنمو دوه وږی اوپه منځ کې ستوری و.

داحمد شاه بابا مهیم کارونه دقندهار دنوی ښار جوړول، دکابل بالاحصار، دتاج قرغان ښار، په سند کې دحیدر اباد ښار ابادول همدارنګه پښتو ژبی ته یې وده ورکړه معماران او هکاکان یې افغانستان دمهاجرت په خاطر هڅول ددی په کارونو کې شامل دی، احمد شاه بابا په افغانستان کې یواځنی پادشاه وو چه تاج یې په سرنه ایښوده لنګوټی یې تاړه او چپن او موزی یې اغوستلی، دتخت په عوض په ځمکه کښاسته او مستقیماً به یې دخلکو سره په تواضع او اخلاص مندی خبری کولی، دقضایا په حل اوفصل کې به یې دانصاف او عدل څخه کار اخیسته، احمد شاه بابا دخپل سلطنت په دوران کې هڅکله عیاشی او تجمل ته لاس وانه چاوه، اونه هم حریص وو هغه په هیڅ جنګ کې ددښمن دمقابلی څخه فرار ندی کړی، دمملکت دخلکو په وړاندی دنرمی څخه کار اخیسته مثلاً هغه په مجازاتو کې شدت او سختی اوپه تشریفاتو کې دحکمران په وړاندی تیتدل منع کړل.

دهمدي وجوهاتو، تقوا، خدماتو اوښو اخلاقو نتیجه وه جه دملت بابا او غازی په نوم یاد شو

## وروسته داحمد شاه بابا څخه

داحمد شاه بابا دمړینی څخه وروسته دهغه اته زامنو څخه شهزاده سلیمان چې دوزیر شاه ولی خان زوم وو دهغه په مرسته پادشاه شو، پدی وخت کې شهزاده تیمور دهرات حکمران چې داحمد شاه بابا په ژوند کې دهغه ولیعهد تعین شوی و او لدی واقعی څه خبر شو فوراً دهرات څخه قندهار په لور حرکت وکړ، وزیر شاه ولی خان دهغی مخی ته ورغی خو نوموړی یې د دوه ځامنو او دوه خورینو سره وواژه، تاریخ پدی رابطه لیکې چې وزیر شاه ولی خان په قندهار کې دګډوډی دمخنوی په خاطر شهزاده سلیمان پادشاه کړ او کله چې شهزاده تیمور دراتګ څخه خبر شو مخی ته یې رااووت ترڅو پزیرایې وکړی خو داچه تیمور شاه په خوا کې دهغه مخالیفینو ځای نیولی وو اودوي دوزیر شاه ولی خان دلفظی او قومی قوت څخه یې ویره درلوده نو دشهزاده تیمور ذهنیت یې همدا سی جوړ کړی وچې باید هغه ووژنی (سارج تاریخ)

کله چې شهزاده تیمور قندهار ته داخل شو شهزاده سلیمان یېعفوه کړ اوسلطنت دشهزاده تیمور لاس ته ورغی کله چې په تخت کښاست خپل ټول مخالیفین یې وو ژل یا یې تبعید کړه.

## تیمور شاه (1773-1793) م

کله چې تیمورشاه قندهار ته راستون شو او تخت یې ونیوه وروسته له څه مودې دداخلي اختلافاتو په وجه پایتخت دقندهار څخه کابل ته انتقال کړ، قاضي فیض الله خان یې صدراعظم او پاینده محمد خان یې دقندهار د دورانیو د مشر په حیث په قندهار کې توظیف کړ. شیخ عبدالطیف حاجي هیروی (الطافات خان هندی) دخزاینو مسول، ملا عبدالغفار خان هندی یې داستعفی دديوان مسول تعين كړ او پدی شکل یې غوښتل چې دفیوډالانو له قید څخه ځان خلاص کړي او خپله دیو مطلقه پا چا په حیث کار وکړي، محمد حیات خان بیا دیې دارګ قوماندان تعین کړ.

تیمور شاه دخپلې پاچاهي دوره په ارامی سره خوصرف دبغاوتون په مدافعه کې تیر کړه، دده په دوره کې دخراسان خلکو دری ځلی بغاوت وکړ خو تیمور شاه دشهرخ سره کمک وکړاوبغاوتونه یې ارام کړل، په دریم ځل یې دهغه کمک ته احمد خان نو زایې واستوه چې نوموړی شورشیانو ته سخته جزا ورکړه.

په (1774)م کال کې عبدالخالق سدوزائی پاڅون وکړ او تیمور شاه نوموړی ته دقلات په سیمه کی ماتی ورکړه وروسته یې دستګیر اودسترګو څخه یې محروم کړ.

په (1779)م کال کی دخیبر مشرانو لکه فیض الله خلیل او ارسلاخان مومند دپیرزاده میامحمد خان سره مشوره وکړه او دسکانو دبغاوتونوڅخه په استفادی زیات قوت دپیښوربالاحصار ته داخل کړ او تیمور شاه یې په با لاحصار کې محاصره کړ چې په نتیجه کې تیمور شاه پر هغوي برلاسی او ټول یې ووژل.

په (1781) میلادي کال کې سکانو چې په ملتان هجوم کړی و تیمور شاه بیرته ملتان ونیوه اودهغی ځای څخه یې خپل نظامي مشر مدد خان سند ته واستوه اوپه سند کې یې میر فتح علی تالپور ته ماتې ورکړه او وروسته دسرکوبی څخه یې په (1786) میلادي کال کې عفوه او دوباره یې دسند حکمران تعین کړ دهغه څخه دوه کاله وروسته په (1788)م کال کې په کشمیر کې ازادخان بغاوت وکړ مګر داشورش هم تیمور شاه ارام کړ.

داچې دبخارا دولت دسدوزیانو ددولت دوست او مطیع ؤ او احمد شاه بابا ددوستی په نظر ورته کتل خو شاه مرادبیګ دبخارا پاچا دی دوستی ته ونه کتل او (مروه) یې ونیوه تیمور شاه د (100000) سل زره فوځ سره کندوز او اقچې دلاری ځان ورساوه دا چې نوموړی نه غوښتل چه دمسلمانانوترمنځ وینه تویه شی دشامراد بیګ سره یې صلح وکړه او دامودریاب یې سرحد تعین کړ.

په (1789)م کال کې يې هيواد دخپلو ځامنو ترمنځ تقسيم کړ قندهار شهزاده همايون، هرات ئې شهزاده محمود، غزنی ئی شهزاده شجاع، کابل ئی زمان خان او کشمير کهندل ته خان وسپاره تيمور شاه وروسته د (20) کاله پاچاهی څخه دجلال آباد او کابل دلاری په منځ کې مريض او په (1793) ميلادي کال کې په کابل کې مړ شو او دښار منځ کې خاورو ته وسپارل شو. دتيمور شاه دښځو شمير بعضی تاريخونه (10) او بعضی (8) ښيې، همدارنګه دځامنو شميرېې بعضی تاريخونه (24) او بعضی (34) تنه ښيې همدارنګه لورګانی په اتفاق سره (13) ښودل شوی دي.

دنوموړی دخپل پلار په شان دهيواد په امنيت کې دخپلوي دريشتو څخه زياته استفاده کړی يعنی دبيلابيلو قبيلو څخه ئی ښځی پخپل نکاح کې شاملی کړی او هم ئی خپلی لورګانی دمختلفو قومونو باثره اشخاصو ته په نکاح ورکړی دتيمور شاه دمړينی څخه وروسته دپاچا يې په سرئی داولادونو ترمنځ داختلاف رامنځته شو کله چې زمان خان دکابل حکمران وليدل چې مشکل نه حل کېږی دپاينده محمد خان محمدزائی سره ئی مشوره وکړه او وروسته يې دهغه په کمک ټول حاضر ورونه چې په يو سالون کې راټول شوی وو دستګير او په بالاحصار کې يې بنديان کړه خپله په تخت کېناست.

## شاه زمان سلطنت ( 1793- 1800 م)

شاه زمان دمورله طرفه دیو سفزیو دقبیلې پوری ارتباط درلود کله چې نوموړی پاچا شو شهزاده همایون دتیمور شاه مشر ځوی چې ځان دسلطنت وارث ګڼلو همغه وو چې دشاه زمان مقابلې ته راوت په قلات ( غزنی ) کې سره مخامخ شول همایون ماتی وخوړه اوبلوچستان ته ئی فرار وکړ دهمدی ځای څخه دی چې شاه زمان په کورینو جګړو کې راګیر شو او ددی موقع څخه په استفادی سره دشمال لوری ته بخارا ، دجنوب خواته دسند میرانو ، اود غرب طرف ته دایران قاجاریان اود شرق لوری ته دپنجاب دسکانو دافغانستان سرحدات تهدیدول.

په (1793) م کال کې شاه زمان یوه قوه تیاره کړه ترڅو پنجاب تصفیه اولدی طرفه خطرات دفع کړی دپنجاب په لوری حرکت وکړ کله چې پیښور ته ورسید پدی وخت کې شهزاده همایون یو ځل بیا دسند دمیرانو په کمک بولان د دلاری قندهار ونیوه کله چې شاه زمان داخبر واورید ، فوراً دپیښور څخه بیرته راستون شو ، قندهار یې ونیوه او شهزاده همایون یې دستګیر کړ اوروسته یې ددواړو سترګو څخه محروم اودکابل په بالاحصار کې ئی بندی کړ او دشهزاده همایون نو رهمکاران یې ټول اعدام کړل ، لدی پیښی څخه وروسته دهرات حاکم شهزاده محمود ته متوجه شو خوداچې شهزاده محمود یو لجوج او خو دسری شخص و او شاه زمان ته یې کومه اعتنانه درلوده په اول وار دصلحی دلاری رامخته شو اود شهزاده محمود مور دهغه لپاره عفوه وغوښته شاه زمان هغه عفوه کړ اوبیایې دهرات حکمران تعین کړ.

لدی څخه وروسته یې بلخ دازبکو حکمرانانو څخه ازاد کړل او کله چې ددی څخه لږخوا څخه لږ ارام شو دسند میرانو ته مخه شوه او دبولان دلاری سند ته ورسیده پدی وخت میرفتح علی تالپور صلحی ته حاضر شو شاه زمان (30000) دیرش زرو طلاو دتادی په مقابل کې وسره صلحه وکړه لږ موده وروسته په (1795 ) میلادي کال دپنجاب سکانو بغاوت وکړ چې دهغوي دارمولو لپاره ئی لښکر جوړی اود اټک څخه تیر شو دحسن ابدال په سیمه کې ئی سکانو ته ماتی ورکړه اوفاتحانه پنجاب ته داخل شو ددی لپاره چې درنجیت سنګهـ د وجاهت څخه یې استفاده کړی وی نوموړی یې دپنجاب حکمران تعین کړ مګر نوموړی لدی څخه خبر نه و چې دمسلي تر شاد انګلیسی استعمار لاسونه دی.

په همدی وخت کې دهرات حکمران شهزاده محمود بغاوت وکړ شاه زمان دقندهار دلاری دهرات خواته روان شو په ( 1797) میلادي کال کې شهزاده محمود ایران ته فرار وکړ او ددی

فرار سره جوخت فتح خان دسردارپاینده محمد خان څوي هم دبالاحصار دبند څخه ایران ته وتښتیده شاه زمان دهرات حکومت خپل څوی شهزاده قصر ته وسپاره.

شاه زمان چې دقوی عزم خاوند اوښه اداره ئی درلوده غوښتل ئی چې داحمدشاه بابا تاریخ یو ځل بیا راژوندی کړی نو په کابل کې ئی لښکر تیار کړ چې شمیر (100000) سل زروته رسیده ترڅو په هند هجوم وکړی او دهند مسلمانان دانګلیس دقواو دتجاوز او شر څخه خلاص کړی داهغه وخت دی چې فرانسی ناپلیون قواوی مصرته داخل شوی وي او هم ئی دشاه زما ن سره اربطه نیولی وه ترڅو په هند کې دانګلیسی قواوو مخنیوی وکړی او هم دفرانسی امپراطوری ته ددوستی لاس ورکړی شاه زمان ددی موقع په استفادی، ددی لپاره ترڅو وکولای شی دهند مسلمانان دانګلیس دمتجاوزو قواوو څخه ازاد کړی مکمل تیاری وینوه په (1798) میلادي کال کې دزیاتو قواوو سره دهند دنیولو په تکل پیښورته ورسیده او لاهور کې رنجیت سنګهـ سره سیاسي مذکرات شروع کړه ددی مذکراتو په نتیجه کې رنجیت سنګهـ اطاعت ته حاضر شو.

انګلیسان چې دشاه زمان د ارادی څخه خبر شو، نوموړی په هند کې دځان دلوی دښمن په حیث وپیژاند سمدستی ئی سیاسي لاس وهنی شروع کړی او دهند ګورنر جنرال لارډویلسلی (Lard Vilsly) دانګلیستان سفیر سرجان ملیکم (sir Jan Milcom) دایران درباته توظیف کړ ترڅو دایران دمقاماتو سره سیاسي مذکرات شروع کړی چې په نتیجه کې دایران د دولت سره یې معاهده وکړه او ددی معاهدی له مخی ایرانیانو تعهد وکړ کچېری دافغانستان پاچا په هند حمله وکړی ددوی قواووی به په افغانستان حمله کوی او که فرانسه یا افغانستان په ایران حمله وکړی په هغه صورت کې به انګلیسان ددوی مرسته کوي دهمدی معاهدی په اساس سرجان ملکم دهند ګورنر جنرال لارډویلسلی ته لیک واستوه چې هغه کې داسی لیکل شوی وو (زه شاه زمان دافغانستان پاچا دانګلیس دلوی دښمن په حیث دهند په لویه وچه کې پیژنم اوپرته لدی چې نوموړی ته داخلی مشکلات پیداشی په هیڅ شان دهغی مخنیوی نه کېږی) ددی وینا په اساس ئی خپل جاسوسان دطبیب، سیاح او تاجر په نومونو افغانستان ته داخل کړل ترڅو خپل شیطانی وظایف ترسره کړی او دبلی خوا سرجان ملکم دایران قاجاری دولت وهڅوه چې خپلی قواوی دافغانستان سرحداتو سوق کړی ترڅو پدی طریقی شاه زمان دشاله خوا دخطر سره مخامخ کړی هغه وو چې اقامحمد قاجار خپلی لښکری خراسان او هرات خواته نږدی کړی.

باید یادونه وکړو چې شاه زمان تصمیم په هند کې دلوئی انقلاب مینځته راوستل وو چې داحمدشاه بابا تاریخ بیا راژوندی کړی اما دانګلیسانو په تحریک د ایرانیانو حمله په هرات اواخراسان باندی ددی سبب شو چې شاه زمان دپیښور او قندهار دلاری هرات ته ځان

ورسوی پدی کار سره قاجاریانو دانګلیسانو هدف ترسره کړ چې عبارت وو دشاه زمان راستنیدل دهند څخه نو خپلی قواوی بیرته دخراسان څخه وغوښتی.

اما شاه زمان خپله اراده دهند دنیولو په هکله بدله نکړه داچې انګلیسانو پخوا، دی خاوری ته خپل جاسوسان داخل کړی وو داکار ئی ګټور ولید او دورونو دبی اتفاقی څخه یې پوره ګټه پورته کړه. شهزاده محمود او فتح خان چې دشاه زمان دبند څخه خلاص شوی و او په ایران کې اوسیدل دقاجاری دولت په کمک متحد شول او پدی توګه دشاه زمان دوه دښمنان چې یو دتاج او تخت اوبل لدی سبب چې دهغه پلار دده په امر وژلی شوی وو دانتقام په نیت سره راپورته کړل اوو ئی کولای شول چې دد وی په واسطه شاه زمان ته مشکلات زیات کړی.

څرنګه چې فتح خان په فراه اوقندهار کې زیات قومی اثر درلود دسیستان دلاری اول فراه اوبیا قندهارته راستون شو او دسرحدی قومونو په مرسته یې فراه او قندهار ونیو شاه محمود خپله پاچاهی اعلان کړه اوبیا یې یولښکر جوړ چې دفتح خان په مشری دکابل په لورحرکت وکړ پدی وخت کې شاه زمان دهغوي دمقابلې لپاره دغزنی څخه تیر او په مقر کې جنګ پیل شوه اما شاه زمان ماتی وخوړه بیرته کابل ته راستون شو هلته یې هم په ځان کې دهغوي دمقابلی توان ونه لیده نو لازم یې وګڼله چې پیښور ته خپل ورور شجاع الملک طرفه ته ولاړ شی د جلال اباد له لاری دشینوارو علاقی ته ورسید. پوره ستړي شوي وو هلته د ملا عاشق کلي ته ددم راستي لپاره ستانه شول.

په اوله کښي د ملا عاشق الله له خوايې تود هر کلي و شو کله چه دوي مطمین شول د ملا عاشق الله کسانو ددوي هستوګنځي محاصره کړ اوملاعاشق خپل ځوي شاه محمود ته واستوه کله چه شجاع الملک ددي پیښي څخه خبر شو ډیر کوشش یې وکړ چې دوي ازاد کړي اما کومه نتیجه یې ورنکړه همدا وخت دي چې شاه زمان د کوه نور الماس د قلعه په چود کښي ځاي پر ځای کوي او یو بل قیمتي جوهر چې فخراج نومیږي ویالي ته واچوه کله چه شاه محمود ته خبر ورسید فوراً یې یو هیېت د پاینده محمدخان د ځوي نواب اسدالله خان په مشري واستوه او شاه زمان یې کابل ته انتقال کړ شاه محمود د همایون په بدل کښي دشاه زمان دواړه سترګي ویستي او بالاحصار کښي یې بندي کړ چې وروسته د امیر دوست محمدخان د سلطنت په دوهمه دوره کښي پداسي حال کښی چې په دواړو سترګو ړوند وو مړشو او د مجددالفثانی دارا مګاه تر څنګ ښخ کړاي شو.

## دشاه محمود د سلطنت اوله دوره (1800-1803) م

شاه محمود وکولای شو چې دوزیر فتح خان او خارجي ایجنټانو په مرسته قدرت ترلاسه کړي خلکو په اوایلو کښي داسي فکر کاوه چې گندي د تیمورشاه دوخت د امنیت دوره به بیاراشي، آما د اشتباه وه ځکه نوموړي په پوره بي کفاتي سره د پردیو په مرسته اقتدار ته رسیدلي و او یو عیاش او بي بندباره سړي و د دولت ټوله خزانه یې په عیاشي خرج کړه او حکومتي چاري وزیر فتح خان او اکرم خان ته سپارلي وي،خو دا چې د دوي دواړو تر منځ سازش نه کېده دوي نشو کولای چې خپلو کښي سره نژدي شي بلکې ورځ په ورځ یې روابط سره خرابیده او د هریو کوشش داوچې خپل ځان شاه محمود ته نږدي کړي چې همدا د دوي رقابت د شاه محمود د نسکوریدو سبب شو.

کله چې شاه محمود پاچا شو شجاع الملک چې د شاه زمان سکني ورور ؤ په (1801) م کال کښي دانتقام پرنیت په شاه محمو د حمله وکړه داشپان په سیمه کښي سره مخامخ شو آما شجاع الملک د غرو د لاري بیرته خیبر ته ستون شو.

په (1802)م کال کښي د افغانستان په شمال کښي ازبکان د جیحون څخه راتیر شو.

په (1803)م کال کښي د ایران قاجاریانو د نادر افشار دکورني څخه خراسان او مشهد ونیوه چې پخوا دافغاني شاهانو د تصرف لاندي پري حکومت کېده او هم په همدي وخت کښي بلو چانو د استقلا ل په نامه پاخون وکړ.لکه څرنگه چې شاه محمود داقتدار د لاسته راوړ لو لپاره ډیري هلي ځلي درلودي نو موړي پدي لنډ دري کلنه دوره داسي کارونه وکړه چې دملک په هره گوشه کښي ددي په اړه نفرت ورځ په ورځ زیاتیده اوپه خلاف یې شورش پیل شو چې مهیم یې د کابل قیام و په نتیجه کښي شاه محمو د سقوط وکړ باید وویل شي چې د شاه محمود د سلطنت په اوله دوره کې دهند انگلیس دولت دافغانستان کوډ کوډ ته د اور سکروټي رسولي وي، دایران قاجاریانو او د پنجاب سکانو د انگلسیانو په شمول د افغانستان په سقوط کې مهیم رول درلود.

## دشاه شجاع د سلطنت اوله دوره (1803-1809) م

دشاه زمان نیول او ړندول دشاه محمود په واسطه دعوامو نفرت او بدبیني دهغه په رابطه لازیاته کړه چې پدي کار سره د شجاع الملک د فعالیت لپاره شرایط برابرشو همداوخت دي چې شاه محمو د پخواني مخالف مذهبي مشر میرواعض او میر محمدخان مختار دوله چې په پکتیا کښي د همدي ورځي په انتظار ؤ شجاع الملک ورته دعوت ورکوي او دوي دواړه په علني شکل د شاه محمود په خلاف فعالیت شروع کوي او خلک د

شاه محمود په ضد پاروي په همدي وخت کښي شجاع الملک د پکتيا د لاري کابل ته راغي کابل يې پرته د جنګ څخه تسليم کړ.

شجاع الملک پداسې حال کښي چې د بابر په باغ يوي اجتماع ته خطاب کوي خپله پاچايې اعلان کړه او پر تخت کښناست سره ددي چې شهزاده کامران او فتح خان د قندهار څخه د کابل په لوري د خپل فوځ سره حرکت کړي وو، په قلعه قاضي کښي د شاه شجاع د مقاومت سره مخامخ شو چې په نتيجه کښي فتح خان او شهزاده کامران ماتي وخوړه. کله چې شاه محمود بلاحصار شاه شجاع ته تسليم کړ شاه شجاع د بزرگي څخه کار وا خيست او شاه محمود يې د ړوند والي څخه معاف کړ خو په بلا حصار کښي يې بندي وساته.

داچې افغانان د زياتو جګړو ستړي شوي وو او د امنيت تګي وو داسي فکريې کاوه چې د شاه شجاع په راتګ سره به امنيت قايم شي آما د اميد يې په نااميدي بدل شو ځکه شاه شجاع ډير خود خواه او جاه طلب سړي ؤ چې د نوموړي ددي بيځايه غرور او بې کفايتي په اثر او ضاع دبد څخه بد تره شوه او خارجي د ښمنانو ته ښه مو قع په لاس ورغله تر څو خپل غرضي لاسونه افغانستان ته دننه کړي.

د شاه شجاع او لني کار داو چې محمد زايانو سره يې صلح او سازش وکړ او ددي صلحي په نتيجه کښي يې فتح خان عفوه کړ او د بلي خوا د خپل اقتدارد استحکام لپاره يې د دوست محمد خان خورپه خپل کی نکاح واخيسته، خو دي دوستي دومره دوام ونه کړ او فتح خان په تو طيې جوړولو لاس پوري کړ کله چې شاه شجاع پيښور ته لاړه فتح خان ورڅخه ستون او قندهار ته يې حرکت وکړ په قندهار کښي شهزاده قيصر د شاه زمان ځوي د قندهار حکمران يې د شاه شجاع په خلاف ولمساوه او ورته يې وويل چې د سلطنت اصلي وارث ته يې همغه ؤ چې شهزاده قيصر بغاوت وکړ کله چې شاه شجاع ددي پېښي څخه خبر شو فوراً کابل ته راغي او د خپلو قواو سره يې يو ځاي په قندهار حمله وکړه قندهار يې ونيوه شهزاده قيصر يې بندي کړ او فتح خان د فراه لوري ته فراري شو آما شهزاده قيصر يې د ړوند پلار شاه زمان په سفارش عفوه کړ او د قندهار حکمران يې مقرر کړ.

فتح خان د فراه څخه هرات ته راغي په هرات کښي فيروز الدين د هرات حکمران د سلطنت د نيولو لپاره تشويق کړخو کومه نتيجه يې ورنه کړه.

په کال (1804)م کښي هغه وخت چې شاه شجاع د کشمير په جنګونو کښي مصروف ؤ شاه محمود د بعضي کسانو په کمک د کابل د بلا حصار څخه فرار وکړ چې پدي کار سره فتح خان ته ښه مو قع په لاس ورغله شاه محمود او فتح خان په هرات کښي سره يو ځاي شول د هيواد په داخل کښي شورش پيل شو او دي نارامي دوه کاله دوام وکړ دا هغه وخت ؤ چې د انګليس فوځونه لودهياني ته داخل شوي وو او د فرانسي د قواؤ د نفوذ څخه په ايران

کښې په ویره کی و، همدا وخت دي چې دلومړي ځل لپاره افغانانو ته د هند انګلیسی دولت لخوا یو هیبت استول کېږي تر څو د دوي تر منځ معاهده جوړه شي د امعاهده چې د دفاعي شکل یې درلوده (1809)م کال د جون د میاشتې په (17) نیټه لاس لیک شوه په همدي وخت کښی شاه محمود او فتح خان قندهار، غزني او کابل ونیول او د پیښور په لور یې حرکت وکړ شاه شجاع ددوي د مقابلې لپاره قوه تیاره کړه د جلال آباد، ګندمک او مملي په سیمه کښې سره مخامخ شول شاه شجاع ماتي و خوړه او شاه محمود د دوهم ځل لپاره په تخت کېناست.

## د پیښور معاهده (17) جون (1809)م کال

په هغه وخت کښې چې شاه شجاع د افغانستان پاد شاه ؤ پدي وخت کښې د فرانسي او روسي تر منځ چې لوي فوځي قوتونه وو د (تلیث) په نامه یوه معاهده امضاشوه چې دوې دواړه هیوادونو د هند دنیولو په رابط یو قیسم خیالات درلودل اوهم یې پدي اړه خپل پلانونه جوړ کړي وو، پداسي خال کښې چې انګلیسان د دوي د پلانو نو د خنثي کولو لپاره په کار لګیاوو او خپل استازي به یې د هند پادشاهانو او راجاګانو ته استول چې ددې جملې څخه یو هم د (الفینستون) استول و په (1809)م کال کښې د شاه شجاع دربارته، چې پدي سفر کښې انګلیسانو شاه شجاع ته په افغانستان باندي د ایران د احتمالي حملې څخه خبرور کړ، دا خبر په حقیقت کښې یو انګلیسي چال و چې شاه شجاع تې یې په ویره کی ویره واچوله په نتیجه کی دشاه شجاع او انګلیس تر منځ په پیښور کښې یوه معاهده امضا شوه، چې همدا معاهده د اروپا سره دافغانستان د دیپلوماتیکو روابطو پیل دي که څه هم د معاهدي متن په دري مادوکې په مختصر انداز کښې ترتیب شوی و آماد پوره تاریخي اهمیت څخه برخودار دي د دي معاهدي څخه د انګلیسانو مطلب داو چې پدي وسیلې سره د دي خبري مخنوي وکړي ترڅو افغانان د ایرانیانو او فرانسویانو مرسته ونه کړي سره لدي چې دي معاهدي د افغانانو لپاره هیڅ ګټه نه درلوده آما انګلیسانو تري پوره ګټه پورته کړه.

## دشاه محمود د سلطنت دوهمه دوره (1809-1818)م

داخل شاه محمود د وزیر فتح خان په مستقمیه مرسته او د خارجیانو په غیري مستقیمي مرستي او کمک اقتدار تر لاسه کړ. په اول کښې داسی فکر کېده چه شاه محمود په داخل د خپلي تیري دوري څخه د عبرت درس اخیستي وي خو متاسفانه چه حالات د اول څخه بد ترشو دا چې د وزیر فتح خان په کمک اقتدار ته رسیدلي و د حکومت ټولي چاري یې

نو موړي ته وسپارلي او خپله شپه او ورځ په دربار کښي په عیاشي او شراب خوړ ي مصروف وه.

وزیر فتح خان ته داځل ښه موقع برابره شوي وه ځکه د هغه ټول مخالفین وژل شوي وو لکه محمداکرم خان امین الملک، شیرمحمدخان مختار الدوله او میر عالم خان. نو داځل وزیر فتح خان ته میدان بیخي خالي وو هغه د خپل اقتدار د زیاتوالی په خاطر ټول افغانستان په خپلو ورونو دمور ګانو په حساب تقسیم کړ.

بلوچستان یې رحم دل خان، قندهار یې سردار پردل خان، پیښوریې سردار سلطان محمدخان، غزني یې سردار شیردل خان او بامیان یې سردار کهندل خان ته ورکړ او نور ورونه یې لکه سردار محمد عظیم خان نواب عبدالجبار خان سردار اسدالله خان او سردار دوست محمد خان یې په مرکزي ادارو کښي د خپل ځان سره وساتل سره لدي چه شهزاده کامران ددي کار سره سخت مخالف و اما دپلار په خاطریې څه نشو ویلای،

وزیر فتح خان کوشش کاوه چه کشمیر و نیسي او خپل ورور سردار محمد اعظیم خان ته یې تسلیم کړي سره لدي چه دکشمیر حکمران عطامحمد خان شاه محمود ته وفادار و. وزیر فتح خان دحملي لپاره لښکر تیار کړ وزیر فتح خان چه (1812)م کال کښي پیښور ته ورسیده دکشمیر حکمران د جګړي لپاره پوره تیاري نیولي وو وزیر فتح خان چه د عطامحمد خان د احضاراتو څخه خبرشو د هغه د مقابلي توان یې په خپل ځان کښي ونه ولیده د پنجاب رنجیت سنګ ته یې وړاندیز وکړ چه د کشمیر په نیولو کښی ورسره مرسته وکړي رنجیت سنګه چه د پخوا څخه ددي موقع په په انتظار وو دهغه وړاندیز ته یې ښه راغلاست وویل او معاهده یې ورسره امضاکړه پدي معاهده کې وزیر فتح خان قبوله کړي وه چه د کشمیر دمالیاتو دریمه برخه به پنجاب ته ورکوي رنجیت سنګه لس زره فوځ دجندرال حکم سنګ په مشري د وزیر فتح خان د لښکرو سره یوځاي کړ په کشمیر یې حمله وکړه په نتیجه کښي د کشمیر حکمران عطامحمد خان یې کابل ته راوړ او کشمیر یې سردارمحمد اعظیم خان ته تسلیم کړ. په (1814)م کال کښي سکان پدي بهانه چې د کشمیر دمالیانو دریمه برخه مونږ ته نده رسیدلي په کشمیر حمله وکړه اما سردارمحمد اعظیم خان ورته سخته ماتي ورکړه.

په (1816)م کال کښي دایران قاجاریانو په هرات حمله وکړه داچې حاجي فیروزالدین د هرات حکمران د هغوي د مقابلي توان په ځان کښي نه لیده د مرکز څخه د مرستي غوښتنه وکړه شاه محمود د وزیر فتح خان په مشر ي چې سردارشیردل خان، سردار کهندل خان، سردارپردل خان اوسرداردوست محمدخان هم ورسره و، یولښکر ترتیب اوهرات ته یې واستوه کله چې وزیر فتح خان هرات ته نژدی شو، حاجی فیروزالدین دهرات حکمران

دهغوي مخي ته دهر کلی لپاره ورغی وزیرفتح خان ئوموړي بندی کړ، سردار دوست محمدخان اوسردار کهندل خان ته یې دهرات ښارته دننوتلو امر وکړ کله چې دسردار دوست خان اوسردار کهندل خان ښارته داخل شول دحاجی فیروز الدین ټول جنرالان یې وژل او په چور اوچپاول یې لاس پوري کړ اوټول قیمتی جواهرات حتی هغه جواهرات چې شاه محمود دلور چې حاجی، په غاړه کی پراته و دوست محمد خان په لاس ورڅخه خلاص کړه اوشهزاده قاسم دشاه محمود زوم هم زخمی شو وروسته دوست محمدخان کشمیرته فرار وکړ وزیرفتح خان دهغه په تعقیب سردار محمداعظیم خان ته خط واستوه اودلیك په رسیدو سره یې سردار دوست خان بندی کړ وروسته وزیرفتح خان حاجي فیروزالدین دکورنی سره قندهار ته واستوه او خپله یې دقاجاریانو سره دجګړې لپاره تیاري ونیوه په نتیجه کی سخته جګړه پیل شوه دقاجاریانو قواوي عقب نشینی ته مجبور شول په نتیجه کی وزیر فتح خان فاتح شو اومشهد او هرات کارونه یې پخپله سمبال کړل.

ددوست محمدخان عمل په شاه محمودډیربداثر وکړ بلا فاصله یې شهزاده کامران دعطامحمد خان سره یوځای هرات ته واستوه کله چې شهزاده کامران هرات ته ورسیده دهرات په تخت کیناست اودوزیرفتح خان دنیولو حکم یې ورکړ وزیر فتح یې دستګیر اودپخوانی عقدی له امله یې، په دی بهانه چې ددوی دکورنی ته یې سپکاوی کړی ددواړو سترګو څخه محروم کړ.

په (1817) م کال کې کله چې وزیر فتخ خان وړوند کړای شو دهغه ورونو دافغانستان په ګوډ ګوډ کې بغاوتونه وکړه او سردار محمد اعظیم خان خپل وروسردار دوست محمد خان دبند څخه ازاد کړاو دیو لښکر په مشری پداسی حال کې چې یار محمد خان هم ورسره و دکابل په لوری یې دسوق امر ورکړ کله چې دوست محمد خان پیښورته ورسید دسدوزیانو دکورنی دشهزاده ګانو څخه یو تن دپادشاهی اعلان وکړپداسی حال کې چې سردار محمد اعظیم خان تښتیدلی شاه شجاع ته پیښور ر دراتلو بلنه ورکړی وه. دی بغاوتونو په شاه محمود بداثر وکړ خپله ئی کابل پریښود او خپل لمسی شهزاده جهانګیر یې دکابل حکمران اوعطا محمد خان یې ورسره وزیر وټاکه خپله غزنی ته لاړ اودشهزاده کامران سره یوځای شو پداسی حال کی چې ړوند وزیرفتح خان هم وسره و. کله چې سردار دوست محمدخان کابل ته داخل شو شهزاده جهانګیرغزنی ته فرار وکړ پدی وخت کې شاه محمود او شهزاده کامران دکابل په لور حرکت وکړ کله چې د وردګو سیمی ته ورسیدل ړوند وزیر فتح خان ئی اعدام کړ او خپله چهار اسیاب ته راورسیده پدی وخت کې سردار شیردل خان،سردار پردل خان او سردار کهندل خان په قندهار کې حمله وکړه او قندهار یې ونیوه

شاه محمود چې د قندهار د پېښې څخه خبر شو د قلات د لاري بيرته په کال (1818) م کې هرات ته ستون شو.

رنجيت سنګهـ د پنجاب حکمران افغانستان د داخلي ګډوډۍ څخه استفاده وکړه او په ملتان باندې حمله وکړه د ملتان حکمران مظفر خان پوره شپږ مياشتې مقاومت وکړ چې بلاخره د دوه ځامنو سره دستګير او ووژل شو کله چې شاه محمود هرات ته ورسيده د پلار ورور او ځوی ترمنځ د هرات په حکمرانۍ اختلاف پيدا شو خلکو يې په منځ کې روغه وکړه شاه محمود يې حکمران او شهزاده کامران ئې وزير وټاکه حاجي فيروز الدين فراه ته ولاړ څه موده وروسته شهزاده کامران په فراه حمله وکړه او حاجي فيروزالدين ايران ته پنا هنده شو چې په دې ترتيب د سدوزيانو د کورنې سلطنت يواځې په هرات او فراه کې پاتې شو او د کابل حکومت د محمد زايانو ورونو ترمنځ په کشمکش کې واقع شو.

په (1729) م کال کې شاه محمود دربار په حمام کې مړ پيدا شو وروسته لدې شهزاده کامران د سدوزيانو د پادشاه په حيث خپل ځان اعلان کړ او د عطا محمد خان په ځای ئې يار محمد خان چې يو لايق او با کفايت شخص وه وزير تعين کړ په دې ترتيب سره د سدوزيانو د پادشاهي په هرات کې ( 1842 )م کال پورې دوام وکړ.

## د سدوزيانو د کورنې څخه د محمد زيانو کورنې ته د اقتدار انتقال

کله چې وزير فتح خان د شهزاده کامران په امر اول ړوند بيا وروسته اعدام شو د هغه د مړينې سره يو ځای د افغانستان په ګوډ ګوډ کې خانې جنګې او فيوډالي کشمکشونه پيل شو. سردار محمد اعظيم د خپل ورور د انتقام لپاره سردار دوست محمد خان د بند څخه آزاد کړ او د يو لښکر په مشرې ورته د کابل په لوری د حرکت امر ورکړ خپله يې په کشمير کې د نورو قومي مشرانو سره ليده کاته شروع کړه او هم يې ټولو دوستانو ته ليک واستوه، ترڅو د شاه محمود په خلاف پاڅون وکړي.

د محمد زيانو نقشه په اوله کې داوه چه د شاه محمود په عوض د سدوزيو د کورنې څخه يو بل شهزاده پاچا کړي نو ځکه سردار محمد اعظيم فراری شاه شجاع ته پيښور ته د راتلو بلنه ورکړه. کله چه دوست محمد دوست خان پيښور ته راورسيد شهزاده ايوب د تيمورشاه ځوی د افغانستان د پاچا په حيث اعلان کړ او پخپله د کابل په لوری روان شو. څه وخت چه شاه شجاع د سردار محمد اعظيم خان په بلنه پيښور ته راغی سردار محمد اعظيم خان ونه شوه کولای چې د شاه شجاع سره جوړښې نو ځکه ايوب شاه ته يې ترجيح ورکړه او ورڅخه حمايت يې اعلان کړ. سردار دوست محمد خان چه د کابل ته نژدی شو د وزير عطامحمد

خان سره یې سازش وکړ اوشهزاده جهانګیر دکابل حکمران غزنی ته لاړ. دوست محمد خان چه کابل ونیوه، دسدوزیانو دکورنی یوبل شهزاده سلطان علی شاه د.شاه زمان ځوی یې پاددشاه کړاوخپل ځان یې ورته دوزیر په حیث وټاکه چه دوی بیاپه شریکه په غزنی حمله وکړه او دشاه محمود دشهزاده کامران او شهزاده جهانګیر څخه یې غزنی ونیوه.

پدی وخت کې ایوب شاه او سردار محمد اعظیم خان کابل ته راورسید ایوب شاه پادشاه او سردار محمد اعظیم خان دهغه وزیر په حیث وټاکل شو چې پدی ترتیب دسدوزیو دکورنۍ دوه شاهان او دمحمد زیو دکورنی دوه وزیران څنګ په څنګ ناست وو. په داسی حال کې چې اصلی قدرت دسردار محمد اعظیم خان اوسردار دوست محمد خان سره و. اما دخودخواهی اوبی اتفاقۍ له وجې یو هم نشو پادشاه کېدای نشو، دی حالت ډیر دوام ونکړ لږ موده وروسته شهزاده اسماعیل دایوب شاه ځوی سلطان علی شاه وواژه چې په دي ترتیب میدان دیو څه مودی لپاره سردار محمد اعظیم خان ته خالی شو.

په (1821) م کال کې سردار محمد اعظیم خان یو جنګی سفر پیښورته وکړ او دهغه ځای مالیات ئی راټول کړل په (1822) م کال کې دپنجاب سکانو کشمیر اوډیره جات ونیول چې پدی حمله کې دانګلیسانو تحریک موجود و اودسردار یار محمد خان اوسردار سلطان محمدخان لاس هم پکې شامل وو. کله چې سردار محمد اعظیم خان پوهـ شو نو دپیښور څخه جلال اباد دلاری کابل ته حرکت وکړ په داسی حال چې ډیره زیاته خزانه ورسره وه په لته بند کې مریض او مړ شو خزانه دهغه دځوی سردارحبیب الله خان په لاس ورغله او هم ئی دایوب شاه د وزیر په حیث وټاکل شو.

څرنګه چې سردار حبیب الله یو عیاش اوبی کفایته سړی و ایوب شاه غوښتل چه دخپل ځوی شهزاده اسماعیل پواسطه هغه دمنځه یوسی دبلی خوا سردارپردل خان دسردارمحمد اعظیم خان خزانی ته سترګی پټی کړی وي همغه و، چه په (1863) م کال کې کابل ته راغی اودایوب شاه نقشه یې شنډه کړه شهزاده اسماعیل یې ووژاه اوایوب شاه یې دپادشاهی څخه لری کړ خپله یې دکابل امنیت تامین کړ او وروسته یې دپیسوپه بدل کې سردار حبیب الله خان ته تسلیم کړ داچې سردار حبیب الله خان یو بي کفایة شخص وو اوبیاهم خلک دده څخه راضی نه وو او غوښتل یې چې له منځه ویسی پدی وخت کې سردار حبیب الله خان دخپل قندهاری ترونو څخه بیاکمک وغوښت شیردل خان دهغه کمک ته راغی خوکله یې چه حالات بهرانی ولیده حبیب الله خان یې لری اوخپله یې دکابل اقتدار سمبال کړ.څه موده وروسته شیردل خان مړشو سردار دوست محمد خان دسردار حبیب الله خان دمور سره نکاح وکړه ترڅوپدی طریقه قدرت ترلاسه کړی.

په (1825)م کال کې دمحمد زایانو ورونو ترمنځ سخته خونړۍ جګړه پیل شوه داچې افغانان نور دجګړې څخه ستړي شوی وو، ددوي ترمنځ یې‌صلحه وکړه ددې صلحې په نتیجه کې دوی په قرآن تعهد وکړ چې افغانستان به دیوشرعی وثیقی له مخی په خپلو کې سره تقسیموی چې دوثیقی اصلی نسخه دکابل په موزیم کې پرته وه په (1826) م کال کې افغانستان په لاندې ډول دمحمد زیان ورونو ترمنځ وویشل شو. ((**کابل یې دوست محمد خان اودهغې سکنی ورونو ته ورکړ، چې مالیات به ئې نواب عبدالجبار خان راټولوه. کوهاټ هنګو اود هغه مربوط سیمی ئې نواب عبدالصمد خان. پیښور او دهغه مربوط سیمی ئې سردارپارمحمدخان او د هغه سکنی ورونو ته او لوګر، میدان او غوربند یې سردار حبیب الله خان او سردار محمد اکرم خان ته ورکړ**)) او هم ئې قبوله کړه چې دکال یو لک روپۍ به سردار یارمحمد چې دټولو مشر ورور ؤ او مشرانه ورکوی اوهیڅ یو ورور او وراره به دنور په تصرفاتو کې لاس وهنه نه کوی دتخلف په صورت کې به دټولو دښمن وی.

کچېرته قندهاری ورونو هریو سردار شیردل خان، سردار کهندل خان او سردار مهردل خان که دامعاهده ونه منی دهغوي سره به په شریکه دښمنی کوی اونه به یې پریږدی چې دخپلو حدودو څخه تیری وکړی.

کله چې شیردل خان مړشو دهغه ځای پردل خان ونیوه او په پیښور کې دسردار عطاء محمد خان د مړینی څخه وروسته سردار یا رمحمد خان حکمران شو په کال (1827)م کې پداسی حال کښې چې سردار دوست محمد خان په (ده سبز) کې په جګړه اخته و، دکابل خلکو بالاحصار محاصره کړا وسردار پردل خان تیښته وکړه پدی ترتیب دسردار دوست محمد خان لپاره لاره خلاصه شوه دکابل پروان او زابل اداره ئې مستقلاً په لاس کې واخیسته. دپیښور حکومت سردار سلطان محمد خان ته ورسیده هغه درنجیت سنګه اطاعت قبول کړ که څه هم ددی څخه مخکې ئې باج هم ورکاوه.

## د سردار دوست محمد خان حکمرانی په کابل کې

کله چې سردار دوست محمد خا ن پایتخت ونیوه پدی وخت کې افغانستان په څلورو عمده مرکزونو ویشل شوی و چې ددی مرکزوڅخه یو هرات ؤ چې دسدوزیانو دبقایاو په واسطه اداره کېده اونسبتاً ښه اداره یې درلوده ځکه یواځی شهزاد کامران وکولای شول د هرات دحدود څخه دایران دحملاتو په مقابل کې دفاع وکړی دری نور مرکزونه عبارت وو له قندهار، کابل اوپیښور څخه چې اداره ئې دمحمد زیانو په لاس کې وه.

دوی د کورنی بی اتفاقی په وجه ونشو کولای چې خپل حدود وساتي قندهاري ورنو سند، بلوچستان اوبهاولپور محلی اداروته وسپاره دپیښور ورونو څخه کشمیر اوډیر جات دپنجاب سکانو نیولی وو، په دوي کې یوائی سردار دوست محمد خان سره دمرکزی حکومت دجوړیدو خیالات وو. او شمالی سیمی د ملوک طوایفی په اندازه کې دمیرانو په واسطه اداره کېدلی.

په (1832) م کال کې سردار دوست محمد خان لغمان دنواب عبدالجبار خان څخه ونیوه اوخپل سکنی ورور امیر محمد خان ته یې تسلم کړ دپیښور حکمران سلطان محمدخان پیښور رسماً دسکانو پوری تړلی وو. او سکان دومره زړه ورشوی وو، چې غوښتل یې په کابل حمله وکړی پدی وخت کې انکلیس خپل نماینده.

(لیکساندربرنس) دخبرولپاره سردار دوست محمد خان ته راولیږه اوسردار دوست محمد خان سره ئی خبری پیل کړی، دي کار قندهاری ورونو ته سخته ویره پیدا کړه نو بلا فاصیله ئی ځان دایران په لمن کې ځان ورواچاوه اودروس سفیر سمو ویچ سره ئی په ایران کې وکتل.

په (1834)م کال کې رنجیت سنگهـ دشاه شجاع سره خبری وکړی اوبلاخره دپیښور معاهده یې چه په (14) څوارلس مادومشتمل وه ورسره امضاء کړه، پدی معاهده کې سکانو ته زیات امتیازات ورکړل شوی وو اوسکانو قبوله کړی وه چې دشاه شجاع سره به دتاج او تخت په استرداد کې کمک کوی شاه شجاع دسند میرانو څخه دمالیاتو غوښتنه وکړه اما هغوي دمالیاتو په ورکولو قانع نه وو. شاه شجاع ورسره جګړه پیل کړه او کامیابی دشاه شجاع په برخه شوه ورسته یې (22000) دویشت زره کسیزفوځ جوړ او دبولان دلاری په قندهار حمله وکړه پدی وخت کې سردار دوست محمد خان جلال اباد څخه فاتحانه کابل ته ستون شوی و او جلال آباد یې دسردار دمحمد زمان خان دحکمرانی څخه ازاد او خپل سکنی ورو امیرمحمد خان ته تسلیم کړ.

قندهاری ورونو دشاه شجاع دحملی په مقابل کې دسردار دوست محمد خان څخه دکمک غوښتنه وکړه هغه قبوله اوخپلو لښکر وسره قندهار ته ورغی اودشاه شجاع لښکرو ته ئی ماتی ورکړه پداسی حال کې چې دشاه شجاع سره درنجیت سنگهـ فوځونه اوانگلیسی مشاورین هم ورسره وو. شاه شجاع فراه ته لاړ هلته یې دخپل وراره شهزاده کامران څخه دکمک غوښتنه وکړه اما هغه منفی ځواب ورکړ وروسته په قلات کې دمیرنصیر خان سره پنا هنده شو وروسته بیا لودهیانی ته ولاړ.

دقندهار دفتحی څخه وروسته سردار دوست محمد خا ن زیات شهرت تر لاسه کړ کابل ته راغی کله چې یوی عامی جلسی ته حطاب کاوه پدی مجلس کې دغاصبو کفارو سره

دجهاد مسله رامنځته شوه کله چې دجهاد موضوع مطرح شوه پدې ځای کې میرحاجې دمشهورمذهبی مشر میرواعظ ځوی دجهاد لپاره دامارت په موضوع ټینګار وکړ نو سردار محمد دوست محمد خان دورونو دویری دپاچاهی دلقب څخه تیر او دامارت عنوان یې قبول کړ.

## دسردار دوست خان امارت لمړنی دوره

## (1834-1839) م

سردار دوست محمد خان دیو مذهبی احساس له مخی دامارت مقام ته ورسیده په لومړی ځل دکابل عیدگاه په مسجد کې دهغه په نوم حطبه وویل شوه. لکه څرنګه چې مخکې یادونه شوی چې په (1825)م کال کې دیوی وثیقی له مخی افغانستان دمحمد زائی ورونو ترمنځ ویشل شوی وو. کومه منطقه چې دسردار دوست محمد خان په قبضه کې وه نوموړی دخپل امارت په وخت کې هغه سیمه دخپلو (۱۴) خوارلسو ښځو په اولاد ونو چې شمیر یې (۵۲) تنو ته رسیده تقسیم کړ. باید وویل شی چې امیر دوست محمد خان نه یواځی داچې خاوره دخپل ځامنو ترمنځ وویشله بلکې دافغانستان اردو (عسکری قوت) یېهم په خپلو ځامنو وویشلو.

مخکې کې یادونه وشوه چې امیر دوست محمد خان د مذهبی احساس له مخی دامارت مقام ته رسیدلی و، نو مجبور و چې دغاصبو کفارو په مقابل کې دجهاد اعلان وکړی په (1835 ) م کال کې سکه جوړه کړه چې په هغه کې یې داسی بیت لیکلی وو. امیر دوست محمد خان به غزم جنګ جهاد = کمربست وبزد سکه ناصر حق باد په همدی وخت کې د (5000) پنځه زره پیاده او (10000 ) لس زره سورو سره پیښورته داخل شو. رنجیت سنګه چې کله دافغانانو دنوی قوی څخه خبر شو چې دمذهبی احساس په بنا راپورته شوی، په خپل ځان کې دهغه دمقابلی توان ونه لیده پرته لدی چې دصلحی لار ه ونیسی بله چاره یې نه وه، فوراً یې یو هیت دجنرال هارلان او فقیر عزیز الدین په مشری دامیر دربارته راواستوه اووظیفه ئی ورکړه چې دامیر په لښکر وکې بی اتفاقی پیدا کړی. داچې دسردار سلطان محمد خان سره ئی پخوانی رابطه موجوده وه او هغه ئی مخکی دپیښور څخه شړلی و وئی کولای شو چې نوموړی دوباره قانع او دځان طرفدار کړی. نوموړی دلس زره عسکرو سره دجنګ دمیدان څخه ووت کله چې امیر دوست محمد خان داحالت ولیده پرته له جګړی څخه یې میدان پریښود اوکابل ته راغی.

امیر دوست محمد خان په (1836) م کال د هند گورنر جنرال لارډ اکلنډ ته د مبارکۍ پیغام واستوه او ضمناً یې ورڅخه د پېښور د مسلې په رابطه مشوره وغوښته، چې دا مکتوب په غیر مستقیم انداز کې انګلیسانو ته د افغانستان په امور اتو کې د مداخلې دعوت ورکول وو، که څه هم انګلیسانو په ښکاره ځواب ورکړ چې د دوی هدف په هند کې تجارت دی او دوی د کوم دولت په داخلي چارو کې مداخله نه کوي، خو د دې باوجود د تجارت په نامه یې یو هیت کابل ته واستوه همدغه شان عمل سردار کهندل خان د قندهار حکمران د ایران د دولت سره وکړ او د ایران څخه یې غوښتنه وکړه چې د ایران او روس نماینده گان دې قندهار ته راشي.

څرنگه چې پدې وخت کې امیر دوست محمد خان شکست خورده د پېښور څخه ستون شوی وو په خلکو کې د هغه رابطه زیاته وه اما امیر دا مسله ډیره زر درک کړه د خپل حیثیت د بیرته اعادې لپاره یې دوباره د جهاد اعلان وکړ، بې ویلو دې پاتې نه وي چې سکان پدې وخت کې دومره زړه ور شوي وو چې غوښتل یې په جلا ل آباد حمله وکړي

په (1837) م کال کې د نواب عبدالجبار خان په مشرې یو لښکر ترتیب کړ پداسې حال کې چې سردار محمد افضل خان او سردار محمد اکبر خان ورسره وو، جمرود ته داخل شو پدې وخت کې د پنجاب د قواوو سپه سالار (هری سنگهـ) چې د پېښور والی هم و په عجلې سره ځان جمرود ته راورسوه.

جګړه پیل شوه (12) دولس ورځې یې دوام وکړ په نتیجه کې سردار عبدالجبار خان او نور سردار نو ماتې وخوړه خو په دې جریان کې ملا اسماعیل فریاد وکړ (ای د اسلام د لښکرو سرداره، اسلام دې غرق کړ) کله چې دا فریاد ځوان سردار محمد اکبر خان واورېده نو د خپل صلاحیت مظاهره یې وکړه او د خپلو مجاهدینو سره یې د دښمن په قواوو د شاله خوا برید وکړ پدې ځای کې که څه هم (هری سنگهـ) د دفاع هڅه وکړه مگر سردار محمد اکبر خان نو موړي د توري په گذار داس دزین څخه را خطا کړ او هري سنگهـ د همدې ځای څخه د خپلو منظمو قواوو په شمول تر هغه شاته و نه کتل تر څو د پېښور بالاحصار ته ورسید او وروسته یې بیا د پېښور د تخلیه کېدو ترتیبات ونیول.

پدې وخت کې نواب عبدالجبار خان امیر دوست محمد خان ته مکتوب واستوه او د مجاهدینو د پیشرفت په باب یې ورڅخه امر وغوښت اما امیر عجولانه امر ورکړ چې قواوې دې بیر ته ستانه شي په نتیجه کې فاتح مجاهدین بې نتیجې ستانه شول.

د (1837) کال د دسمبر په میاشت کې د انګلیسانو یو هیت د الکساندر برنس په مشرې کې کابل ته ورسید او امیر سره یې مذاکرات پیل کړل موده وروسته د ایران دولت په هرات حمله وکړه چې پدې ترتیب امیر په دوه لمو کې ونښته یعنې یو خوا ته سیاسي مذاکرات

اوبلی لوری ته نظامی مسایل. الکساندر برنس دهند دگورنرجنرال لیک امیر دوست محمد خان ته تقدیم کړ لیک په داډول و «مخکې مو درته لیکلی وو چې دانګلیس دولت دتجارت توسعه غواړو ترڅو دهند اوافغانستان ترمنځ اسانتیاوی رامنځته شی له تاسی څخه دی پټه نه وی چې تجارت دقومونو دباثمره ژوند بنیاد جوړوی نو ځکه دانګلیس دولت دامن او ارامی طرفداری دی او په همسایه هیوادو کې دتجارت انکشاف غواړی مونږ دي هدف د رسیدو په خاطر دسند د دریاب دواړه خواوی دکشتی رانی لپاره ازادی غواړو پدی خاطر می الکساندر برنس در واستوه ترڅو دهنداو افغانستان ترمنځ دتجارت په برخه کې دزیاتو اسانتیاوی په برابر ولوکښي تاسو سره مفاهیمه وکړی امید واریم چې ددوست په شکل یې دربار ته ومنی او مذاکرات ددواړو خواو په ګټه وی.......لارډاکلینډ»

دانګلیس هیت چې هرڅه وویل هغه هسی خبری وي بلکې حقیقت دادی چې انګلیسانو هیڅکله هم دافغانستان دوحدت نه غوښته بلکې او ارزو یې درلوده چې قندهار، هرات، کابل هریو په جلا، جلا ډول ددوی دهدایت مطابق عمل وکړی.

دقندهار سردار دکابل څخه مخکې (سمونچ) او (ویتکو یچ) په دام کې پریوتی وو. او دروس په ضمانت یې دایران سره داتحاد. قرارداد لاسلیک کړی وو، پدی وخت کې ایران په هرات حمله وکړه نو انګلیس دقندهار څخه ناامیده شو کابل ته یې توجه وکړه او دامیر څخه یې وغوښتل چې په هرات حمله وکړی اما امیر ددی حملی په بدل کې دانګلیسانو څخه غوښتنه وکړه چې دپنجاب سکان دی پیښور پریږدی برنس داخبر رد کړه اودسکانو طرفداری یې وکړه ویې ویل «تراوسه پوری چې سکانو په کابل حمله نه ده کړی او سردار سلطان محمد خان څخه یې جاګیر ندی اخیستی دازمونږ په خاطر دی». امیر ورته وویل چې «رنجیت سنګهـ دشاه زمان نوکر و اوپیښور یې هغه وخت ونیو چې زه دقندهار په جنګونو کې مصرف وم اوبل داچې دسردار سلطان محمد خان اوسیدنه په پیښور کی ماته دسک څخه هم مضردی ځکه هغه دمسلمانی په لبا س کی دسکهـ نفوذ زماتر پایتخته پوری رسوی».

په همدی وخت کې دروس نماینده ویتکو یچ کابل ته راورسیده اوبرنس دمشوری لپاره هند ته لاړه دامیر برخورد دروس دنمایده سره سوړ و، داپدی خاطر چې دلاری ډاکلینډ فیصله ورته ورسیږی. لار ډاکلنډ په هند کې دبرنس خبروته اعتنا ونکړه اودامیر دوست محمدخان دمطلق اطاعت غوښتتنه ئی وکړه امیر دافیصله رد کړه او دروس نماینده ته یې توجه وکړه او خبری یې ورسره پیل کړی امیر دپیښور دسردار په رابطه دکمک غوښتنه وکړه او دروس نماینده په دروغو وعده ورکړه او هم دروس دپاچا (زال) لیک ورته تسلیم کړ.

## دمثلث معاهده

په (1838) م کال کې دمثلث معاهده په لاهور کې امضاء شوه دامعاهده په شپاړس (16) مادي یې درلودې دانګلیس، رنجیت سنګهـ او شاه شجاع له خوا کوم چې قانوني حیثیت یې نه درلوده امضاء شو، سره لدې چې امیردوست محمد خان انګلیسانو ته دپېښور څخه دلاغرضی خبره ښکاره کړې وه چې لدې څخه وروسته به زه دپېښور نوم نه اخلم خو ددې باوجود لړ موده وروسته انګلیسانو په کلکته کې خپل اعلامیه خپره کړه چې پدې اعلامیه کې په افغانستان باندې خپل عملیات قانوني ښودلي وو او امیر دوست محمد خان یې په پېښور متجاوز ښودلی و اویلي وو چې دمحمد زیانو کورنۍ داختلاف په وجه دانګلیسانو لپاره نیک متعهد نشي جوړیدای دلاهور دمعاهدې (دمثلث د معاهدې) په اساس یې غوښتل چې دافغانستان تاج او تخت شاه شجاع ته چې یو فراري او هیڅ قیسم حق یې نه درلود ورکړي او ددې په بدل کې به شاه شجاع دافغانستان یو څه خاوره لکه کشمیر، ډیره جات، پېښور او خیبر رنجیت سنګهـ ته ورکوي، او هم یې ورڅخه تعهد اخیستی وو چې هیڅ داسې دولت سره به دوستي نه کوي چې دانګلیسانو مخالف وي او هم به دهرات استقلال چې دشهزاده کامران سره و په رسمیت پیژني.

پدې ترتیب دلاهور معاهده ددوه دولتونو اویو شخص له خوا امضاء شوه پدې معاهده کې انګلیسانو تعهد کړی وو چې دافغانستان تاج اوتخت دهغه قانوني اوشرعي وارث ته روسوي، دانګلیس قواوې به ترهغه په افغانستان کې پاتي کېږي ترڅو چې دافغانستان پادشاهي خپل قانوني وارث ته نه وي رسیدلی باید وویل شي چې پدې وخت کې دانګلیسانو انجنټانو په داخل کې دافغانستان کې دومره فعالیت کړی وو چې دمحمد زایانو ورونو په روحي اندازه کې هغوي ته ځان تسلیم لیده.

انګلیسانو تصمیم درلود چه دپېښور اوخیبر دلارې افغانستان ته داخل شي اما درنجیت سنګهـ دمخالفت په وجې هغوي خپل خط سیرته تغیر ورکړ اودقندهار دلارې یېحمله وکړه سردار کهندل خان او دهغه ورونو پرته لدې چه مقابله وکړي قندهار پریښود اوایران ته پناهنده شو شاه شجاع دتاج پوشي مراسم به قندهار کې پداسې حال کې ترسره شو چې دانګلیس دقواو قومندان جنرال – (کېن) اوخاص نماینده مکناټن حاضر وو. مکناټن دانګلیس د دولت تحایف او دمبارکي مراتب شاه شجاع ته تقدیم کړه او ددې سره جوخت دپادشاهي دجشن مراسم په پېښور کې دشهزاده تیمور په وړاندې اجرا شو.

انگلیسی قواو (1839) م کال کې دقندهار څخه غزنی ته حرکت وکړ او په غزنی کې یې دسردار غلام حیدر خان دهغه دکورنۍ سره ونیوه په همدې وخت کې امیر دوست محمد خان دایران اوروس څخه دکمک غوښتنه وکړه مگر هغوي رد کړه اودبی طرفی پالیسی غوره کړه.

کله چې امیر دوست محمد خان ناامیده شو پرته له جگړې څخه یې دعقب نیشنی تصمیم ونیوه داونی دکوتل دلاری بامیان او خلم ته لاړ او کورنی یې دنواب عبدالجبار خان سره تاج قرغان ته ورسیده سره لدې چې دلاری په اوږدو کې محلی حاکمانو دامیرښه استقبال وکړ مگر امیرد جگړې او مقاومت روحیه نه درلوده. کله چې خلم ته ورسید دیو شمیر ځامنو او وریرونو سره بخاراته پناهنده شو.

انگلیسانو دنواب عبدالجبار خان څخه غوښتنه وکړه چې دامیر کورنی پاتی برخه دي کابل ته راشی نواب داخبر ه قبوله کړه اما سردار محمد افضل خان دامیر ځوی اوسردار محمد عمر خان دامیر وراره دهغه مخالفت وکړ اوپه تاج قرغان کې پاتی شول پدی ترتیب دامیر کورنی یو ه برخه او دسردار غلام حیدر خان کورنۍ دانگلیسانو په قبضه کې شول کله چې امیرپه بخارا کې ددی جریان څخه خبر شو دهغه ځامنو او وریرونو داهڅه وکړه چې بیرته افغانستان ته داخل شی اما دبخارا دفوځ له خوا تعقیب او دستگیر شول چې تر (1842)م کاله پورې پرته لدې چې کوم امتیاز ولری دبخارا په بند کې پاتی شول.

## دشاه شجاع دحکومت دوهمه دوره (1839-1842)م

کله چې امیر دوست محمد خان بخارا ته فرار وکړ شاه شجاع دانگلیسی قواو سره د غزنی دلاری کابل ته راغی په همدې وخت کې شهزاده تیمور د(کپتان ویدی) سره دخیبر او جلا ل اباد دلاری کابل ته راغی شاه شجاع په ظاهر ه کې افغانستان پادشاه ؤ مگر په اصلی معنی دانگلیسی سفیر مکناټن دصدارت وظایف تر سره کول اوالکساندر برنس دداخله وزرات چاری دکابل دخراباد دبازار څخه کنترولولی او ظبط حوالات دنده (مهن لال) ته سپارل شوی وه.

په (1840) م کال کې شاه شجاع جلا ل اباد ته سفر وکړ پداسی حال کې چې دانگلیسی (500000) پنځوس زره لښکر وسره و دوی پدی فکر کې وو چې په افغانستان کې دایمی پاتی شی، نو خپل قوتونه یې دافغانستان په زیاتو ولایاتو کې تقسیم کړ چې تقریباً دافغانستان نیمائی برخه یې نیولی وه کله چې شاه شجاع بیرته کابل ته ستون شو دانگلیسانو څخه سخت په تنگ شوی ؤ. اویوفرمان ئی دملت په نامه صادر کړ پدی فرمان

کې غوښتنه کړې وه ترڅو دانګریزانو په خلاف یو عمومي ملي پاڅون وکړي خومتا سفانه دافرمان خپل ځاي ته ونه رسیده اودانګلیسانو دجاسوس په لاس ورغی پدی وخت کې امیر دوست محمد خان دکندوز دلارې دبخارا څخه افغانستان ته داخل شو په تخار کې یې ښه استقبال وشو او(5000) پنځه زره دوطلب فوځ یې ترشاو درید بیا بلخ ته راغی خلم کې خلکو دهغی ښه قدرداني شوه او (5000) پنځه زره نور فوځ هم ورسره یوځای شو چې پدی ترتیب (10000) لس زره کسیزه فوځ تیار اوسردار محمد افضل خان یې دهغه دقومندان په حیث وټاکه کله چې دانګلیسان ورڅخه خبر شول دهغی دمقابلی لپاره یې خپله توپ خانه ورواستوله چې په نتیجه کې سردار محمد افضل خان ماتی وخوړه.

پدی وخت کې افغانانو دانګلیسانو اصلی څیره ښه پیژندلی وه او دهغوي په ضد په ټول افغانستان کې حرکت پیل شو وو څکه د(50000) پنځوس زره عسکرو ساتل زیات مصارف ایجابوه اومالیات ډیر زیات شوی وو داپاڅون اول ځل په کنړ کې پیل شو بیاخوګیاڼو، تیزین، کوهستان اوغلجیانو پیل کړ اوبه همدی ترتیب په نجراب کې دسلطان محمد خان په مشری، په کوهدامن کې دمیر مسجدی خان په مشری، په لوګر کې دامین الله خان لوګري په مشری،په کابل کې دمیر حاجې په مشری او همدرانګه په قندهار غزنی اوبامیانو کې دانګلیسانو په خلاف په متفرقه انداز کې جګړه پیل شوه کله چې په کوهستان، پروان، نجراب او کوهدامن کې جګړې شدت پیدا کړ پدی وخت کې امیردوست محمد خان اوسردار محمد افضل خان دخپلولښکرو سره کوهستان ته راغلل اودملی مشرانو له خوادهغوي تود هرکلی او قدردانی وشوه اوامیریې دجهاد مشر په حیث انتخاب کړ.

دجګړې په دوهم ورځ امیر دوست محمد خان ددرې معتمد کسانو سره جنګ دمیدان څخه ووت اودیو نامعلوم هدف په لور روان شو کله چې کابل ته نژدې شول اول یې غوښتل چې پکتیا ته لاړشی اودجهادصف قوی کړی کله چې دکابل څخه تیر یده تصمیم یې بدل شو دبالاحصار لوری ته یې حرکت وکړ بالاحصار ته نژې شول پدی وخت کې مکناټن دخپل ګارد سره چکرواهه امیر سلطان محمد خان ته هدایت ورکړ چې مکناټن ته خبرورکړی کله چې مکناټن خبر شو تعجب یې وکړ اوبیا دواړه لاس په لاس دهغی ودانی لوری ته روان شو کوم چې امیر دوست محمد خان جوړه کړې وه مکناټن دخبروپه پیل کې امیرتهوویل چې ستاځوی سردار محمد افضل خان اوس هم زمونږ دقواوو په مقابل کې په جګړه بوخت دی ته ورته ولیکه چې جنګ ختم کړي او کابل ته راشي.

امیر خط ولیکه اوقاصد ته یې ورکړاو دهغه په لاس ئی خپلی عینکې او چاقو دنشانی په توګه ورواستوه کله چې سردار محمد افضل خان ته دامیرخط ورسید دپلارد حکم څخه ئی اطاعت وکړ او کابل ته راغی پدی وخت کې مکناټن امیر ته وویل چه تاسی به هند ته لاړشی

هغه ورته وويل چه زه اوس تاسي سره يم څه امر چې کوي قبول دي، همغه و چه امير د خپلې کورنۍ سره دجلال اباد او پيښور دلارې بنديان هند ته واستول شول چې پدې کار سره ملي مشران نور هم فعال شول او خپلو جګړې ته يې شدت ورکړ.

(1841) م کال دنومبر دمياشتي په دوهمه چې دروژي دمياشتي (17) سره سمون خوري دافغانستان په تاريخ کې دافتخار ډکه څخه ورځ ده پداسې حال کې چې دانګليسانو په تاريخ کې يو دغمه ډکه ورځ وه په همدې وخت کې ملي مشران سره راغونډ او دجهاد درهبري يوه واحده هسته جوړه کړه او دعبدالله خان اڅکزي په کور کې غونډه وکړه چې په نتيجه کې نواب محمد زمان خان دمشر او امين الله خان لوګري دنايب په حيث انتخاب شواو هم يې (12) دولس کسيزه شورا جوړه کړه چې دجهاد درهبري مسوليت په غاړه واخلي دعمومي پاڅون نقشه جوړه شوه دپلان مطابق دافغانستان په ګوټ، ګوټ کې دانګليسانو په نظامي هډو دشبخون حملې پيل شوي او پدې وخت کې په انګليسانو ټولي مواصلاتي لارې بندې شوې نو پرته دسولې بله لاره چاره يې نه درلوده همغه و چې ملي مشرانو ته يې دسولې وړانديزوکړ اويو (5) ماديزه معاهده تسويد کړه.

خوبياهم مکناټن غوښتل چې دوخت په تيريدو سره دمرکز څخه کمک ترلاسه کړي آماملي مشرانو ته دهغوي ټول چالونه بربنډشوي وو داموقع يې ورنکړه او معاهده يې امضاء کړه پدې وخت کې سردار محمد اکبر خان اوسردار سلطان احمد خان (10000) لس زره فوځ سره کابل ته راغلل ملي مشرانو دهغوي قدرداني وکړه اودنواب محمد زمان خان پرځاى يې سردار محمد اکبر خان دجهاد دامير اوقايد په حيث تعين کړ.

دا چې مکناټن خپل شيطاني خصلت دلاسه نه و ورکړى نو ويې غوښتل چې دسردار محمد اکبر خان څخه دانګليسانو په ګټه کار واخلي همغه و چې د مذاکراتو پيشنهاد يې وکړ، پدې ملاقات کې سردار سلطان احمد خان هم ورسره و دوهم ځل بيا مکناټن دسردار محمد اکبر خان څخه دخفيه ملاقات غوښتنه وکړه سردار محمد اکبر خان دملي مشران په مشوره داغوښتنه ومنله پدې مذاکراتو کې چې دشپې لخوا دوه په دوه ترسره شول مکناټن ډير غولونکې وړانديزونه سردارمحمد اکبر خان ته وړاندې کړه اوسردار محمد اکبر خان په سړه سينه اوپوره اطمينان سره دمکناټن وړانديزونه دځان سره دفيصلې په خاطر واخيست کله چې خپل مرکز ته ورسيده نو دملي مشران په مشوره يې مکناټن ته اطمنان ورکړ پدې پيشنهادونو کې يو دنايب امين الله خان دسر قيمت تعينول ؤ چې (150000) يو نيم لک روپۍ وې.

دبلې خوا مجاهدينو دخپل پلان له مخې دافغانستا په ګوټ، ګوټ کې دانګليسانو په مرکزونو باندې بريدونه پيل کړې وو، کله چې سردار محمد اکبر خان مکناټن ته اطمينان

ورکړ اودخپلو ملگرو سره دهغه دربار ته ورغی پدی وخت کې ددواړو خواوخبری پیل شوی خود خبرو په جریان کې تاوتریخوالی پیداشو اومکناټن خپل گارد ته ددوی دنیولو امرورکړ اما سردار محمد اکبر خان په پوره چالاکې سره مکناټن ختم کړ او همدرانگه نور ملی مشرانو هم اقدام وکړ او په دربار کې حاضرټول انگلیسان یې له منځه یوړه چې پدی وخت کې جگړه د دربار دداخل څخه بیرون ته ووته او مجاهدینو دبرنس کورته اورواچوه اودبرنس سریې دتن څخه جدا کړ وروسته مکناټن اوبرنس یې په چوک کې دخلکو دننداری لپاره په دار وځړول.

پدی وخت کې انگلیسان دکابل دتخلیې په فکر کې شول اوملی مشرانو دکابل تخلیې په رابطۀ خپل شروط انگلیسانو ته وسپارل چې پدی کې دټولی درندی سلاح تسلیمول نقدی جریمه اوجنگی یرغمل شامل وو او هم دجنوری په (6) نیټه کال (1842) م کی یې ورته دتخلیې ورځ تعین کړه ترڅو چې ټاکلی نیټه رارسیده دانگلیسانو غوږونو ته قیسما قیسم خبري او افواهات رسیدل چې دهغوي مورال یې نورهم ضعیفه کړی و کله چې ټاکلی وخت راورسیده انگلیسانو نقدی رقم ادا کړی و، پداسی حال کې دکابل تخلیه شروع شوه چې انگلیسان قدم په قدم دسردار محمد اکبر خان لخوا تعقیب کېدل کله چې دکابل څخه بهر شول د لاری په اوږدو کې دهری خوا وربانډی بریدونه کېدل دجلال آباد پوری (17500) کسانو څخه صرف یو تن ډاکتر بریډن زخمی دجلال آباد دلاري هندته واستول شو پدی وخت کې شاه شجاع دیومحمد زایې ځوان لخوا ووژل شو او پدی کار سره دمجاهدینو ترمنځ اختلاف پیداشو. اوپه سدوزیانو باندی ئی بد اثر وکړ.

## دشاه شجاع قتل

کله چې دانگلیسانو څخه کابل پاک شو ملی مشرانو دشاه شجاع ته دجهاد بلنه ورکړه شاه شجاع دا دعوت ظاهراً ومانه آماغوښتل یې چې پدی بهانه وخت تیرکړی اود انگیسانو تازه قؤتونه راورسیږئ کله چې شاه شجاع مجبور شو چې باید ملی مجاهدینو سره یو ځای شی نو په (6) جنوری (1842) م کال دشپی ناوخته غوښتل چه سیاسنگ کی دمجاهدینو سره یو ځای شی پدی وخت کې شاه غاسی، نورمحمد خان او شاه شجاع الدوله دری واړو ورته دلاری په اوږدو کې کمین نیولی ؤ کله چې دده راتگ وځنډیده نور خواره شو او یواځی شجاع الدوله دهغه راتلو ته کمین کې موجود ؤ.

دشاه شجاع سپرلی څلور کسانو په اوږواخستی ؤه راښکاره شو شجاع دوله وربانډی حمله وکړه پدی وخت کې دهغه حاملین وتښتیدل اوډولی یې پرځمکه خطاء کړه دشپې په

تیارو کې زخمي شاه شجاع وتښتیده اوپه یوه وچه ویاله کې پټ شو شجاع دوله چې هر څومره لټه وکړه نا امیده راستون شو پدی وخت کې شاه غاسی چې یو زړور سړی و هغه ته تسلي ورکړه او ویې ویل چې کار باید نمګړی پاتی نشی بیا یې بادشاه شجاع په لټون شروع وکړه او دسهار په رڼا کې پیدا کړ اوپه یو حمله کې فیصله کړ.

کله چې داواقعه وشوه موجوده ملی مشرانو ددی لپاره چې نزاع جوړه نشی عاجلاً نائب السلطنه شاپور پاچا کړ اونصر الله خان دامین الله خان ځوی یې وزیر وټاکه کله چې امین الله لوګری او درویش خان دپیښې څخه خبر شول بالاحصار ته راغلل او شاه شجاع یې دکابل په چارباغ کې دخپل پلار ترڅنګ دفن کړ.

پدی وخت کې شاپور لدی ویری چې پلار یې دانګلیسانو ددښمنی په وجه ووژل شو ګوندی ددوی پرکورهم حمله وکړي دتیاری حکم ورکړ اوهم په همدی وخت کې فتح جنګ چې دملی مبارز ینو سره په سیاسنګ کې و، وتښتیده امین الله خان عاجلاً غونډه وکړه دملی مصلحت په بنایې ددی لپاره چې دسدوزیو او محمد زیو ترمنځ نزاکت داتفاقی سبب جوړ نشی فتح جنګ یې دافغانستان پادشاه وټاکه اما نواب محمدزمان خان ددی پریکړی مخالفت وکړ اوخلک یې هم ترشا ودریدل پداسی حال کې چې امین الله خان لوګری او فتح جنګ په بالاحصار کې وو نواب محمد زمان پری حمله وکړه بلاحصار یې محاصره کړ هغوي ډیر زر وکولای شو چې محاصره ماته کړی.

کله چې دشاه شجاع دمرګ او دملی مشرانو ترمنځ دبی اتفاقی خبر سردار محمد اکبر خان او سردار سلطان احمد خان ته ورسیده فوراً دکابل په لور حرکت وکړ اول یې دفتح جنګ قواوی په شا کړی اوبیایې د امین الله خان لوګری سره په مفاهمه شروع وکړه او ورته یې توصیه وکړه چې دمجاینو ترڅنګ ودریږی اوپه اتفاق سره دخارجی دښمن مقابله وکړه امین الله خان دامشوره ومنله او فتح جنګ (۴۰) څلویښت ورځی په بلاحصار کی محاصره پاتی شو وروسته بیا فتح جنګ دامین الله لوګری او محمد شابابکر خیل په مشره سردار محمد اکبر خان ته وړاندیز وکړ او پدی وړاندیز کې دهغه څخه وغوښتل که ته زما پاچاهی قبوله کړی نو زه به دوزیر په حیث دملک ټول اختیارات تاته تسلیم کړم کله چې داپیشنهاد سردار محمد اکبر خان ته ورسیده هغه دملی مصلحت په بنا چې اول باید دکابل څخه خاطر جمع کړی اوبیا دخارجې دښمن مقابله وکړی دا وړاندیز ومانه اودهمدی ورځی څخه دوزیر محمد اکبر په نامه شهرت پیداکړ.

فتح جنګ داو عده دخان دخلاصون لپاره کړی وه، ترڅو دانګلیسانو سره درابطی فرصت پیداکړی خو کله چې دمحاصري څخه خلاص شو نو دجنرل پالک په نوم یې یو مکتوب ولیکه اوپدی مکتوب کې یې هغه ته کابل ته دراتلودعوت ورکړی ؤ خوشبختانه

چې دامکتوب د وزیر محمد اکبر خان په لاس ورغی هغه یې دسند په شکل وساته او فتح جنگ یې قید کړ او اموال یې ضبط شو.

اما فتح جنگ دانکلیسی اجنټانو په واسطه ډیر زروکولی شول چې دقید خانې بام سوري کړی اودلباس په بدلولو سره دسرخاب دلاریې جلا ل آباد ته راغی او کله چې دجنرال پالک دقواو سره جلال آباد ته راغی ځان یې ورته تسلیم کړاو خپله وفاداری یې ثابته کړه

پدی وخت کې وزیر اکبر خان اوسردارسلطان احمد خان دنورو قواو سره جلا ل آباد ته حرکت وکړ داهغه وخت دی چې جنرال پالک د(20000) شل زره لښکر سره دهند څخه پیښور دلاری جلال اباد ته حرکت کړی ؤ سردارسلطان احمد خان دهغه مخنیوی لپاره دخیبر دری ته ولاړ خو دمقاومت توان یې رانه وړ او عقب نشینی یې وکړه ددوهم ځل لپاره وزیر محمد اکبر خان په جلال آباد کې دهغوي مخنیوی کوښښ وکړ اما ویښنشو کولی چې هغوي تم کړی عقب نشینی یې وکړه اوپه تیزین کې یې یوکلک دفاعی خط جوړ کړ.

## دامیر دوست محمد خان دوهم ځل امارت

کله چې لارډاکلند دهند ویسرای دانگلیس دقواوو دتباهی څخه خبر شو دانگلیس ددولت تصمیم یې په یو اعلامیه نشر کړ او پدی اعلامیه کې دیو لویې قوی لیږل کابل ته ذکر شو، همغه ؤ چې جنرال پالک ته یې دشل زره فوځ په مشری دپیښور دلاری دحرکت امر ورکړ او په خیبر کې دسردار سلطان احمد خان سره مخامخ شو اما سردار سلطان احمد خان دمقابلې توان نه درلود اوعقب نشینی یې وکړه.

آمادDی باوجود دانگلیسانو سره داویره موجوده وه چې په افغانانو حکومت کول ممکن ندی ددی لپاره چې انگلیسانو خپل بایللی حیثیت بیرته اعاده کړی وی جنرال پالک ته یې په جلا ل اباد کې دتوقف امر ورکړ او دهند ویسرای لارډاکلند یې دانگلیستان ته وغوښت او دهغه پرځای لارډکلنز دهند دوسیرای مقرر کړ.

نوموړی فوراً یو هیت امیر دوست محمد خان ته واستوه امیر دوست محمد خان سره یې په کلکته کې مذاکرات وکړل او دافغانستان ددوباره امارت پیشکش یې ورته وکړ داچې امیر دوست محمد خان دافغانستان دحالاتو څخه خبرنه و او دانگلیستان موقف ورته معلوم نه ؤ پرته دکوم شرط څخه یې دا وړاندیز ومانه اوفیصله ورسره وکړه انگلیسانو په خپل پیشنهاد کې داشرط وړاندی کړی وو چې دانگلیسان لښکر به یو ځل کابل ته داخلیږی اودسدوزیو دکورنۍ څخه به یو تن دافغانستان په تخت کېنوی ترڅو دانگلیستان بایللی حیثت دوباره اعاده شی.

امیردوست محمد خان چې خپل ځوی سردار وزیر محمد اکبر خان ته هدایت صادر کړ ترڅو ددوی مانع نشی هغه و چې امیر دوست محمد خان وزیر محمد اکبر خان ته یولیک واستوه په هغی کې ورڅخه غوښتی وو چې ترڅو دانګلیسانو دداخلیدو مانع نشی او خپل عینکې اودنصوارډبی یې دنښی په توګه ورسره رالیږلی و، وزیر محمد اکبر خان دپلار دحکم څخه اطاعت وکړ او هم یې نورملی مشرانو ته دعقب نشینی مشوره ورکړه خپل یې ترباميانو پورې عقب نشینی وکړه او دهغه ځای څخه بیا تاج قرغان ته لاړ.

دانګریزانو قواوی چې دفتح جنګ او شهزاده شاه پور ورسره و په ډیره دبدبه دکابل ښارته داخل شو کله چې دانګلیسانو دداخلیدو خبر کابل ښاریانو ته ورسیده هغوي ټولو دکابل ښار تخلیه کړ پرته دهغو کسانو څخه چې انګریزانو څخه مکافاتو په تمع وو.

انګلیسانو فتح جنګ دتوپونو په فیرونو سره بدرګه اوبالاحصار کې یې په تخت کېښنوه ټول ښار یې وران کړ او څه چې دوسه کېدل په کابل کې پرتو خلکو ته بی عزتی وارولـه بیا دکابل چارچتی ښارته لاړل په هغه ځای کې چې مکناټن اوبرنس ځړول شوی وو، ښاریې وسوځوه، وروسته یې شمال خواته لښکر کشی وکړه اود مجاهدینو ټول مرکزونه وران کړل.

په (1842)م کال کی سره لدی چې انګلیسانو غوښتل چې هغه بې تضمینه قرارداد کوم چې دامیر دوست محمد خان سره لاسلیک شوی و ترپښنو لاندی کړی اوپه افغانستان کې پاتي شي خوچه دوي دافغانستان دخلکوجاج واخیسته چې دسدوزانو کورنی ته ښه نیت نلری دانګلیس حکومت امروکړچې دافغانستان څخه دی قواوی ویستلی شی.

دقندهار قواوی دغزنی دلاری کابل ته راغلی او دجنرال پالک سره یو ځای شوی پدی وخت کې فتح جنګ چې خپل موقف ښه نه لیده دانګلیس دقواوو په حمایه یې کابل پریښود اودهغه پرځای دهغه ورور شهزاده شاه پور په تخت کېښناست کله چې دانګلیسانو تخلیه شروع شوه دشهزاده شاه پور مرال هم ډیر ضعیفه و هماغه وچې شهزاده شاه پورهم وتښتیده.

پدی وخت کې دانګلیس ایجنټانو بیا هم غوښتل چې په ملک کې حرج او مرج پیدا کړی شهزاده غلام حیدر خان دشاه زمان ځوی دوزیر محمد اکبر خان مقابلی ته وهڅوو او دیولښکر په مشری باميانو ته لاړه، په باميان کې سخته ماتی وخوړه کابل ته راغی او دکابل نه یې هند ته پناه یوړه.

وزیر محمد اکبر خان دملک اقتدار سمبال کړ ترهغه چې امیر دوست محمد خان بیرته ستون شو امیردوست محمد خان دهند څخه لاهورته راغی (20) ورځی دهری سنګه ملیمه و او سکانو غوښتل چې په دی میلمستیا سره زړه دښمنی په دوستی بدلـه کړی

اوانګلیسانو په مقابل کې دامیردوست محمد خان حمایت حاصل کړي خوامیردوست محمد خان پدی باره هیڅ ونګړ.

امیردوست محمد خان دپیښوردلاري افغانستان ته ستون شو اوپه خیبر کې پداسی حال کې چې ملی مشران او د امیر دکورنۍ غړی حاضر وو،امیردوست محمد خان ته یې ښه راغلاست وویل شو او سردار وزیر محمد اکبرخان په ډیراحترام دحکومت اقتدار وروسپاره اوپخپله دیوعادی فرد اومخلص ځوی په حیث ورسره بیعت وکړ.

کله چې امیردوست محمد خان کابل ته راغی ټول ملت داتوقع درلوده چې سردارمحمد اکبر خان دولیعهداو وزیر په حیث توظیف کړی اما دامیر دوست محمد خان رویه دپخوا په نسبت بلکل بدله وه، هغه دیو مطلق محافظ کار اوپه ژوند کې دیو واحد هدف لرونکې و اودهغه هدف عبارت و دافغانستان دملی وحدت دتضمینولو څخه، دجنګ سخت مخالف و، پدی اساس ټول هغه جنګی کسان چې جنګې روحیه درلوده اویا دجنګ طرفدار وه په حکومت کې رانه وسته اوملی مشرانو ته یې په حکومت کې برخه ورنکړه او سردار محمد اکبر خان یې دجلال اباد اولغمان حکمران وټاکه خو څرنګه چې سردار محمد اکبر خان یو میړنی شخص و دایې په زړه کې نه ځایده چه نورخلګ یې په خاوره حکومت وکړي امیردوست محمد خان یې وهڅو چې باجوړ حمله وکړه کله چې امیردوست محمد خان دجنګ عواقب وسنجو دجنګ څخه یې ډډه وکړه اوسردارمحمد اکبرخان یې کابل ته وغوښت او تراخره پوره یې دخپل نظر لاندی وساته.

په (1842) کال کې لکه څرنګه چې سردارسلطان احمدخان دامیردوست محمد خان څخه خفه شوی و نو قندهار ته یې پناه یوړه، پدی وخت کې وزیر سردار محمد اکبر خان ته یې وظیفه ورکړه چې دبامیان، تاج قرغان او بلخ میران دمرکز تابع وګرځوی داوظیفه سردارمحمد اکبر خان په پوره کامیابی سره ترسره کړه،امادهغه ځای میران یې په خپل حال پریښوده اوهغوي یې دمالیاتو دراټولولو ژمنه (وعده) وکړه په کال (1843)م کې سردار سلطان احمدخان غوښتل چې خپل حقوق په زور ترلاسه کړی هماغه وه چې دقندهار څخه یې یولښکر دمهردل خان په مشري ترتیب اوقلات دلاری حمله وکړه.

وزیر محمد اکبر خان پخپل خواهش دهغوي دمقابلی لپاره لاړه اودسردار سلطان احمدخان سره مفاهمه وکړه اوهغه دخپل عزم څخه منصرف شو افغانستان یې ترک کړ اوایران ته لاړ، مهردل خان یې دیته واداره کړ چې دامیردوست محمد خان څخه عفوه وغواړی.په (1844)م کال کې دخوګیاڼیو اواشپان خلکو پاځون وکړ سردار محمد اکبرخان دهغوی داراملو لپاره توظیف شو چې کله یې داخلک ارام کړل وزیر سردار محمد اکبرخان ته ناروغی پیښه شوه جلال اباد ته راغی په کال (1845) م کال کې وفات شو او

دوصیت سره سم په مزارشریف کې دځلورم خلیفه ترڅنګ ښښ کړل شو کله چې وزیر سردار محمد اکبرخان په حق ورسیده دهغه سکنی ورور سردار غلام حیدر خان دجلا ل اباد اولغمان حکمران او دسردار دوست محمد خان دولیعهد په حیث تعین شو اوسردار شیرعلی خان یې دسردار غلام حیدر خان پرځای دغزني حکمران مقرر کړ.

په (1848)م کال کې دسردار سردار محمد اکرم خان چې دامیردوست محمد خان ځوی ؤ دشمال خواته توظیف کړ، چې هغه دشمال ټول میران پرته دبدخشان څخه دمرکز تابع وګرځول په همدی کال کې یارمحمد خان الکوزی دهرات حکمران مړشواو دهغه جنازی ته یې خپل استازی واستوه دهغه څخه ورسته محمد سعید خان دیارمحمد خان ځوی دهرات حکمران شو پدی وخت کې دهرات خلک چې دمحمد سعید خان دبی کفایتی څخه په تنګ راغلی ؤو اودقندهار سردارانو ته یې دهرات دنیولو دعوت ورکړ کهندل خان د امیردوست محمد خان سره مشوره وکړه امیردوست محمد خان ورته مشوره ورکړه چې په هرات حمله وکړی کله چې کهندل خان په هرات حمله وکړه. محمد سعید خان دایران دحکومت څخه دکمک غوښتنه وکړه.

دهمدی موقع څخه په استفادی سره امیردوست محمد خان خپل ځوی سردار شیرعلی خان ته امر ورکړ چې قلات ونیسی، قلات یې ونیوه او ورانه قلعه یې بیرته جوړه کړه کله چې کهندل خان ددی پیښی څخه خبر شو سره ددی چې دامیردوست محمد خان قواوومقابلی توان یې نه درلوده سردار مهردل خان ته یې امر وکړ چې نوموړی قلعه په توپونو وولی او ورانه یې کړی، اما سردار شیرعلی خان چې یو سیاسي لوبغاړی و، خپل تره ته یې یو ډیرمودبانه لیک واستوه په هغه کې لیکلی و، چې ددی قلعه جوړول ددی سیمی دامنیت لپاره ضروری دی او که ته غواړی کسان دي راولیږه چې قلعه ورته تسلیم کړو کهندل خان دخپل تصمیم څخه تیر شو اوقلات دغزني مربوط شو.

کله چې محمد سعید خان دکهندل خان قواوو ته ماتی ورکړی رسماً یې هرات دایران پوری مربوط کړ اودایران په نامه یې سکه وهله، دي کارد هرات په مشرانو ډیر بد اثر وکړنو فیروز الدین لمسی شهزاده یوسف یې دایران څخه وغوښته محمد سعید خان یې لمنځه یوړ اوشهزاده یوسف اقتدار سمبال کړ، کله چې ایران ددی پیښی څخه خبر شو په هرات یې حمله وکړه اوشهزاده یوسف یې دستګیر اوایران ته بوتلو اودمحمدسعید خان په بدل کی یې اعدام کړ، پدی وخت کې سردار سلطان احمد خان چې دډیری مودی څخه دهمدی ورځی په انتظار ؤ دهرات مشرانو دایران څخه وغوښت اودهرات حکمران شو.

دانګلیس حکومت دسردارسلطان احمد خان دحکمرانی سره سم دعراق څخه یو هیئت هرات ته واستوه ترڅو دسردار سلطان احمد خان جاج واخلی، ځرنګه چې سردار سلطان

احمدخان یوملی شخصیت اودمستقل سیاست خاوند ؤ اودهیڅ اجنبی سلطه یې په خپل خاوره کې نه منله، دانګلیس هیئت یو کال خبری وکړی خودسردار سلطان احمد خان ورسره کومی موافقی ته ونه رسیده.

په (1856) م کال کې چې دهند خلکو دانګلیسانو په مقابل کې پاڅون کړی وو امیردوست محمد خان وغوښتل چې د قندهار دالحاق موافقه دانګلیسانو څخه ترلاسه کړی، انګلیسانو هم ددی موقع نه په استفادی دبلوچستان جداوالی دافغانستان څخه دیو وړوکې شرط په حیث امیر دوست محمد خان وړاندی کړ امیردوست محمد خان داخبر ومنله اوپه (1857) م کال پداسی حال کې چې کهندل خان او مهردل خان دواړه مړه شوي وو او قندهاردقندهاری سردارانو په کشمکش کې وو دهغه سردارانو دتسلط څخه ازاد او دمرکز سره وتړل شو

## دهرات الحاق (یو ځای کېدل)

کله چې دقندهار یو ځای کېدل دمرکز سره دانګلیس اوافغان دهغه معاهدی له مخی چې په (1855) م کال کې امضاء شوی و اوپه (1857) م کال کې عملی بڼه اختیار کړه همدارنګه په هرات کې هم د (1848) م کال نه راپدیخوا کله چې یار محمد خان وفات شو کشمکش روان وو، اما امیردوست محمد خان پدی وخت کې دقندهار څخه نه و بیکاره شوی، کله چې دقندهار څخه بی غمه شو هرات ته یې توجو وکړه.

داهغه وخت دی چې په هند کې دانګلیسانو په خلاف بغاوت اوج ته رسیدلی وو په همدی وخت کې امیر دهند انګلیس حکومت ته خبرو دوړاندیز وکړ انګلیسان چې دهمدی خبری په انتظار و دوړاندیز سره یې پوره دلچسپی اوښوده او امیرته یې هند دراتلو دعوت ورکړ اما امیردا دعوت دځینو مصروفیتونو په وجه رد کړ خواهش یې وکړ چې دانګلیسانو هیئت ورسره په سرحد کې ملاقات وکړی په همدی وخت کې دانګلیس حکومت دلاهور جکمران لارنس دیوهیئت په مشری کې راو واستوه پداسی حال کې چې امیر سره دده دکورنۍ غړی او نور مشران ملګری وو، په جمرود کې خبری پیل کړی دخبرو اجنډا دهرات اوپیښور دالحاق موضوع وه دهرات په باب یې ورسره موافقه وکړه اودپیښور مسله یې ونه منله پدی معاهدی کې انګلیسانو قبول کړی وه دولس لکه (1200000) روپی او (16000) شپاړس زره توپکې سره دجبه خانی په کال کې یو وار امیرته تسلیم کړی اوداعمل ترهغه دوام کوی ترڅو چې امیر په جګړو کې مصروف وی خو ددی په بدل کې به دانګلیس نماینده ګان په کابل، قندهار بلخ اونورو هغوځایونو کی چې جنګ وي منی

ترڅو اطلاعات راټول کړي اوکله چې جګړه ختمېږي انګليسي صاحب منصبان به دافغانستان څخه وځي.

پدې معاهدې سره امير يوائې يو ارمان ته نږدې شو چې هغه دهرات يو ځای کېدل وو «آمادي معاهدې وروسته دافغانستان راتلونکو حکمرانانوته مشکلات پيدا کړل چې وروسته به پرې بحث وکړو».

داچې انګليسان ديارمحمد خان دمړينې څخه وروسته دهرات څخه مطمين نه وو اوهرات اکثراً دايران دتاثير لاندې واقع کېده نو ويې غوښتل چې پدې کار سره دايران تسلط ختم کړي همغه ؤ چې امير دانګليسانوپه مشورې دهرات دنيولو تياری شروع کړ لکه څرنګه چې مخکې مو وويل چې ديو سلسله زياتو کشمکشو نو څخه وروسته سردار سلطان احمد خان دهرات سپين ګيرو په غوښتنه او دايران په مشوره دهرات حاکم تعين شوی و خو انګليسانو داچې سردار سلطان احمد خان څخه مطمين نه وو نو محمد عالم خان درحم دل خان ځوی اوشيرعلی خان دمهردل خان ځوی دنوموړي سردارسره دوزير په حيث توظيف کړل ,خو سردار سلطان احمد خان هغوي ته موقع ورنه کړه او ډير زر يې دصحنی ويستل او هرات کې يې مستقل حکومت جوړ کړ.

لکه څرنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه چې په همدې وخت دانګليسانو يو هيئت دا ميجر تيلر په مشري هرات ته واستوه، ترڅو دسردار خيالاتو جاج واخلي، هيئت ديو کال په په اوږدو کې کومې نتيجې ته ونه رسيده او سردار سلطان احمد خان چې يو غيور افغان و او دانګليسی ضد مفکوره يې درلوده په خپل عزم ولاړ ؤ.

دسردار سلطان احمد خان په راتګ سره هرات ته اميردوست محمد خان او دهغه زامن سخت په غوسه وو پدې وخت کې يعنی( 1858 ) م کال يې سردار غلام حيدر خان وفات شو اوپه عشقان عارفان کې خاوروته وسپارل شو، ددې څخه وروسته دوزير محمد اکبر خان کشر ورور سردار شيرعلی خان وليعهد او دقندهار حکمران شو.

په (1858 ) م کال کې عبدالرحمن خان دمحمد افضل خان ځوی دبدخشان د الحاق لپاره توظيف شو او په ( 1859) م کال کې بدخشان دمرکز پوری مربوط شو پدی وخت کې دبخارا پادشاه ميرظفر خان چې دشهزاد ګانو تاخت اوتاز څخه په شمالی کې په ويره کی و، لدی امله يو لښکر ترتيب او دامو په لوريې سوق کړ خو کله چې دافغانانو دقوت څخه خبر شو بيرته بخاره ته لاړاو خپلو قوتونو ته يې دعقب نشيني حکم وکړ.

اميردوست محمد خان چې دانګليسانو دوستي ته زيات ارزښت ورکاوه اود (1857 )م کال قرارداد ته يې دقدر په سترګو کتل سره لدی چې په هند کې دانګليسانو دټولو مجبوريتونو څخه خبر ؤ او وخت په وخت به دافغانستان مشرانو امير دي ته هڅوه چې دافغانستان جدا

شوی دسیمی بیرته خپلی کړی او هغه سیمی چې دسند درود په غاړه پرتې دي د انګلیسانو څخه وغواړی اما امیر پدی باب ځان ویده واچوه پداسی حال کې چې انګلیسان په خپلو وعدو کې صادق نه وو او کوشش یې کاوه چې دامیر درقیب سردار سلطان احمدخان سره په هرات کې موافقی ته ورسیږی، اما نوموړی سردار دخپل دریز څخه یو زره هم راتیټ نشو.

سره لدی چې په همغه وخت کې سردار سلطان احمد خان دامیر سرحدات تهدیدول خو امیر دصبر څخه کار واخیست ددی ټولو باوجود چې امیردوست محمد خان دهرات دنیولو لپاره پوره تیاری درلود بیا هم دانګلیسانو دمشوری په خاطر د (1861)م کال پوری منتظر پاتی شو بلاخره په همدی کال امیر دیوي قوی سره دقندهار په لور حرکت وکړ چې زیات سرداران او قومی مشران ورسره ؤ.

سردار سلطان احمدخان پدی ښه پوهیده چې دامیر دقوتونودمقابلی توان نلری خوبیا هم مقابلی ته تیار شو، مقاومت ونشو کړای ښار محاصره شو خو دسردار افغانیت او غیرت هغه ته اجازه نه ورکوله چې امیر ته تسلیم شی، محاصری ډیر دوام وکړ دمحاصری په اوږدو کې دسردارښځه وفات شوه امیر ته یې مکتوب واستوه ترڅو اجازه ورکړی چې مړی دښار څخه بیرون په ګازرګاه کې ښښ کړی، امیر اجازه ورکړه خوداخپلی لور په جنازه کې برخه ونه اخیسته سره لدی چې زامنو یې دهغه په جنازه کې ګډون وکړ.

پدی وخت کې سردارسلطا احمدخان دایران څخه دمرستی غوښتنه وکړه خو هغه کمک ونه کړ او وی غوښتل چې سخر او زوم، تره او وراره په کورنی جګړو کې اختـه وی په (1862)م کال کې سردار سلطان احمد خان هم وفات شو خود امسله پټه وه کله چې امیر دخپلو جاسوسانو په واسطهٔ چې ښار تسلیم کړی اما دسردار ځامنوونه مانه او په خپل مقاومت یې ټینګار کاوه سردار شهنواز خان دسردارسلطان احمد خان مشر ځوی د خپل پلار ځای ونیوه محاصره دوه میاشتی نور هم دوام وکړ دښار مشرانو پدی مصلحت ولید چې محاصره ماته کړی، دښار دروازی خلاصی شوی دامیر لښکر داخل اودسردار ځامن یې امیرته بوتلل دهغوي سره یې دپوره ملا تفت څخه کار واخیست خو د سردار ځامنو مردانه وار دخپل پلار دریغ څخه دفاع وکړه اودامیر په خلاف یې هغه څه وویل کوم چې دهغوي په خوله راتله امیر دخپل مقام دحثیت دساتلو په خاطر مجبور شو اوپه خپلو باغی لمسیانو داعدام حکم وکړ اما د دشیرعلی خان په سفارش چې دهغوي سکنی ماما ؤ اعدام په حبس ابدبدل شو.

دهرات حکومت یې نایب سلطنه شیرعلی خان ته وسپاره پدی وخت کې امیر سره هم عمر وخان ونه کړه اودنفس تنګی دمرض په وجه د (72) کالو په عمر وفات او خپل اخری اروزی یې چې دهرات الحاق و تر سره کړ.

# دامیر شیرعلی خان لومړی ځل سلطنت

دامیردوست محمد دمړینی په څلورمه ورځ کله چې دفاتحی مراسم خلاص شو، سردار شیرعلی خان نایب سلطنه رسماً دتاج پوش مراسم په هرات کې پداسی حال کې ترسره کړ چې زیاتره ورونه یې حاضر وو پرته دڅلور کسانو( سردار محمد افضل خان دشمال حکمران محمد شریف خان دفراه حکمران، محمدامین خان دقندهارحکمران اوحکمران او سردارمحمد حسین خان بامیانو حکمران ) چې په دی مجلس کې حاضر نه وو.

ټولو حاضرو ورونوظاهراً بیعت وکړ اما یواځی سردارمحمد اعظم خان غوښتل چې دشیرعلی‌خان مخالفت وکړی خو علامه سید جمال الدین افغانی یې ددې کارمانع شواودمخالفت څخه منصرف کړ.

وروسته دتاج پوشی دمراسمو څخه یې خپلو غایبو ورونو ته رسماً لیکونه واستول اوروڅخه یې دبیعت غوښتنه وکړ ټولو دخپل بیعت څخه اطلاع ورکړه اما سردارمحمدشریف خان په دی هکله خاموشی اختیار کړه وروسته لدی امیرشیرعلی خان خپل دولس کلن ځوی شهزاده محمد یعقوب دهرات حکمران وټاکه اوجنرال فراموز خان یې ورسره دمشاور په حیث توظیف کړو خپله دکابل په اراده قندهار ته ورسید.

په قندهار کې سردار محمد امین خان دهغه دشان سره سره ښه راغلاست ونه وایه، کله چې دغزنی په لور روان شواو سردار محمد اعظم خان خپل سکنی ورور محمدافضل ته چې دشمال حکمران و ورغی. دي غوښتل چې دامیر شیرعلی خان په خلاف هغوي تحریک کړي سردار محمداعظم خبروپه سردارمحمدافضل خان باندی تاثیرونکړ.

کله چې سردار محمد اسلم خان بامیانوته ورغی دهغه درسیدو وړاندی امیر دبامیانو ولس په نامه پیغام استولی دبامیان ولس دسردار محمداسلم خان سردار محمد حسین خان او سردار حسن خان په خلاف پاسیدل اودوي یې محاصره کړل، دي محاصری ترهغه دوام وکړ ترڅو چې سردار محمدافضل قوتونه راورسیده اومحاصره یې ماته کړه دری واړه ورونه یې دځان سره مزار ته بوتلل.

کله چې امیر شیرعلی خان دقندهار څخه غزنی ته راورسید سردار محمد امین خان وړباندی رسد او اعاشد بنده کړه .پدی وخت کې سردار محمدسرداراعظم خان دشمال څخه جنوب لورته حرکت وکړ اوغوښتل یې د زرمت خلک چې دده ماما خیل یادید ل دامیر په خلاف راپورته کړی کله چې نوموړی دکابل څخه تیریده نو دسرد ار محمد علی خان دامیر شیرعلی خان ځوی دکابل حکمران دویری په پټه لوګر ته لاړ هلته یې فعالیت

شروع کله چې سردار محمد علی خان ورڅخه خبر شو حمله یې پرې وکړه سردار محمد اعظم دهغه ځای څخه پکتیا ته لاړ پدی وخت کې امیر شیرعلی خان دخپل امارت څخه دهند انګلیسی حکومت ته رسماً اطلاع ورکړه خو دانګلیسان دهغه رسمیت دپیژندنی په رابطه شپږ میاشتی خاموش پاتی شو.

امیر شیرعلی خان دغزنی څخه کابل ته راروان شو دلاری په اوږدو کې سردار محمد سرور خان د سردار محمد اعظم خان ځوی او سردار حلال الدین دوزیر سردار محمد اکبر خان ځوی غوښتل چې امیر له منځه یوسی خو په خپله اراده کې کامیاب نشول او پکتیا ته وتښتیدل پدی وخت کې امیر شیرعلی خان کابل ته راورسید اوبالاحصار کی په تخت کیناست.

سردار محمد اعظم خان دپکتیا څخه دامیر په نامه یو مکتوب راواستوه په هغه کې غوښتل شوی وو چې کچهری سرداران او دقوم یوڅو مشران ماته راشی نو زه به دعفی په خاطر امیر ته غذر وکړم امیر شیرعلی خان یو هیئت ورواستوه او نوموړی کابل ته راغی امیر وروسته دلفظی تهدید څخه عفه کړ او دکابل حکمرانی یې ورته پشنهاد کړه سردار محمد اعظم خان ظاهراً قبوله کړه اما دځه مصرفیتونو په وجه یې دڅلور میاشتو لپاره معذرت وړاندی کړ معذرت یې قبول او خپله هندوستان ته لاړه او خپل ځوی سردار محمد سرورخان یې ورسره دیرغمل په توګه پریښو

دوروسته لدی په (1864)م کال کې امیرشیرعلی خان یو لښکر ترتیب او دشمال لوری ته حرکت وکړ ترڅو سردار محمد افضل خان تابع کړی سردار امیر دلښکرو په وړاندی ماته وخوړه او دامیر سره یې دمالیاتو په ورکولو یو قرارداد مضاء کړ وروسته امیربلخ او مزار شریف ته لاړه کله چې دبلخ څخه بیرته راستون شو ددی باوجود چې دسردار محمد دافضل خان سره یې قرارداد امضاء کړی و، اما نو موړی یې بندی کړ دسردار محمد افضل خان دبندی کېدو وروسته دهغه ځوی سردار عبدالرحمن خان بخارا ته وتښتیده.

په (1865) م کال دسردار محمد علی خان په مشری په لښکر ترتیب کړ ترڅو په قندهار حمله وکړی سردار محمد دامین خان دهغی دمقابلی لپاره راوت اوپه قلات کې جګړه پیل شوه پدی جګړه کی سردارمحمدامین خان اوسردارمحمدعلی خان د(8000) اته زره کسانوسره یوځای مړه شو ل، دی پیښی امیرشیرعلی خان ډیرمتاثره کړ حتی عصاب دلاسه ورکړ.

په (1866 )م کال کې سردار محمد اعظم دهند څخه اوسردار عبدالرحمن خان دبخارا څخه په ډیره عجله افعانستان ته داخل شول. لښکر یې ترتیب او پر کابل یې حمله وکړه کابل یې ونیوه پدی وخت کې امیرشیرعلی خان دقندهار څخه په کابل د حملی ترتیبات ونیول.

په غزني کې سره مخامخ شو وروسته دسختي جګړې څخه امیرقندهار ته ستون شو غزني دسردار عبدالرحمن لاسته ورغی دغزني دنیولو څخه وروسته یې خپل محبوس پلار دافغانستان دامیر په حیث اعلان کړ او دده دامارت څخه یې انګلیسان خبر کړ. انګلیسانو پداسی حال کې چې دشیر علی خان امارت برحال ؤ امیرمحمدافضل خان په رسمیت وپیژنده.

## امیر محمد افضل خان (1866-1868)م

کله چې امیر محمد افضل خان په غیررسمی توګه خپل حکومت اعلان کړ اودهغه څخه یې دهند انګلیسی حکومت ته اطلاع ورکړه. بی درنګه یې په رسمیت وپیژنده. او خپل نماینده یې کابل ته راوستاوه، پداسی حال کې چې دافغانستان رسمی پادشاه امیرشیرعلی خان په قدرت کې ؤ او خلکو هم ورڅخه حمایت کاوه. وروسته امیرشیرعلی خان دکابل په لور لښکر کشی وکړه خوبیا هم په قلات کې ماتی وخوړه. لدی وروسته هرات ته لاړه اوسردارمحمداعظم خان اوسردارعبدالرحمن خان په لاس ورغي بیا بلخ ته لاړ او دسردار فیض محمد خان سره یو ځای شویو لښکر کې ترتیب کړ او په (1867) م کال کې په کابل حمله وکړه.

سردار عبدالرحمن خان دهغه مخنیوي لپاره دخپلو لښکرو سره پنجشیر ته ورغي دپنجشیر په بازارک کې جګړه پیل شوه او امیرشیرعلی خان بیرته بلخ ته لاړه.

دهمدی کال یعنی (1867) م داکتوبر په میاشت کې امیر محمد افضل خان مړ شو. او دهغه پرځای سردار محمد اعظم خان دنیمه افغانستان پادشاه شو. سردار عبدالرحمن خان دبلخ په لور لښکر کشی وکړه ددی موقع نه په استفاده سره امیر شیرعلی خان دقندهار دخلکو په غوښتنه چې دامیر محمد عظم خان دزامنو دناروا ؤ څخه په تنګ شوی ؤ په قندهار حمله وکړه، او قندهار یې ونیوه بیایې لښکر ترتیب اوپرکابل یې حمله وکړه پدی وخت کې دامیرمحمد اعظم خان دهغی دمقابلی لپاره راووت.

دهمدی موقع نه په استفادی سره محمداسمعیل خان دامیرشیرعلی خان په حمایت په کابل حمله وکړه خلکو دامیرشیرعلی خان په نامه تسلیمی ورکړه. پدی وخت کې محمد اعظم خان تخارته وتښتیده او سردار عبدالرحمن خان سره یو ځای شو امیر شیرعلی خان لا کابل ته نه ورسیدلی دچې په غزنی په مقام امیر محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمن دهغه مخه ونیوله. په (1868) م کال کې امیرشیرعلی خان دهغوي سره دشش ګاؤ په سیمه کې مخامخ شو سردار محمد اعظم خان اوسردار عبدالرحمن خان شکست وخوړاو بنو ته

وتښتيدل بيا دهغه ځای څخه د سيستان له لارې مشهد ته ورسيدل. سردار عبدالرحمن خان بخارا ته لاړه او دهغه ځای څخه بيا ثمرقند ته.

سردار محمد اعظم دايران دتهران لاره ونيوله اودلارې په اوږدو کې دمريضی په وجه مړ شو.

اميرشيرعلی خان ددوهم ځل لپاره دافغانستان دامير په حيث په کابل کې پرتخت کښيناست.

## داميرشيرعلی خان دوهم ځل امارت (1868-1878) م

(19) م پيړۍ په اسلامی نړۍ کې داجتماعی اوسياسي نهضتونو رشد اورامنځته کيدو دوره وه دانهضتونه زياتره داروپايي استعمار په مقابله کې راولاړ شوي ؤ. مثلاً په ترکيه کې ددی پيړۍ داولی نيمايي څخه مدنی او نظامی اصلاحات عملی شول او وروسته يې تقويه کړل بيا په ايران کې داصلاحاتو نهضت رامنځ ته شو چې ددی سره جوخت په افغانستان کې هم ددی نهضت لار هواره شو.

ددي نهضت پياوړی پيش تاز سيدل جمال الدين افغانی ؤ - اميرشيرعلی خان يواځنی پادشاه ؤ چې ددی حوصله يې درلوده ترڅو دسيد جمال الدين افغانی داصلاحاتو په هکله دنظرياتو څخه دملک په ګټه استفاده وکړی اودهغی څخه کار واخلی اميرشيرعلی خان چې کله د پنځه کلنی کورنی جګړې څخه فارغ شو بعضی غرض کسانو لکه محمدرفيق خان لودی د اميرشيرعلی خان او سيدجمال الدين افغانی ترمنځ بدګمانی پيداکړه.

داخبره اميرځکه قبوله کړه چه سيد جمال الدين افغانی دمحمداعظم خان دطرفدرانو پناه ګاه وه کله چه سيدجمال الدين افغانی دامير په خيالاتو پوهه شو دامير حکم يې ومانه مخکې لدی چه امير ورته دملک څخه دوتوحکم وکړی دايران دلارې دخارجيدو اراده وکړه کله چه سيدجمال الدين افغانی دخدايې په آمانی پخاطر بالاحصارته ورغی خپل ټول نظريات اوخيالات يې دافغانستان دراتلونکې په باب د پشنهاد په شکل په يوه رساله کې امير ته وسپاره چه پدی رساله کې ټول اصلاحی پروګرامونه ذکر شوی و امير شيرعلی خان داپشنهاد ونه په ډير خوښی سره قبول کړل اودتطبيق وعده يې ورکړه.

سيدجمال الدين افغانی دهغه وروسته هند ، مصر ،استامبول،ايران،روسيه، فرانسه،لندن، او جرمنی ته متعدد دسفر ونه وکړل چه په دی سفرونو کې په نوموړی يا تدريس کاوه اويا به يې کنفرانس دايرول چه په دی طريقی سره داستعمار ضد ذهنيت ته وده ورکړی په اسلامی ملکونو کې دپان اسلاميزم شعار ورکاوه، چه وروسته دزيانو تکاليفو اومشکلاتو څخه چه دملتونو دآزادی په لاره کې وګالل په (1896) م کال وفات شو اود

استامبول په خاوره کې دفن شو په په (1924) م کال کې د نو موړي فلسوف مقبره د يو امريکايي لخوا جوړه شوه او په (1944) م کال د هغه خاوره کابل ته راوړل شوه او د کابل پوهنتون په انګړ کې دفن شو.

کله چه د امير شير علي خان حکومت استقرار پيدا کړ د اصلاحي پروګرام د تطبيق لپاره يې ملا وتړله او پوره لس (10) کاله يې د اقتصادي، فرهنګي، کسبونو او مخصوصاً د سلاح جوړونې او حيواناتو د تربيت په برخه کې توجه وکړه داخلي امنيت يې تامين کړ دلارو په جوړولو کې پوره زيات کوشش وکړ او تجارت ته يې سهولتونه برابر کړل.

دولتي مقرارت يې وضع کړل د مالياتو سيستم يې جوړ کړ ترڅو ماليه ورکوونکي ماليه تحويل او رسيد ترلاسه کړي عسکري مقرارت يې وضع کړل د عسکر د بود و باش لپاره يې د ښارونو څخه وتلې ځايونه تعين کړل ترڅو خلک ورسره په تکليف نشي.

(1870) م کال کې د شيرپور قوي قلعه د جوړولو تهداب کېښود چه ترپنځو کالونو پورې تقريباً شپږ زره (6000) کارګر او زر (1000) معمارانو او نجارانو پکې کار کاوه ددې نه وړاندې داسې کارونه د بيګار په شکل ترسره کېدل په داسې حال کې چه امير شير علي خان کارګرانو ته مزد ورکاوه دا قلعه په دوه سوه (200) جريبه ځمکه کې دې بي بي مهرو دپټې ګرد چاپيره جوړه شوې وه. د قلعه شرقي او غربي ديوالونه لاته وتکميل شوي چه د انګليس افغان دوهمه جګړه پرې راغله او ناتمامه پاتې شوه وروسته په تيريدو سره ورانه شوه.

په (1874) م کال کې دولتي نظام ته متوجۀ شو او اجرايه قوه يې ترتيب کړه چې اعضاء يې لاندې شخاص وو.

صدراعظم :- سيد نور محمد شاه فوشنجي او دهغه دمړينې وروسته په (1877) کال کې مستوفي حبيب الله خان وردګ.

وزير حربيه :- حسين علي خان (سپه سالار).

وزير داخله : عصمت الله خان (حشمت الملوک).

وزير خارجه :- ارسلان خان (غلجايي) او دهغه دمړينې وروسته په (1877) م کال کې شاه محمد خان.

وزير ماليه :- مستوفي حبيب الله خان خان (وردګ).

وزير خزانه :- احمد علي خان (تيموري)

سرمنشي دربار :- مزار محمد حسن (دبيرالموک).

دپستې اداري يې په مرکز او ولاياتو کې جوړې کړې چې يو ه شعبه يې په پيښور کې هم وه. د دولت شوراعبارت وه د دولس (12) تنه اعضاو څخه چې دشاه لخوا به په دايمي توګه انتصابيدل.

داول ځل لپاره يې دملک دمهمو اموراتو په هکله لويه جرګه دايره کړه. او لومړنی لويه جرګه په (1865) کال جوړه شوه، دوه زره ( 2000) غړي يې درلودل. د ملک دټولو اقوامو او قشرونو څخه يې نماينده ګی کوله دجرګی اجنډا داميرشيرعلی خان دورونو مخالفت و. اوغوښتل چې پدی هکله لويه جرګه غور اوپريکړه وکړی ترڅو مشوره وکړی.لويې جرګی پريکړه وکړه چې لومړی دي يو ليکلی اخطار ورکړل شی او وروسته دی سوقيات وشی. هم هغه ؤ چې سردار محمد امين خان دقندهار حکمران ته يې دپريکړی سره سم ليکلی خبر ورکړ او وروسته يې پری حمله وکړه. دجنګ په ميدان کې سردار محمد امين خان مړ شو او قندهار دمرکز وتړل شو ((البته داجرګه داميرشيرعلی خان په لومړي دوره کی دايرشوی وه)).

دفرهنګی فعاليتونه : اميرشيرعلی خان دنوی ميتودونو سره سم دوه بابه مکتبونه جوړ کړل چې يو ملکې او بل يې نظامی ؤ. دليتوګرافی مطبعه يې دمزار عبدالعلی خان په اهتمام په بالاحصار کې فعاله کړه او همدی مطبعی څخه په (1875) کال کې دافغانستان لومړنی او مشهوره جريده د ((شمس النهار)) په نامه چاپ اوبازارته راووته.

عسکری نظم او دسپلين يې برابر کړ، تعليم نامه يې جوړ کړه، دسلاح سازی فابريکې فعاله کړه چې دی فابريکې په مياشت کې يو توپ او په زياته اندازه ټوپکې او توری جوړولی يو څه ابتدايې مواد يې دخارج څخه واردول، عسکری تعليم وتربيه دخارجی استادانو په ذريعه صورت نيوله، منظمه اردو يې دهندی مسلمانو افسرانو په کمک ترتيب کړه اوهر عسکر ته يې په مياشت (7 )افغاني تنخواه ورکوله خوسره لدي هم انګليسان په افغانستان کې ديومرکزي قوت جوړيدو مخالفت وو.

امير شيرعلي په (1873) م کال کې دبلخ والي نايب محمد عالم خان ته حکم وکړ اوميرمحمد حسين خان يې دميمني څخه په زور راوړځکه تردي وخته پوری ميمني خپله خودمختاری حفظ کړی وه او اولدی ورسته ميمنه (فارياب ) رسما دمرکزپوری وتړل شوه.

## دانګليسانوسياسي لاس وهني

داميرشيرعلي خان خارجي سياست دټولوګاونډی ممالکوسره دصلحی په بنياد ولاړوو هغه دهيڅ ګاونډی هيوادحتي انګليس سره هم دخاوري په سره دعوه نه درلوده ځکه اميرشيرعلي خان پوهيده چې هر ډول سياسي اونظامي ټکرد ګاونډی ممالکوسره دده داصلاحی پروګرام دودريدو او ددولت ضعف سبب ګرځي نوپه رښتني توګه يې صلح اميزه

سیاست څخه پیروي کوله او ګاونډیو هیوادونو څخه دافغانستان استقلال له احترام څخه پرته بل څه نه غوښتل.

پداسی حال کې چې ایران اوروسي (پرته دسیستان دقضي څخه) دافغانستان ددی سیاست څخه مزاحمت نه کاوه امادانګلیس ددولت سیاست دانه و ځکه دانګلیس ددولت دلومړی تجاوزسیاسي اونظامی اساسات لاپه افغانستان کې موجود وو اوهغه عبارت و دهنددفاع لپاره دیومضبوط سنګر لاسته راوړل وچې هغه دهندوکش دغرونوسلسله وه انګلیسانو دا دغرونو سلسله دهندی انګلیسی دولت لپاره یو (علمی سرحد) ګاڼه اودی علمی سرحد ته درسیدولپاره یو ځل (40000) څلویښت زره عسکرپه افغانستان کې دلاسه ورکړی و.

اما دی شکست ونه شو کولای چه دانګلیس ددولت اساسی نصب العین له مینځه یوسي په انګلیستان کې دی مقصد ته درسیدولپاره دوه نظریې موجودی وی.

۱- دلبرال دګوند په افغانستان باندی دمستقیمی حملی مخالفه و اوغوښتل یې چې افغانستان باندی دمستقیمی حملی پرځای باید داهیواد عملاًدانګلیس دنفوذلاندی وساتل شی تر څو دروس ددولت دنفوذ لاندی راشی ددی ګوند مشر ګلدستون نومیده.

۲- دمحافظ کارګوند نظرچې په (فارودپالسی) مشهورده ددی نظری په اساس باید قندهار او هرات دمستقیمی حملی په اساس دانګلیس ~~دتسلط لاندی~~ راغلی وای.

په انګلستان کې سیاسي کشمکش او په هند دخلکو ملی قیام چې په (1857) م کال کې شروع شو تر (1874) م کال پوری دانګلیس ددولت موقتاً په افغانستان باندی زیات فشار وارد نکړای شو ولی دی وضیعت ډیر دوام ونکړاو په (1874) م کال دانګلیس دولت دفارودپالسی (وړاندی تګ نظریه) غوره کړه چې افغان انګلیس ددوهم جنګ سبب شو.

کله چه امیرشرعلی خان دلمړی ځل لپاره دافغانستان امیرشو او خپل امارت یې اعلان کړاود انګلیس دولت ته یې پدی هکله اطلاع ورکړه انګلیسانو خاموش اختیار کړه اماکله چه امیرشرعلی خان ددوهم ځل لپاره پادشاه شواو دانګلیس دولت ته خبر ورکړداخل انګلیسانومثبت ځواب ورکړاو هغی ته یې دمبارکې پیغام واستوه او دپیغام سره یې (12000) زره ټوپکې او (60000) زره روپی دتحفی په توګه ورته ولیږلی ځکه انګلیسان پوه شوی وو چې اوس دامیرشرعلی حکومت یو مِضبوط حکومت دی نوپه (1869) م کال کې هغه دهند ګورنرجنرال لاردلارنس لخواهندته دراتلولپاره دعوت شوپدی دوران کې دلارډلارنس پرځای لاردمیودهند ګورنرجنرال مقررشو اودادعوت بیاتکرار شو.

امیرشیرعلی خان پداسی حال کې چې صدراعظم سیدنورمحمدشاه جنرال حسین علی خان،ارسلاخان،عصمت الله خان، میرزامحمدنبی خان، شاه غاسی شیردل خان اوشهزاده

عبدالله ورسره و دیوفرقه عسکرو سره هندته سفر وکړاو په (27) د مارچ (1869) م کال کې په امباله کې دلارډمیوسره ملاقات وکړ.

امیرشرعلی خان دلارډمیوسره په خپل اول ملاقات کې اعلان وکړچه دخپل پلار دمعاهداتو دتصدیق لپاره ندی راغلی ځکه هغه پوهیده چه هغه معاهدات چې په (1855) او (1857) کې امیردوست محمدخان دانګلیسانوسره امضاشوی وو هغه دیوخپلواک افغانستان په ګټه ندی، سیدنورمحمد شاه دیوی نوی معاهدی مسویده تیاره کړه او انګلیسی هیت ته یې وړاندی کړه.

چې ددی مسویدی په متن کې دامیردوست محمدخان په معاهده کې داسی تعدیلات راغلی وو «ددولتنو دوستی دوه جانبه ده دهره یودوست به ددواړو دوست وی اودهریودښمن به ددواړو دښمن وی، دخارجی دښمن دحملی په وخت ددواړو دولتونومشوره داعتباروړده، دانګلیس دولت به دافغانستان دولت سره دپیسواو اسلحی کمک کوی، افغانستان به دانګلیس انجینرانو څخه استفاده کوی مګر دانګلیسانو څخه دنظامی کمک اخیستل دافغانستان دپادشاه دارادی پوری اړه لری، دانګلیس ددولت کمک به دافغانستان سره دوامداره وی البته دخطر په وخت کې به دافغانستان دامیرپه خوښه داکمک اضافه کیږی، دانګلیس دولت به دافغانستان پادشاهی دامیر په کورنی کې دامیردځوی عبدالله خان دولی عهدپه قبولولوتصدیقوی»

امادانګلیس دولت چې په افغانستان کې ازادلاس غوښته اودامیردوست محمدخان سره شوی معاهداتوورته داموقع ورکوله نودنوی معاهدی دامضاکولوڅخه یې امتناع وکړه اودانوي مسوده یې ردکړه.

امیرشرعلی خان پوه شوچې انګلیسان نه غواړی دیوی نوي ابرومندانه معاهدی ځان پاپند کړی نو هیڅ یې ونه ویل اودانګلیسانو لخوادیونظامی نمایش دلیدوڅخه ورسته افغانستان ته وګرځید کله چه امیرشیرعلی خان بیرته کابل ته وګرځید دایران موقتی نماینده ابوالحسن کابل ته راغی اوهم دانګلیس سفیر عطامحمد خان کابل ته راوسیده اواقامت یې اختیار کړ.

اوپه همدی کال کې وچه دافغانستان دبی طرفی په هکله دروس اوانګلیس ترمینځ مذاکرات پیل شول اوپه (1873) م کال کې دروس دولت قبوله کړه چې افغانستان به دهغه نفوذدساحی نه خارج وی اوافغانستان شمالی سرحدیې دسرقل نه تر خواجه صالح پوری قبول کړ.

اما انګلیسانو په افغانستان باندی خپل مخفی اوښکاره سیاسي فشارته دوام ورکړ د مخرب فعالیتونه دوی دخپلو جاسوسانواو اخستل شووافرادو په واسطه سرته رسولی

يو ددوي څخه يو مشهور جاسوس قاضي قادر نوميده چې داميرشيرعلي خان په دربار کې کار کاوه او ډير داعتبار خاوند و ددې څخه علاوه داميرشيرعلي خان په كورنى كې هم دانګليس حمايت كوونكې افراد موجود وو لكه سردارولي محمد خان (لاټي) سردارمحمد حسن خان سردار محمد اسلم خان چې داميرشيرعلي ورونه وواو داسې نور سرداران چې دوی غوښتل چې هميشه امتيازات او حكمراني ددوي كه څه هم پرديو دغلامي په نتيجه کی داهر څه لاسته راوړي.

په خارجي پاليسي كې داميرشيرعلي اشتباه داوه چه هغه دانګليس څخه ددولت هميشه داشكايت كولو چې ولې په خپلو معاهداتو عمل نكوي او هميشه خپل معاهدات اوقرار دادونه ماتوي او برعكس هغه په تزاري روسي اعتماد درلودلو وويل يې چې هغوي دروغ نه وايي اما وروسته ثابته شوه چه دا فكر غلت و

امامهمترينه اشتباه چې اميرشيرعلي خان په خپل طول دژوند كې وكړ هغه دخارجي خطر په وخت كې دخپل ميړني ولس په شهامت باندی بی اعتمادي وه او دهمدی اشتباه له امله وچې دافغانستان دخاوری تماميت او استقلال دخطر سره مخامخ شو.

يوبله اشتباه چې اميرشيرعلي پخپل داخلي سياست كې وكړ، هغه داوه چه، باوجود ددی چې هغه مشر ځوی درلود چې محمد يعقوب خان نوميده خپل بل وړوكي ځوی سردار عبدالله خان چه (12) كاله يې عمر درلود دوليعهد په حيث تعين كړ ځكه دهغه مورپری دنورو ښځو څخه زيات ګرانه وه دافيصله ددی سبب شوه چې سردار محمد يعقوب خان په (1870) م كال كې دكابل څخه فرار وكړ او هرات يې دخلكو په كمك ونيوه او دهغه ځای حكمران فتح محمد خان ته يې شكست وركړ انګليسانو فوراً ددی داخلي ګډوډی څخه استفاده وكړه او دمحمد يعقوب خان په لمسولويې شروع وكړه اماكله چه سردار محمد يعقوب خان داميرشيرعلي خان په خلاف دوژني توطيو او په پايتخت كې دكشمكشونو څخه خبر شو نو په خپلو كړو پښيمانه شو او بيرته كابل ته راغی او ځان يې پلا ته تسليم كړ اما اميرشيرعلي هغه په (1872) م كال كې په زندان كې بندي كړ ځكه دهندانګليس دولت اميرشيرعلي ته ليک استولی وو تر څو دسردار محمد يعقوب خان سره دنرمی نه كار واخلي په حقيقت كې دادانګليس چال و ترڅو دپلار او ځوی ترمينځ بدګماني پيداكړي او همدغسی وشول اميرشيرعلي خان خپل ځوی باندی دومره فشار راوړچې دهغی ذهني، روحي او جسمي قوه يې تباه كړه.

همدی وخت كې په افغاني سيستان باندی دايران دحملي او جنوب غرب سرحد په سر دنزاع موضوع رامينځ ته شو پدی موضوع كې ددواړو هيوادونو لخوا دانګليس دولت دحكم په حيث ومنل شو، پدي مذاكراتو كې دانګليس هيت مشر ګولدسمت نوميده

دافغانی هیت مشری صدراعظم سیدنورمحمدشاه کوله اودایرانی هیت مشری میرزا معصوم خان وو

اماانگلیسانو دایران په حق فیصله وکړه سیستان چه دهلمندسیندوادی ده دیو سلسله غرونوپواسطه دایران خاوری څخه جداشوی چې تاریخ په اوږدوکې تر (1000) کلنوپوری دافغانستان دخاوری برخه اوجزو اوهرات دولایت داداری لاندی و خصوصا داحمدشاه ابدالی په وخت افغانستان دخاوری لاینفک جز حسابیده مگر دافغانستان دداخلی اختلال اوګډوډی په وخت کې دهغه دخاوری یوه برخه دانګلیسانوپه تحریک دایران لخوااشغال شوه.

دانګلیس هیت دغیری عادلانه فیصلی په اساس دسیستان دخاوری بهترینه برخه دایران پوری وتړل شوه اوهم دهلمندسینددابو (50) ملی کې هم شریک شوسره لدی چې افغانی هیت اعتراضونه وکړ امادهغوي اعتراضونه بې څوابه پاتی شوامیرشیرعلی خان دانګلیس پدی فیصلی ناراضه شواودافغانستان او انگلیس ترمینځ سیاسي کشیده گی زیاته شوه.

په(1873) م کال کې دانګلیس حکومت دګولدسمت حکمت نه دراپیداشوی سیاسي شخړی کمولولپاره امیرشیرعلی خان ته دهنددراتلولپاره دعوت ورکړامااامیر ددربار داعضاو په مشوره خپل سفر هندته او دانګلیس دنماینده سفراوراتک کابل ته ردکړ او وعده یې ورکړ چې خپل نماینده به هند ته استوی همغه و چې په (1873) م کال داپریل په میاشت کې دصدراعظم سیدنورمحمدشاه شملي ته ورسید.

دجولای دمیاشت کې دهند دګورنرجنرال نارت بروک سره مذاکرات پیل کړل دانګلیس حکومت پیشنهادوکړچه دافغانستان دولت بایدپه خپل خارجی سیاست کې دانګلیس ددولت څخه مشوره واخلی اودافغانستان دسرحداتو دپلټنی لپاره دی یو موقتی هیت اوهم په هرات، بلخ، او قندهار کې دانګلیس نظامی اوسیاسي نماینده ګان په دایمی ډول قبول کړی دانګلیستان دولت به ددی په بدل کې په افغانستان باندی خارجی حملی په وخت کې دافغانستان سره کمک کوی امادکمک اندازه به دانګلیس دحکومت دقضاوت پوری تړلی وی.

افغانستان هیت نوموړی پشنهادات ردکړل او پشنهادیې وکړچې دانګلیس دوستی دافغانستان دپادشاهی ولیعهدپه توګه شهزاده عبدالله په رسمیت پیژندلوسره تضمین کړل شی اوهم دی دانګلیس دکمک تعین دی دافغانستان پادشاه امیرشیرعلی دغوښتنی پوری تړلی وی امادانګلیستان دولت نماینده ګانو داقامت موضوع دافغانستان په ولایاتو کې دامیر پوری تعلق لري.

بناء انگلیسانو دسمبر په میاشت کې امیرشیرعلی خان ته یو لیک واستوه او په هغې کې خپلې غوښتنې تکرار کړې او هم د (15000) پنځلس زره ټوپکو او یو میلون دروپو کمک دورکولو پیشنهاد وکړ اما افغانی هیت مخکې لدې داګست په میاشت کې بیرته کابل ته ګرځیدلی و، امیر شیرعلی خان دټوپکونو کمك قبول کړل اما نقدی کمک یې په هند کې معطل کړ همدارنګه هغه په خارجی روابطو کې دانګلیس دولت څخه دمشوری اخستل او دانګلیس ددایمی نماینده ګانو دمنلو څخه انکار وکړ.

ددې په تعقیب دهمدې دسمبر په میاشت کې لارډ نارت بروک دامیرشیرعلی خان څخه غوښتنه وکړه ترڅو هغه دوه نفره انګلیسانو چې دایران او روسی څخه هندته را ګرځی دافغانستان څخه دتیریدو اجازه ورکړی اما امیرشیرعلی خان دنارت بروک داغوښتنه رد کړه پدی توګه ددواړو دولتو نو ترمینځ بدګمانی نوره هم زیاته شوه.

په (1874) م کال کې خیوه دروسی ددولت لخوا په مکمله توګه اشغال شوه او هم په انګلیستان کې دافغانستان په هکله دفارورډ پالیسی طرحه تصویب شوه سره له دی چې دوړاندی تګ پیشنهاد په (1865) م کال کې ددی پالیسی دطرفدارانو لخوا لکه (لارنس، لمسدن، او را بنس) وړاندی شوی و اما په (1874) م کال (بارتل فریزر) په افغانستان کې دانګلیسانو سیاسي نفوذ دلزوم طرحه وړاندی کړه.

لدی څخه ورسته دانګلیسانو سیاسي دستګاه دافغانستان په مقابل کې په نوي او جدی شکل په کار شروع وکړه دانګلیستان صدراعظم دیزرایلی او دهند وزیرسالسبری دهندنوی ګورنر جنرال لارډلیتن ددی طرح په تطبیق باندی موظف کړ انګلیسانو په (1875) م کال کې دقلات دخان سره یوه خفیه معاهده وکړه او پدی توګه کویټه یې خپل نظامی مرکز ونیوه او قندهار یې دمستقیم فشار لاندی راوست امیرشیرعلی خان انګلیسانو پدی عمل چې دده داطلاع څخه بغیر سرته رسولی وه نورهم بدګمانه او خفه شو.

او په (1876) م کال کې امیرشیرعلی خان دانګلیس دویسرای دعوت ته چې دانګلستان ملکې ته دهند د (امپراتریس) لقب ورکولو په مجلس کې دګډون لپاره ورکړی وو رد کړ ځکه دامجلس دهند دشهزاده ګانو لپاره مخصوص وو پداسی حال کې چې امیرشیرعلی خان دیو مستقل دولت حکمران وو.

متعاقباً په همدی کال لیتن دهندنوی ګورنر جنرال یو لیک امیرشیرعلی خان ته واستوه چې یو انګلیسی هیت دمذاکراتو لپاره کابل ته راځی امیرشیرعلی خان چې انګلیسانو دسیاسي چالونو سره ښه اشنا شوی و، چې په هره مذاکره دنوی سیاسي دامونو دایښودو کوښښ کوی نو امیر دلیتن دا پشنهاد رد کړ او یې ویل چې انګلیس هیت به په

کابل کې دخلکو لخوا دانګلیسانو لخوا دنفرت له امله دخطر څخه مخ وی دهندی ویسرای چې داحالت ولیده خپل نماینده عطامحمدخان یې دکابل څخه احضار کړ.

لیتن دفارورډپالیسی له مخې غوښتل چې دروس دنفوذ مخنیوی لپاره دهندوکش په غرونو اوداففانستان په مرکز کې دانګلیس فوځونه ځای په ځای شي اوپه قندهار ،هرات،او بلخ کې دانګلیس ددولت نفوذ نورهم قوی شي کابل او غزني دکویټي په شان دانګلیس نظامی مرکزونه شي شینوار او مهمندو سیمه دی دننګرهار څخه جلا شي سیبي اوپیشین دقندهار په عوض دانګلیس بلوچستان پوری وتړل شي او دخیبر،کرم اوبولان لاری دی دانګلیسانو په لاس کې وی.

ځکه لیتن اصلاً دیو مستقل او بیطرف افغانستان په موجودیت باندی عقیده نلرله هغه ویل چې افغانستان دی باید یا دروس پوری وتړل شي اویا دانګلیس پوری اوکه داسی نه کیږی بایدتجزیه شي اوله مینځه دی یوړل شي ځکه لیتن عطامحمدخان ته وویل ((چه امیرشیرعلی خان غواړی چې دانګلیس او روس ترمینځ موازینه وساتی او وایې چې زه دهغوي دیو دنفوذ لاندی هم نه یم پداسی حال کې چې افغانستان دژرندی ددوه پلونو ترمینځ دغنم دانی حیثیت لری او هر کله چه هغوي وغواړی افغانستان ددنیادصحنی څخه محوه کولای شي)) نو عطامحمدخان ته یې هدایت ورکړ چې لاندی مطلب امیر شیرعلی خان ته داخطار په ډول ورلاندی کړی.

((افغانستان دانګلیس دولت داطلاع پرته دهیڅ خارجی دولت خصوصاً دروس سره ارتباط ونه نیسی، دانګلیس دنماینده ګانو موجودیت خصوصا په کابل،هرات،قندهار ،اوداففانستان په سرحداتو کې قبول کړی،انګلیس دنماینده ګانو دتلو راتلو لاری خلاصون او دهغوي دحفاظت په شمول دافغانستان په غاړه دی، دانګلیس هیت هره وخت افغانستان ته دداخلیدو اجازه لری،دافغانستان پاد شاه دخپلو ګاونډیانو په خاوره حمله نکوی (مقصدیې دافغانستان دخاوری هغه برخې وی چې اوس وی دانګلیس ته قبضه کې وو) انګلیس دافغانستان سرحدات ساتی او دهغی عساکر تقویه کوی)).

لیتن وویل که چیرته امیر داشریط منی نو دمذاکری لپاره دي خپل نماینده پیښور ته واستوی او که داشرایط نه منی دنماینده استول ضروری ندی.

پدی صورت کې به دانګلیس دولت دروسی سره مذاکره اوموافقه وکړی تر څو افغانستان ددنیادنقشې څخه محوه کړی. امیرشیرعلی خان چې دانګلیس دسفیر دخبرو څخه دانګلیسانو په تولو دښمنانه مقاصدوباندی پوه شوی و نودانګلیسانوسره دوستی اوبرابری په بنیاد دیوی موافقتنامی څخه په کلي توګه ما یوسه

شو امیرشیرعلی خان دانګلیسانو سفیر ته وویل چې ((افغانستان دژرندی ددوه پلونو تر مینځ دغنمودانه نه ده بلکې دتلی ددووپلوترمینځ شاهین دی نوکه هری پلی طرف ته میل وکړی دوهم طرف په هواکوی)) مګر بیاهم امیرشیرعلی خان اخری کوښښ وکړ ترڅوکه وکولای شی دانګلیسانو دښمنانه نقشه کې تبدیلی راشی.

نو د(1877) م کال دجنوری په میاشت کې یو سیاسي هیت دصدراعظم سیدنورمحمدشاه په مشری دمذاکراتو لپاره پیښور ته واستوه دانګلیس نماینده پیلی بیادلتین پخوانی شرایط وړاندی کړل اماافغاني هیت هغه ردکړاوویې ویل چې دافغانستان خلک دانګلیس نژادنماینده موجودیت دخپل هیواد داستقلال لپاره خطر ګڼی پیلی وویل چې کچېری دانګلیس شرایط ونه منل شی نودوی به دهند دسرحدساتلولپاره دامیرشیرعلی خان سره دمشوری پرته لازم اقدامات وکړی.

دي مذاکراتو(30) جنوری کال (1877) دمارچ تر (15) پوری دوام وکړددی مذاکراتو په دوران کې دافغانستان دهیت مشر سیدنور محمدشاه ته په ناساپی توګه مریضی پیداشوه او په (26) مارچ کی په مرموزه توګه ددی دنیاڅخه سترګی پټی کړی.

لارډلیتن چې دفرصت په انتظار و په عاجله توګه یې دمذاکراتو دپای اعلان وکړ دصدراعظم سیدنورمحمدشاه مړی کابل ته راوړل شو اوپه شهدا صالحین کې خاورو ته وسپارل شو. اماامیرشیرعلی خان دپیښور دمذاکراتولپاره دیوبل هیت دمستوفی حبیب الله خان وردګ په مشری واستوه امااافغانی هیت سرحدته نه و رسیدلی چې پیلی دمذاکراتو دخاتمی اطلاع دلارډلیتن (30) جنوری کال (1877) م دتلیګراف په اساسی مستوفی حبیب الله خان ته ورکړنو افغانی هیت بیرته کابل ته وګرځید.

(1877) م کال دافغانستان اوانګلیس ترمینځ روابطو سوړوالی اوخاموشی کی تیر شو، پداسی حال چې انګلیس په افغانستان دحملی لپاره په نظامی تیاری بوخت وو په همدی کال کی یو ترکې هیت هم کابل ته راغی تر څوامیرشېرعلي خان دانګلیسانو دمطالباتو منلوته اماده کړی اوروسانوته له نږدی کېدوڅخه یې منع کړی اماامیرونه منله داهغه وخت و چې دروس اوترکې ترمینځ روابط خراب وو او ددوی ترمینځ جنګ هم پیښ شوی وو.

له بلی خوا روس هم دافغانستان په برخه کې خپل سیاسي فعالیتونه شروع اودوام ورکړی وو ،لومړی ځل لپاره په (1878) م کال دوه نفره دروسی مسلمان نماینده ګان کابل ته راغلل او امیر سره یې ددواړو ددولتونو ددوستی په هکله مذاکرات وکړل.

ددوهم ځل لپاره دهمدی کال دجولای په (22) د((ستولیتوف)) په مشری دروسی هیت کابل ته راغی او په مذاکراتو یې پیل وکړ دروسی هیت افغانستان ته په درواغو وعدی ورکړی،چې هغی کې یوه داوه چې تزاری روسیه په افغانستان دانګلیسانو دحملی په

صورت کې دافغانستان مالی اونظامی کمك کوي البتـه انګلیسـان دافغانستان او روسی ترمینځ ددی تړلو مذاکراتو او مکاتباتو څخه خبروو ځکه دهغوي مشهور جاسوس قاضی قادر دامیرشیرعلې خان په دربار کې موجود و.

دانګلیستان دولت په افغانستان دمکمل قبضی لپاره دسندپه دریاب پل جوړکړاوهم یې دکویټی، راولپینډی،وزیرستان اوچترال په مهمونقاطوکې نظامی قرارګاوی جوړی کړی. کله چې انګلیسان کابل ته دروسی دهیت دراتلوڅخه خبرشو نویوهیت یې ((جنرال نویـل چمبرلین)) او((سرلیوی کېوناری )) په مشری دیوزرسپروعسکروسره مـامورکړ ترڅود کابـل طرف ته مارش (حرکت) وکړی دانظامی هیت چه پیښور ته ورسید نواب غلام حسین خان یې دعطامحمـدخان پرځـای چـه پخوایـه کابـل کـې دانګلیس سـفیر و کابـل تـه واسـتوه ترڅـو امیرشیرعلی دانګلیس هیت منلو ته اماده کړی، پداسی حـال کـې چـې انګلیسـی هیت تـه لاړ‌لیتن لخواحکم شوی وو، چې کـه افغانسـتان وغـواړی یاونـه غـواړی دکابـل طرف تـه مارش وکړی مګرداچې افغانی عساکردهغوي مخه ونیسی.

دي هیت ته وظیفـه ورکـړل شوی وه ترڅـو دافغانسـتان پادشـاه مجبـور کـړی ترڅـو روسـی هیت دکابل څخه وباسی دانګلیس افسـرانو اقامت دافغانسـتان پـه خـاوره کـې قبـول کـړی خپل خارجی سیاست دانګلیس دولت درهبری لاندی ترسره کړي پدی صورت کې بـه د انګلیس دولـت دروسـی دحملـی پـه وخـت کـې دافغانسـتان حمایـت کـوی او پـه (120000) دولس سوه زره روپي ددی هیواد سره کمک کوی او هم بـه دهغـه ولیعهـدچې امیرشیرعلی خان یې معرفی کوی (مقصدورڅخه شهزاده عبدالله خان چې پدی وخت کې مړشوی و) پـه رسمیت پیژنی.

انګلیس هیت په (12) سپتمبر کال (1878) م کې علی مسجدته چې دافغانستان سرحد و ورسـید اودلتـه دفـیض محمـدخان لخـوا چـې دسـرحد دمحافظینومشـر و ودرول شـول ترڅودکابـل څخـه اجـازه حاصـله کـړی کېونـاری پوښـتنه وګـړه داچـې تاسـو دیـو دوسـت هیوادنماینده هیت مانع کېږی ایا امیرشیرعلی خان به پدی خفه نشی.

فیض محمدخان ځواب ورکړچې ((دځرنګه دوست دولت نماینده چې پرتـه داجازی څخـه زمونږخاوری ته داخلیږی اوخلکوتـه درشوت ورکـوی چې هغـوي تـه لاره ورکـړی اوافریـدی دافریدی په ضدپاڅوی اوپه هیواد کې دولتي وینی تویېدنی باعث ګرځی)).

بناً جنرال چمبرلین دخپل هیت سره دافغانی سرحد څخه بیرته وګرځیدلیتن چې دهمدغه ډول عمل غوښته اوپه خپله یې دهغه زمینه مساعده کړي وه سخت خوشحاله شو، دلندن حاکمـانو هغـه تـه اختیـارورکړي و چـې دافغانسـتان پادشـاه ددی عمـل پـه مقابـل کـې پـه معـذرت غوښـتولواوهم پـه افغانسـتان دانګلیس نژاده نماینـده ګـانو قبولـولـو تـه مجبـوره

کړی، همدا وچې دانګلیس دولت (31) داکتوبر اولتیماتم په (10) دنومبر (1878) کې کابل ته ورسید او دهغه درد او قبول لپاره صرف لس ورځې یعنی تر (20) نوامبر وخت ورکړل شوی ؤ امیرشیرعلی خان په (19) دنوامبر داولتیماتوم ځواب دمحمدعثمان خان په لاس ولیږه هغه ډکې ته رسیدلی وو چې خبرورته ورسید چې ددښمن قواوی دسرحد څخه راواوړیدی.

تردی وخت پوری انګلیسانو دافغانستان په داخل کې دخپلو مزدورانو په واسطه ډیر تخریبی کارونه کړی واو په فوځ او دربارکې پوره اختشاش او بی اتفاقی موجوده وه.

امیرشیرعلی خان ته دانګلیس عساکرو دافغانستان ثلاثه سرحدونو څخه داوړیدو خبر درسیدو څخه ورسته دننګرهار، پکتیا، اوقندهار حاکمانو او افسرانو ته امرو کړ چې ددښمن دمقابلې نه تر هرات او کابله پورې عقب نشینی وکړی او دشاه ددوهم حکم انتظاردي کوی.

اوبخپله په (10) دسمبر په کال (1878) م کې په یو لوی دربار کې ودرید او خلکو ته یې ابلاغ کړه چې ((زه بلخ ته او دهغه ځای څخه (سنت پترسبرګ) ته ځم تر څو دانګلیس دتجاوز قضیه په یو بین المللی کنفرانس کې مطرح کړم او دافغانستان دازادی حق اعاده کړم. دخلکو شور او فریاد جیګ شو چې مونږ باید دلته په توره ددښمن مقابله وکړو، امیرشیرعلی خان ونه منله په غوسه شو او دیو مستبد او دیکتاتور پادشاه په حیث یې غږ وکړ په هغه څه چه زه پوهیږم تاسو نه پوهیږی (پداسی حال کې چې هغه نه پوهیده او خلک پوهیدل) دکابل نماینده ګانو غوښتنه وکړه چې څرنګه چې ته ځی نوشیربچه دقفس څخه خلاص کړی او مونږ ته یې راکړی ترڅو ددښمن مخه مونږونیسو، (ددوی مقصد سردار محمد یعقوب خان دامیرشیرعلی خان ځوی و چه په زندان کې بندی و) امیرشیرعلی خان ومنله او محمد یعقوب خان یې دزندان څخه خلاص کړ او دکابل دوالی په حیث یې خلکو ته معرفی کړ)) اوپدی توګه داغم انګیزه دربارپای ته ورسید.

امیرشیرعلی خان عاجلاً دسفر تیاری شروع کړ او په (13) دسمبر باندی یې انګلیسان دخپلی ارادی څخه په لیکلی توګه خبر کړ اما انګلیسان پدی پوهیدل چې دروس دولت ددی توان نلری چې یوه مرمی هم دبرتانیې امپراطوری په خلاف فیر کړی.

ددی په تعقیب امیرشیرعلی خان او دهغه کورنی دیو تعداد وزیرانو افسرانو، مامورینو او د (6000) شپږزره عسکرو سره دبلخ په استقامت حرکت وکړ دروسی هیت هم پدی سفر کې شامل و، امیرشیرعلی خان په اول دجنوری (1879) م کال کې دمزارښار ته داخل شو. اوغوښتل یې چه مستقیماً دروسی سرحد ته داخل شی مګر دبلخ خلکو او عساکرو هغه پری نښود او جهاد داعلان غوښتنه یې وکړه. امیرشیرعلی خان دفوځ دقیام له ویری خپله اراده ترک کړ او یوهیت یې دخپل خارجه وزیر شاه محمد خان په مشری

دروسی دحکومت دکمک جلبولو اومذاکراتو لپاره تاشقند ته ولیږل، اما په هغه خط کې چې دتاشقندروسی حکمران «کوفمان» لخواته امیرته لیکل شوی و، سنت پترسبر ته یې دامیرسفر اوهم یې دهرنوع کمک دورکولو څخه انکار وکړاو ویې ویل چې امیربایددافغانستان څخه خارج نشی اوهرڅنگه چې کېږی دانگلیسانوسره مصالحه وکړی.

امیرشیرعلی ناگهانه مریض شو اوپه (21) فبروری کال (1879) م کې د(56) کلنی په عمر وفات شو او یوځل بیاافغانستان دانگلیسانو دسیاسي اونظامی تجاوزله امله په وینو کې ډوب شو.

دافغانستان ټول خلک دامیرشیرعلی خان ددی فراراوضعیفی اداری څخه ناخوښه اومایوسه شول ځکه امیرشیرعلی خان دافغانستان دپادشاهی وظیفه په غاړه درلوده اوکلونه یې په میلونونو خلکو حکمرانی کړی وه اوهغه خپله درنه وظیفه چې باید ترسره کړی یې وای ترسره یې نکړاوپرته له مقاومت اوجنگ څخه یې ددښمن څخه فراروکړ.

## امیرمحمد یعقوب خان(1879) م

امیریعقوب خان دپلار دسلطنت په وخت کې دیوښه نوم اوشهرت خاوند و اوخپل پلارته دسلطنت په دوباره اعاده کولو کې په میړانه خدمت کړی و. اماکله چه امیرشیرعلی خان لخواعبدالله خان چې لاماشوم و، اود(12) کلونو و، دولیعهدپه توگه وټاکل شونو شورش اوسرکشي ته یې لاس واچوه، همغه وچه دپلارلخوازندانی شو اما خلکو چه هغه دپلار مشر ځوي گڼه، دي خوښولو نوځکه دده په محبوس کېدو خفه وو.

دکابل خلکوهغه دشیربچه په نوم یادولونوکله چه امیرشیرعلی دکابل څخه فرارکولونوخلکو غوښته وکړه چه محمد یعقوب خان ازاد کړی اوهغه خپل جانشین وټاکي دبلخ خلکواوعساکرودامیرشیرعلی دمرگ وروسته دامیر بل زوی سردارمحمدابراهیم

اوداميردلوور سالوجان چه دواړو دپلار دجانشيني ادعا درلوده حمايت ونكړ.
اودسردارمحمد يعقوب خان (7) كلن ځوى محمدموسى يې دپلارپه نامه دحكمران په حيث تعين كړ.همدارنګه دهرات خلكو هم دكوم مقامت څخه پرته واك په خپله خوښه دامير محمد يعقوب خان په نوم دهغه ورور سردار محمدايوب خان ته وركړ دافغانستان نورولاياتو هم خپل بيعت ليكونه اميرمحمد يعقوب ته راوليږل اوبلافاصله دافغانستان په ټولو جوماتونوكې دده په نوم خطبه وويل شوه.

خلك چې په قندهار، كورم، اوخيبركې دانګليسانو دحملې څخه خبرشوي وو، نوددښمن دله منځه وړلو لپاره داسي پادشاه اورهبرته په انتظار وو چه دهغه دبيرغ لاندې جمع شي اوپه دښمن هجوم يوسي دهغوي په فكر داپادشاه اميرمحمد يعقوب خان و چه پخوايې د جنګ په ميدانونوكې فولادي خولۍ په سر كوله اوپه دښمن يې حمله كوله.

پداسي حال كې چه اميرمحمد يعقوب اوس هغه دپخواني امير نه و.ځكه چه دي په (25) كلنۍ كې دبلاحصارپه زندان كې بندي كړاى شو.او(7) كاله دتجريد، غم اوناامېدۍ په حالت كې خپلې دژوند شپې شميرلي، هغه چه دپلار دعصبيت اوسختۍ څخه ښه خبر و خپل ځان يې دمدام العمر زنداني ګاڼه.دهمدې نااميدۍ او فشارله امله هغه دحبس په دريم كال كې سخت مريض شو پدې توګه هغه ورو ورو خپل اعصاب دلاسه وركړ اوپه روحي اوعصبي امراضو مبتلاشوچې بلاخره داسې يو فردتري جوړ شو چه دهرڅه نه ويريده اوخپل دارادې اومقامت قوه يې دلاسه وركړه.

سردارمحمد يعقوب پداسي حال كې په ناڅاپي توګه دزندان دتابوت څخه راوت اودسلطنت په ګدۍ كښنول شو.چې ښار، سيمه او افسر خلك اودربارهغه ته بيګانه معلوميدل دهغه درباريان وايې چه كله محمد يعقوب خان دزندان څخه دازادي وروسته دبالاحصارپه شرقي برخه كې دوداني په دوهم پوړ كې ديوې پراخه كړكې خواته ناست و اودخبرو سلسله شروع وه په همدې وخت كې اميردكړكې څخه بهروكتل اوويې ليدل چه دمرنجان دتپې په سركې يو توپ نصب دی چه خوله يې دبالاحصار خواته ده اميردويري دكړكې څخه ځان لرې كړ ددربار دماموړينو څخه يو تن پدې وضعه پوه شو اوامرې وكړچه توپ دي بل ځاى ته انتقال كړل شي وروسته اميرارامه شو.

اميرمحمد يعقوب خان چه په (10) ددسمبردپلارلخوادكابل دوالي په حيث تعين شوى و دپلار دمړينې ورسته دمارچ په مياشت كې د(1879) كال كې خپله پادشاهي علان كړه، انګليس اوروس ته يې رسماًخبرور كړ پدې دوران كې دانګليس افغاني مزدوران په فعاليت لګياوو ترڅو افغانستان دانګليسانوپلاس خرڅ كړي، دهمدې جملې څخه يوهم سرداروَلي محمدخان لاتي وچه غوښتل يې انګليسانوته دخپلې وفاداري په ښودلوسره دهغوي په

وسیله ځان دافغانستان پادشاهی ته ورسوی. همدارنګه په قندهار کې سردار شیرعلی خان دمهردل خان ځوی دقندهار دحاکم په قندهار کی دحکمران په حیث دپاتی کېدو لپاره خان دانګلیسانو خدمت ته وقف کړ.

سردار محمد حسن خان دجلال اباد دحاکم په همدی ډول عمل ترسره کړ داهغه ډله مفت خواره اوبیګاره خلک وو چه غوښتل یې همیشه حکمرانی وکړی که هغه ددوست دلاس لاندی وی اوکه ددښمن دلاس لاندی وی، داسی وطن خرڅونکې اوبی ضمیرخلک دملک په تاریخ کې ډیرلیدل شوي دي او لیدل کېږی.

امیرمحمد یعقوب خان چه دخپل داقتدار داولی ورځی څخه افغانستان اوخپل ځان دانګلیسانو ته تسلیم ګاڼه، اما انګلیسان چه دافغانستان په دری واړه محاذونو کې دخلکو دشدیدو حملولاندی وو اوخپله اینده یې ښه نه لیدله نو غوښتل یې چه دامیر محمد یعقوب خان سره دمذاکری دلاری ځان خپل هدف ته ورسوی اوپرته دجنګ څخه بیرته هند ته وګرځی دهمدی مذاکراتو لپاره و چه دانګلیسانو سردار یحیې خان چه دامیرخسر او دامیر دحبس په وخت کې کشمیر ته تبنتیدلی و راوغوښت اوکابل ته یې ولیږه همدارنګه منشی بختیارهندی یې هم دهمدی ماموریت لپاره توظیف کړ.

ځکه انګلیسانو غوښتل پدی توګه دوه اهدافو ته ځان ورسوی یو دخیبر، کورم اوبولان دلویولاروساتل اودافغانستان خارجی سیاست دخپل نفوذلاندی راوستل بناً دانګلیس نماینده منشی بختیار ددی دوه اهدافو دلاسته راوړلو په خاطر دامیر دبعضی نږدی سردارانو په کمک امیر دي ته اماده کړی چه دګندمک ته لاړشی اویوه نوی معاهده دانګلیسانو سره امضاکړی امیرمحمد یعقوب خان په (2) مي د (1879) م کال دمنشی بختیارهندی (25) سردارانو او (400) سپرو سره دګندمک طرف ته حرکت وکړ دانګلیس سیاسي نماینده (سرلیوی کېوناری) د ((لارډلینز)) په امر دانګلیس لخوا پشنهادشوی معاهدی مسویده وړاندی کړه

امیردا ټول محتوایات قبول کړل اما صدراعظم مستوفی حبیب الله خان وردګ، سپه سالار داودشاه خان اودامیر منشی مرزا محمدنبی خان چه دامیرسره پدی مذاکراتو کې موجو وو دامسوده رد کړه مذاکرات تر (17) دمي پوری اوږده شو، پدی دوران کې سردارمحمد ولی خان لاتی چه دامیرتره و انګلیسانو ته وړاندیزوکړ چه کچېرته دافغانستان پادشاهی ده ته ورکړل شی نودا پشنهادات به په پټوسترګو امضاء کړي اماانګلیسان چه پدی پوهیدل چه ولی محمدخان په ټول افغانستان کې دانګلیس په سرپرستی شهرت لری اوخلک دهغه څخه نفرت کوی اوله همدی امله یې لاتی بولی نوهغه به ددی معاهدی دموادو داجرا توان ونلری نو ټینګه اراده یې وکړه چه دامعاهده به خامخا

په امیر محمد یعقوب خان امضاء کوی نوځکه یې دامیرسره په یوائې توګه په مذاکرتوشروع وکړه ترڅو دصدراعظم اوسپه سالار دمقاومت څخه ځان خلاص کړي دمذاکراتو په جریان کې چه انګلیسانو دامیرضعیف ولیددمعاهدی شرایط یې نورهم سخت کړل اوپه امیرباندی یې دفشاردراوړلو په خاطر دولی محمدخان لاتی خبره هم یاده کړه امیردانګلیسانوداطاعت په ښودلوکې دخپل تره سره په مقابله شروع وکړه.

پدی توګه دګندمک معاهده په (26) دمي (1879) م کال په لاندی توګه امضاء شوه اویوهمیشنی تورنوم دافغانستان په تاریخ کې امیرمحمدیعقوب خان ته پاتی شو.

## ګندمک معاهده

دغه عهدنامه دالاندی شرایطو په بناء دبرتانیې او والاحضرت محمد یعقوب خان دافغانستان امیر ادهغه دمتعلقاتو تر مینځ دصلحی اودوستی داقامی په خاطر منعقد کیږي.

1 دهغه ورځی نه چه معاهده ددواړوخوانه تصدیق کیږی دبرتانیې دحکومت اودافغانستان دامیردهغه دجانشینانواونوروومتعلقاتو ترمینځ دایمی صلحه اودوستی برقراروی.

2 دافغانستان امیر اودهغه ملحقات تعهدکوی چه دمعاهدی دتصدیق وروسته دټولوهغه کسانو دعمومی عفوي اعلان صادروی چه دجنګ په دوران کې دانګلیس عساکرو(اردو) په طرفداری کارکړی اودوی چې په هره درجه اومرتبه کې وی دمجازاتواوصدمه څخه به محفوظ وی ((لکه سردارولی محمدخان لاتی اوداسی نور))

3 دافغانستان امیراودهغه ملحقات متعهد شوی چې دخارجی هیوادونوسره درابطی په برخه کی دبرتانیې دحکومت دمشوری پاپندی دی، ددې دولتونو سره معاهدات نکوی اوسلاح دهغوي پرضدنه پورته کوی. اودخارجی حملی په صورت کې به دانګلیس نظامی کمک، اسلحه اوپیسی ددفاع په خاطر څرنګه چې انګلیس دولت مناسب ګڼی استعمال شی انګلیسی عساکربه ددفاع دکاردسرته رسیدوڅخه ورسته دبرطانیې قلمروته مراجعه کوی

4 دبرطانیې دحکومت اوالاحضرت دنږدی ارتباط اوهم دامیردسرحداتو اومقبوضاتو دحفاظت په غرض طرفین تعهدکوی چې په کابل کی یوانګلیسی نماینده دیودسته محافظینوسره دهغه شان سره مناسب عمارت کی مقیم کیږی.

اودیوخارجی مهم معاملی دبروزپه صورت کې برطانیه حق لری چې دافغانستان سرحداتوته انګلیس نماینده ګان اوعساکرو لیږی دضرورت په وخت کی که چیږدواړو

طرفینوفایده پکښې متصوره وي دولاحضرت دافغانستان امیرهم کولای شي چې یو نماینده دګورنرجنرال په دربارکي مقیم کړي همدارنګه دهندپه هرځای کې چې دداواړوخواوخوښه وي

5 دانګلیس دنماینده ګانو حفاظت دولاحضرت دافغانستان امیراودهغې دملحقاتو په غاړه ده دانګلیس حکومت تعهدکوي چې دهغې نماینده ګان به دافغانستان په داخلي امورو کې مداخله نکوي

6 - ولاحضرت دافغانستان امیراودهغه ملحقات دخپل ځان اودخپل جانشینانولخواتعهدکوي چې په افغانستان کې دبرطانیوی اتباعودرفت اوامدپه برخه کی مشکل تراشي نکوي ترڅومحفوظ وي اوتجارت وکړي.

7 - څرنګه چې تجارت دطرفینوترمینځ په مسلسله توګه جریان لري ولاحضرت دافغانستان دامیر تعهدکوي چې دتجارانو دحفاظت اودتجارتي مالونو دعبورلپاره سهولتونوبرابرولواولویولارو دحفاظت لپاره کوشش کوي دتجارت دترقي اوانتظام اودتجارتي مالیاتواونوروپه هکله به یوجلا قرارداددیوکال په اوږدوکې منعقد کېږي.

8 دتجارتي رابطواوتګ راتګ دسهولت پخاطرطرفین تعهدکوي چې دکرم څخه ترکابله پوري دتلګراف یوخط دبرطانیې په مصرف جوړېږي اودهغه حفاظت به دافغانستان دامیرپه غاړه وي

9 څرنګه چې ددواړوحکومتونوترمینځ ددې معاهدې له مخې دوستي بر قرارشوې دی دبرطانیې حکومت دقندهاراوجلال اباددښارونواودهغه سیمې چه اودبرطانوي عساکرو دقبضې لاندې دی تخلیه کوي اوبیرته سپاري په استثناء دکرم، پشین اوسیبي چې دبرطانیې دحکومت دانتظام او تسلط لاندې به وي اما داتسلط به دایمي نه وي دهغې مالیات به دداخلي مصارفودپرداخت وروسته کال په کال دافغانستان امیر ته سپارل کېږي دبرطانیې حکومت دمیچنی او خیبر انتظام چې دجلال آباداوپیښور ترمینځ واقع دي پخپل لاس کې اخلي اوهم دهغه قبایلو درفت اوامدانتظام چې پدې دوه منطقوکې قرارلري برطانیه پخپل لاس کې اخلي

10 دبرطانیې حکومت تعهدکوي چې دولاحضرت امیردکمک پخاطر ترڅوخپل حقه اختیارات ترلاسه کړي اوددې معاهدې دشرایطودقبولو پخاطر دکال (600000) شپږسوه زره روپۍ امیر اودهغه جانشینانوته ورکوي.

دامعاهده په ګندمک کې په (26) دمې کال (1879) م کې چې دجمادی الثانی د(4) کال (1294) هـ ق سره سمون خوري متعقد شوی ده ((دامیر محمدیعقوب خان امضاء))
((دسرلیوی کېوناری امضاء)) ((دګورنرجنرال لارډلیتن امضاء))

پدې ډول امیر محمد یعقوب خان یو سلسله اوچت غرونه دهغه او سیدونکو سره چې دافغانستان په شرق کې د استعمار دهجوم په مقابل کې دسپر حیثت درلود کرم څخه تر ځاځي پورې، دخیبر هیبتناکې دره دهفت چاه سیمې، لنډي کوتل، سیبې اوپشین دکوژک تر غره پورې او دافغانستان استقلال رسماً دښمن ته تسلیم کړ.

انګلیسان ددې فتحې څخه ورسته خپلونو وسرحدا تو ته عقب نشنیې وکړه او قندهار څخه وتل یې دهواتر سړیدو پورې معطل کړه.

امیر محمد یعقوب خان ګندمک څخه کابل ته راوګرځید او قندهار، ګرشک، قلات، ننګرهار او لغمان حکومتونه یې خپل ترونو او دترونو زامنو ته وسپارل او خپله دیو تماشاچې په حیث غافل کېناست یو میاشت وروسته سرلیوني کېوناري دسفیر په حیث دلوی هیئت سره چې (560) نفره عسکر هم ورسره وه په (24) جولایې (1879) م کې کابل ته راغی او دبالاحصار په بهترینه عمارت کې ځای ورکړل شو.

یو میاشت اوڅوورځی کیوناري فرصت درلوده چې دسفارت ترنقاب لاندې حکمراني ته لاس وړاندې کړي اما د کابل خلک او عساکر په (3) دسمبر (1879) م قیام وکړ او کېوناري دهغه هیئت او محافظینو سره ووژلو او دهغه کورته یې اور واچوه امیر محمد یعقوب خان امر وکړ چې دکابل عساکرو ته دې د (6) میاشتو تنخواه ورکړل شي او رخصت دې کړل شي دکابل عساکرو او سپهسالار ددې امر په عملي کولو کې دځنډ څخه کار واخست.

کله چې دانګلیس حکومت دخپل هیئت دبدانجام څخه خبر شو په انتقامي حمله یې شروع وکړه او دهرې جبهې څخه مخکې «جنرال فریدریک رابرتس» دکرم دمحاذ څخه دکابل په استقامت مارش وکړ امیر محمد یعقوب خان چې دکابل عسکري نظام یې مخکې څخه منحل کړی و دپکتیا، ننګرهار، او قندهار حاکمانو ته یې امر وکړ چې دانګلیسانو دعبور لارې دې خلاص پرېږدي او دفاع دي نکوي اوبیایې یو هیئت دصدر اعظم حبیب الله وردګ او وزیر خارجه میرزا شاه محمد خان په شمول په (20) دسمبر کال (1879) م کې کرم ته ولیږه اود رابرتس څخه دسوقیاتو دتوقف غوښتنه وکړه او وعده ورکړه چې کېوناري قاتلان به دستګیر او مجازات کړي.

البته رابرتس چې دټول افغانستان دنیولو نقشه یې په لاس کې وه ونه منله او هیئت یې بیرته وګرځوه پداسې حال چې سردار محمد ولي خان لاتی مخکې لدي دکابل څخه رابرتس ته ځان درسولی و او خپل ځان یې دانګلیس خدمت ته وړاندې کړی و.

امیر محمد یعقوب خان دهیئت څخه وروسته خپله هم ددوه سوه سپرو او (45) نفره سردارانو او محمد موسی خان ولیعهد په شمول دلوګر دخوشی سیمې ته لاړ او (27) دسپتمبر پورې خپل مکاتبې ته رابرتس سره دوام ورکړ تر دې وخته پورې «بریګدیر جنرال

بیکر)) دخوشی سیمه خپل دعساکرو مرکز گرځولی و همداچې رابرتس دخوشی سیمی ته ورسید امیر محمد یعقوب خان ورسره په مذاکراتو پیل وکړاو خپل پخوانی دوستی دانګلیسانوسره او دګندمک دمعاهدی منل یې ورته یاد کړل.

اماپه (3) داکتوبر (1879) م رابرتس امیر محمد یعقوب نظربند او ځان سره کابل ته روان کړ اوپه (6) داکتوبر کابل ته ورسید اوپه سیاسنګ اودهغی په شاوخوا تپو کې خپل عساکر ځای پر ځای کړ امیر محمد یعقوب تقریبا دوه میاشتی دانګلیسانو په نظامی کیپ تپه مرنجان کې په یوه خیمه کې دانګلیسانوسره بندی پاتی شو دکابل اوبالاحصار نیولو څخه وروسته په (12) داکتوبر (1879) م کال کې دبالاحصار دورانولو اعلان وکړ اوپه همدی ورځ یې دامیر محمد یعقوب خان استعفی دافغانستان سلطنت څخه واخیست ځکه امیر محمد یعقوب خان نه غوښتل چې درابرتس دعوت له مخی دبالاحصار دورانولو په ورځ هلته حاضروي انګلیسانو امیر محمد یعقوب خان دخپل هیواد او ملت پرضد داستعمالولو څخه وروسته نور هغه ته احتیاج نه درلود اوپه اول ددسمبر کال (1879) م کې هغه هند ته تعبید کړ او هغه تر هغی پوری هلته دانګلیسانو حمایې لاندی ژوند کاوه تر څو مړ شو.

—